تدريجي مرګ

ښځې او نجونې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې

AMNESTY INTERNATIONAL

د ښځينې نړيوال سازمان د ۱۰ مليونه خلکو خوځښت دی چې په دې ټولو کې د بشرپالنې حس ته انګېزه ورکوي او د بدلونونو لپاره کمپاين کوي ترڅو موږ ټول وکولای شي بشري حقونو ته لاسرسی ولرو.

زموږ لرليد دا دی چې داسې نړۍ ولرو چې په قدرت کې کسان خپلې ژمنې عملي کړي، نړيوالو قوانينو ته درناوی ولري او ځان مسئوله وګڼي.

موږ له هېڅ ډول حکومت، سياسي آيډيالوژۍ، اقتصادي ګټو يا مذهب سره اړيکه نه لرو او د خپلو غړو سازمانونو او شخصي بسپنو په واسطه تمويلېږو.

موږ باور لرو چې له خلکو سره د مشارکت او مهربانۍ په چوکاټ کې تعامل کول کولای شي په هر ځای کې زموږ په ټولنو کې مثبت بدلون رامنځ ته کړي.

د ښځينې نړيوال سازمان ۲۰۲۲
پرته له هغو مواردو څخه چې بل ډول ونښودل شي، د دې سند محتوا د Creative Commons
(اختيار، غير تجارتي، پرته له مشتقاتو څخه، بين المللي ۴,۰) جواز مطابق معتبر دی
https://creativecommons.org/licenses/by-nc-nd/4.0/legalcode

د نورو معلوماتو لپاره زموږ په وېبسايټ کې د اجازې پاڼې ته مراجعه وکړئ:
www.amnesty.org

که چېرې د دې موادو اختيار پرته د ښځينې د نړيوال سازمان څخه د کاپي د حق بل مالک ته ورکړل شي، نو دا مواد د Creative Commons له جواز څخه ووځي.

لومړی ځل په ۲۰۲۲ کال کې د ښځينې د نړيوال سازمان له خوا نشر شول Amnesty International Ltd
Peter Benenson House, 1 Easton Street, London WC1X 0DW, UK

د شا عکس:
يوې افغان مېرمنې په خپل کور کې انځور اخيستی.
© Kiana Hayeri / دښځينې د نړيوال سازمان سره محفوظ دی

ASA 11/5685/2022 Pastho :شاخص
اصلي ژبه: پښتو

amnesty.org

فهرست

نقشه	**۳**
۱. اجرآتو خلاصه	**۴**
۲. میتودلوژي	**۱۰**
۳. مخینه	**۱۲**
۴. په مېرمنو او نجونو باندې د طالبانو محدودیتونه	**۱۶**
۴/۱ مخینه	۱۶
۴/۲ تعلیم	۱۸
۴/۳ کار	۲۸
۴/۴ په آزاد ډول ګرځېدل او د محرم محدودیتونه	۳۳
۴/۵ جامې	۳۷
۵. جنسي تاوتریخوالی	**۴۱**
۵/۱ د سیستم نړېدل، د زندانیانو آزادېدل	۴۲
۵/۲ تاوترخوالې قربانیانې په جدي ګواښ کې	۴۳
۵/۳ ساتونکي چې حفاظت ته اړتیا لري	۴۵
۵/۴ نویو دوسیو ته عدم رسیدګي	۴۵
۶. د "اخلاقي فساد" او تاوتریخوالي له امله د تېښتې په تور په خپل سري ډول د نجونو او مېرمنو نیول	**۴۸**
۶/۱ خپل سرې نیونې او زنداني کول	۴۹
۶/۲ د توقیف پر مهال خشونت	۵۱
۶/۳ آزادېدل او د تقویف پایلې	۵۳

۷. د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه ۵۶

۷/۱ د لوړوالي کچه ۵۷

۷/۲ د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو عوامل ۵۸

۸. سوله ییز لاریون کوونکي ۶۸

۸/۱ د ګرزېدو سرچینې ۶۹

۸/۲ د لاریون پر مهال ناوړه چلند ۷۰

۸/۳ د لاریون کوونکو مخفي کېدل ۷۳

۸/۴ خودسرانه نیول ۷۳

۸/۵ د توقیف پر مهال خشونت ۷۵

۸/۶ آزادېدل ۷۷

۹. د بین المللي قوانینو تطبیق ۷۹

۹/۱ د تعلیم حق ۷۹

۹/۲ د کار او عامه ګډون حق ۸۱

۹/۳ د خوځښت د آزادۍ حق ۸۱

۹/۴ د بیان، راټولېدو، سوله ییزو غونډو او مذهب د آزادۍ حق ۸۲

۹/۵ د جنسیت پر اساس خشونت ۸۳

۹/۶ د توقیف پر مهال تاوتریخوالي ۸۴

۹/۷ د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه ۸۶

۱۰.نتیجه ګیري او وړاندیزونه ۸۸

نقشه

N
ازبکستان
تاجکستان
ترکمنستان
مزاری
شریف
کندوز
بلخ
بغلان
میمنه
کابل
جلال آباد
هرات
افغانستان
گردیز
غزني
خوست
کندهار
پاکستان
هند
ایران
۲۰۰ کلومیتره
د اساسي نقشې ډېټا: ESRI

۱. اجرآتو خلاصه

"په افغانستان کې د ښځو لپاره دا یوه تدریجي مړینه ده."

خبریاله عادله

طالبانو تر یوه کال نه په کمه موده کې د افغان مېرمنو حقونه تضعیف کړي دي. په هېواد کې د طالبانو د بیا واکمنېدو سره سم، هغوی ژمنه وکړه چې د ښځو او نجونو له حقونو به دفاع کوي. هغوی تر دې دمه د تحصیل، کار او په آزادانه ډول د ژوند کولو په برخه کې د ښځو او نجونو حقوق نقض کړي دي، د کورني تاوتریخوالي له امله د فراري مېرمنو او نجونو د خوندي ساتنې سیستم یې له منځه وړی، د طالبانو له تبعیضي پالیسیو څخه د سرغړونې په تور د مېرمنو او نجونو نیول د دې لامل شوي چې د تروخت مخکې او اجباري ودونو کچه لوړه شي. هغو مېرمنو چې په سوله ئیز ډول یې د طالبانو د دغو تګلارو او پالیسیو پروړاندې غږ پورته کړی، د ځورونې، ګواښ، نیولو، په اجباري ډول د کوچېدو، حبس او ربړولو سره مخ شوې دي.

د مېرمنو او نجونو پروړاندې د طالبانو د تاوتریخوالی لمنه هره میاشت په پراخېدو ده. په افغانستان باندې د طالبانو له واکمنېدو وروسته په یوه کال کې د دغې ډلې سخت دریځه پالیسی د دې لامل شوې چې په ملیونونو مېرمنې او نجونې د خوندي، آزاد او مثمره ژوند کولو له حق څخه محرومې شي. د یوې افغان مېرمنې له قوله، هغوی په تدریجي مرګ باندې محکومېږي. د افغان مېرمنو او نجونو لپاره د اعدام حکم یوازې او یوازې د طالبانو لخوا په خپلو پالیسیو کې د پراخ بدلون په واسطه له منځه وړل کېدی شي. نړیواله ټولنه باید په بېړه یوه داسې قوي، همغږه او اغېزمنه ستراتیژي جوړه او تطبیق کړي چې له مخې یې په طالبانو باندې فشار راوړل شي ترڅو په خپلو پالیسیو کې دغه بدلونونه رامنځ ته کړي.

د بخښنې نړیوال سازمان د ۲۰۲۱ کال له سپټمبر څخه تر ۲۰۲۲ جون پورې، په افغانستان کې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې د مېرمنو او نجونو په اړه یوه څېړنه ترسره کړه چې له مخې یې د ټولټال ۹۰ افغان میرمنو او ۱۱ نجونو سره پکې مرکې شوې دي. د دغو مېرمنو او نجونو عمرونه چې د افغانستان د ټولټال ۳۴ ولایتونو له ډلې له ۲۰ هغو څخه دي، له ۱۴ تر ۷۴ کلونو پورې دي. د بخښنې نړیوال سازمان همدارنګه د طالبانو د محبسونو له شپږو فعلي یا پخوانیو چارواکو، د ملي او نړیوالو مؤسساتو (NGOs) او د ملګرو ملتونو (UN) د ۲۲ تنو مسؤلینو او همدارنګه د ۱۰ تنو ملي او بین المللي افغان متخصصینو او خبریالانو سره هم مرکې کړې دي. څېړنه په افغانستان کې د ۲۰۲۲ کال د مارچ میاشتې له ۴مې تر ۲۰مې پورې د حضوري او همدارنګه د غیر حضوري مرکو له لارې ترسره شوه.

راپور د هغو خپلمنځي محدودیتونو او تعذیراتو په اړه تشریح ورکوي چې افغان مېرمنې او نجونې پکې راګېر دي. دا راپور ښئي چې د طالبانو لخوا د هر حق تر پښو لاندې کول څنګه کولی شي د نورو حقونو د مراعات کولو لپاره

ناوړه پایلې ولري. په ټوله کې د طالبانو تګلارې یو ډول د سرکوبۍ سیستم تشکیلوي چې د افغان مېرمنو او نجونو د ژوند په ټولو اړخونو کې تبعیض ته لاره هواروي.

د ۲۰۲۲ کال د جون په ۱ ی، د بخښنې نړیوال سازمان په یوه لیک کې د دغه راپور مهمې برخې د کورنیو چارو وزیر امیرخان متقي او د کار او ټولنیزو چارو وزیر عبدالولي ته په ډاګه کړې. خو د ۲۰۲۲ کال د جولای تر ۱۵مې پورې چې رپوټ نهایي شوی وا، پدې اړه مو هیڅ ځواب نه و ترلاسه کړی.

په مېرمنو او نجونو باندې د طالبانو محدودیتونه

طالبانود خپلې واکمنۍ راهیسې یو لړ تګلارې فرمانونه او لارښوونې صادرې کړې دي چې له مخې یې په افغانستان کې د تحصیل، کار، په آزاد ډول د ګرځېدو او جامو په تړاو د بشر، مېرمنو او نجونو حقوق نقض کړي دي.

د تعلیم په برخه کې طالبانو ډېرى نجونې له شپږم ټولګي څخه د لوړو ټولګیو نه محرومې کړې دي.

طالبانو د ۲۰۲۲ کال د مارچ په ۲۳مه له نجونو وغوښتل چې متوسطه ښوونځیو "ته لاړې شي، دقیقا په هماغه ورځ دوی بیا اعلان وکړ چې نجونې دې د "فني ستونزې له امله چې په یونیفورم پورې اړه لري، په خپلو کورونو کې پاتې شي. ۲۵ کلنه فاطمه د ننګرهار ولایت د یوه عالي ښوونځي ښوونکې د خپلو زده کوونکو احساسات داسې خلاصه کوي: "د دغو ځوانو نجونو یوازینۍ هیله دا وه چې روښانه راتلونکې ولري، خو اوس هغوی خپله راتلونکې روښانه نه ویني... په ملیونونو افغان نجونې د اقدام لپاره په تمه دي."

په پوهنتونونو کې د طالبانو لخوا د ښځنه محصلینو ربړول، همدارنګه محصلینو سره د چلند، جامو او فرصتونو په برخه کې محدودیتونه د دې لامل شوي چې د ښځینه زده کوونکې لپاره د نارینه و په پرتله د زړه کړې چاپېریال خوندي نه وسي. په پایله کې ګڼ شمېر ښځینه محصلینو پوهنتونونه پرېښې او یا یې هم دا پرېکړه کړې چې په پوهنتون کې شمولیت و نه کړي. د طالبانو تر واکمنۍ لاندې د محدودو کاري فرصتونو له امله زده کړې ته د نجونو او ښځو د لاسرسي په برخه کې ګڼ شمېر ننګونې لکه په آزادانه ډول د هغوی په تګ راتګ باندې محدودیتونه، د ښوونکو نه شتون او د زده کوونکو عدم تشویق د دې لامل شوې چې د هغوی د ژوندانه په ټولو اړخونو باندې اغېز ولري.

طالبانو په ټول هېواد کې مېرمنې له دندې راګرزولې دي. له هغو مېرمنو پرته چې په ځانګړي سکتور لکه د روغتیا او تعلیم په برخه کې کار کار کوي، ډېرى ښځینه دولتي کارکوونکو ته ویل شوي چې په کور کې پاتې شي. په خصوصي سکتور کې ګڼ شمېر ښځې له لوړو مقامونو لرې کړای شوې دي. د طالبانو له تګلارو داسې ښکاري چې هغوی به یوازې هغو مېرمنو ته د کار کولو اجازه ورکوي چې د بدیل لپاره نارینه و نه لري. هغو مېرمنو چې خپلو دندو ته یې دوام ورکړی، د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغو دې پایلې ته رسېدلې دي چې د جامو اغوستو او چلند لکه نارینه ډاکټر ته د ښځینه وو د مراجعه کولو او د نارینه و همکارانو سره د ښځینه و هغو د تعامل په برخه کې د طالبانو محدودیتونه ډېر جدي دي.

د کار کولو په برخه کې د طالبانو محدودیتونو ګڼ شمېر هغه مېرمنې ناهیلې کړې دي چې د خپلې کورنۍ لپاره یوازینۍ عاید یوازینی یا اساسي عائد لرونکی ګڼل کېږي. لکه اداري کارکوونکې فریده چې وایي: "کله چې ننګرهار سقوط وکړ، نو دفتر یې بند شو... دا ځکه چې د طالبانو د پالیسیو له مخې نارینه او ښځینه نه شي کولی ګډ کار وکړي... [زما کورنۍ] دوه اونۍ داسې تېرې کړې چې په کور کې به ډوډۍ نه وه. پخوا به ما کله هم دا فکر نه کاوه چې په دسترخوان به مو ډوډۍ و نه لرو."

په مېرمنو او نجونو باندې آزاد فعالیت په برخه کې د طالبانو محدودیتونه ورځ تر بلې ظالمانه کېږي. په پیل کې هغوی مېرمنو ته امر وکړ چې د اوږد واټنه سفر پرمهال باید ځان سره محرم یا نارینه ولري. په دا ورستیو کې فرمان صادر کړ چې مېرمنې نه شي کولی له اړتیا پرته له کور څخه د باندې ووزي. مېرمنو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د آزادانه ګرځېدو او په عامه ځایونو کې له محرم پرته د هغوی د حضور په برخه کې ګڼې شمېر بندیزونه د دې لامل شوي چې د جدي ګواښونو سره مخ شي. هغوی زیاته کړه چې د محرم اجباري کېدل د دې لامل شوي چې تقریبا و نه شي کولی خپل ژوند مدیریت کړي.

د مېرمنو او نجونو لپاره د شرعي حجاب په برخه کې د طالبانو محدودیتونه ورځ تربلې شدید کېږي. د ۲۰۲۲ کال د مې په ۷مه، د امر بالمعروف او نهې له منکر وزارت یو داسې فرمان صادر کړچې له مخې یې مېرمنې اړ دي خپل بدن له سره تر پښو پټ کړي. د دغه فرمان په اساس د کورنۍ نارینه مشر په خپلو مېرمنو باندې د دغه نوي قانون د عملي کېدو مسؤلیت لري، او کېدی شي د خپلو مېرمنو او نجونو لخوا له دغه قانون څخه د سرغړونې په صورت کې د کورنۍ مشر مجازات شي. ۲۷ کلنه زینب چې د دایکنډي ولایت اوسېدونکې ده، د دغه فرمان پروړاندې خپل غبرګون موږ سره داسې شریک کړ: "ولې باید موږ خپلې څېرې پټې او هغه څه مخفي کړو چې حقیقت دی؟... ما ټول عمر [ټیکری] په سر کړی، خو زه نه غواړم خپل مخ پټ کړم... زه دمګړۍ چې تاسو سره د خپل مخ د پټولو په هکله خبرې کوم، ساه نه شم اخیستی."

جنسي تاوتريخوالی

د ۲۰۲۱ کال تر اګسټ میاشتې پورې هغو مېرمنو او نجونو په ملي کچه د مېرمنو د خوندي ساتنې خدماتو لکه قانوني وکالت طبي پالنې او رواني ملاتړ ته لاسرسی درلود کومې چې د جنسي تاوتريخوالي قرباني وې. د مېرمنو او نجونو پروړاندې د تاوتريخوالي دوسیو ته د ځانګړو څانګو او محاکمو لخوا رسیدګي کېدله. په دغه سیستم کې د ځانګړیو مقرراتو او محدودیتونو له مخې هر کال په زرګونو مېرمنو او نجونو ته خدمات عرضه کول. په افغانستان باندې د طالبانو له واکمنېدو سره دغه سیستم له منځ لاړ. د مېرمنو لپاره د امن کورونه وتړل شول او ډېری هغه یې د طالبانو لخوا لوټ یا د هغوی په ولکه کې راغلل. په ځینو مواردو کې د طالبانو ځینو کسانو د یادو مرکزونو د کارکوونکو سره تاوتريخوالی کړی یا یې ګواښلي دي. د امن خونو د بندېدو سره سم کارکوونکي اړ شول چې ډېری قرباني شویې مېرمنې او نجونې بېرته خپلو کورنیو ته واستوي. نورې قرباني شوېې مېرمنې اړ شوې چې د یادو مرکزونو د کار کوونکو سره په سړکونو یا نورو ناخوندي ځایونو کې ژوند وکړي. په هېواد باندې د طالبانو د ناڅاپي واکمنېدو سره سم، هغوی په سیستماتیک ډول زندانیان له زندانونو خوشي کړل چې ګڼ شمېر یې هغه کسان وو چې په ښځو سره د تاوتريخوالي په جرم محکوم شوي وو.

د جنسي تاوتريخوالي قربانیان او هغه مېرمنې چې په دغو مرکزونو کې یې دنده ترسره کړې وه، اوس د مرګ د ګواښ سره مخ دي. په ورته وخت کې هغه مېرمنې او نجونې چې د طالبانو له واکمنېدو وروسته یې د تاوتريخوالي دوسیې پرانیستې، د خپل غږ اورېدو لپاره ځای نه لري. فاطمه چې د نهو میاشتو مېندواره وه، د بخښنې نړیوال سازمان سره مرکه درلوده. هغه د خپل خاوند لخوا د تاوتريخوالي له امله له تېښتې وروسته په ناهیلۍ سره د یوه داسې خوندي ځای په لټه کې وه چې ژوند پکې تېر کړي. هغې زیاته کړه "له دې مخکې هغه مهال چې دلته د مېرمنو لپاره د امن خونې وې، نو زه به هلته ورتلم. اوس هغه خدمات نشته او نه شي کولی نوې دوسیې ومني. اوس زما لپاره هېڅ ځای نشته."

د "اخلاقي فساد" له امله په خپل سري ډول د مېرمنو او نجونو نیول او د ناوړه استفادې له امله د هغوی تېښته

د هغو څلورو تنو په وینا چې د طالبانو د محبسونو کارکوونکي دي، طالبانو له خپلو تبعیض آمېزه پالیسیو لکه له شرعي محرم او په عامه ځایونو کې له نارینه و پرته د هغوی د ګرځېدو له پالیسیو څخه د سرغړونې په تور په

خپل سر مېرمنې او نجونې نیولې او حبس کړې دي. نیول شوې مېرمنې معمولا په "مبهم ډول" د "اخلاقي فساد" په تور نیولې شوې دي. همدارنګه دغو څلورو تنو کارکوونکو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د جنسي تاوتریخوالي قربانیانې چې پخوا یې په دغو مرکزونو کې ژوند کاوه اوس بېرته نیولې کېږي او د افغانستان په دوه و محبسونو کې بندیانې دي. نجونې او مېرمنې چې د "اخلاقي فساد" د ادعا یا له تاوتریخوالي څخه د هغوی د تېښتې په تور په خپلسري ډول نیولې شوې دي، قانوني وکیل ته د لاسرسي له حق څخه محرومې شوې دي او په زندانونو کې د وهلو او بل هر ډول ناوړه چلند د ګواښ سره مخ دي او غیر انساني شرائطو کې شپې او ورځې صبا کوي.

په ۲۰۲۲ کې یو تن محصل د طالبانو لخوا د شرعي محرم اړونده محدودیتونو څخه د سرغړونې په تور ونیول شوو. هغې زیاته کړه چې له توقیف کېدو لنډه موده وروسته د طالبانو ځینو کسانو راته "د [یوې برقي آلې/ ټیزر]... په واسطه زما په اوږو، مخ، غاړه، او بل هرځای چې زړه یې وي، برقي شوکونه پیل کړي دي... هغوی به ماته د فاحشې [او] سپې الفاظ کارول... د طالبانو یو کس چې سلاح ورسره وه راته وویل، ،زه به تا ووژنم، او هېڅوک به و نه شي کولی چې ستا جسد پیدا کړي.،" هغې زیاته کړه چې د هغې زنداني کېدل هم ښائي د هغو نورو مېرمنو په څېر د هغې ژوند لکه کړي کومې چې د طالبانو لخوا زنداني شوې دي. "د افغان نجونو لپاره، زندان ته تګ تر مرګ کم نه دی... کله چې تاسو یو ځل له وره څخه داخل شئ، نو په تاسو باندې ټاپې وهل کېږي او نه شئ کولی هغه پاکې کړئ."

د ماشومانو ودول، له وخت مخکې ودول او جبري ودونه

د بخښنې نړیوال سازمان د هغو څېړنو له مخې چې په افغانستان کې د فعالو ملي او بین المللي بنسټونو، ځائي فعالینو او نورو کارپوهانو په مرسته ترسره شوې ده، ښئي چې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې افغانستان کې ماشومانو سره د ودونو، له وخت مخکې ودونو او جبري ودونو کچه مخ په لوړېدو ده. دغه زیاتوالی د څو یو له بل سره مرتبطو لاملونو له وجې دی چې ګڼ شمېر لاملونه یې په افغانستان باندې د طالبانو له واکمنېدو وروسته د هغوی د اقداماتو او پالیسیو سره تړاو لري. تر ټولو مهم لامل یې اقتصادي او بشري ناورین، بې علمي، طالبانو سره له واده کولو د منع په برخه کې عدلي تعقیب ته د کورنیو اړتیاوې، د کورنۍ لخوا د مېرمنو او نجونې مجبورول چې باید طالبانو سره ودونه وکړي، او د طالبانو لخوا په جبر واده ته د هغوی اړ ایستل، ګڼل کېږي.

د افغانستان د مرکزي ولایت اوسېدونکې ۳۵ کلنې خورشید د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل، چې په افغانستان کې د اقتصادي ناورین له امله هغه اړ شوې ده ترڅو د ۲۰۲۱ کال په سپټمبر کې خپله ۱۳ کلنه لور د ۶۰,۰۰۰ افغانیو په بدل کې (چې شاوخوا ۶۷۰$ امریکایي ډالر کېږي) خپل ۳۰ کلن ګاونډي ته ورکړي. هغې زیاته کړه چې د خپلې لور له واده وروسته هغې ساه واخیسته. خورشید زیانه کړه چې "دا به نوره ورې نه پاتې کېږي". همدارنګه هغې وویل چې دا اوس د خپلې ۱۰ کلنې لور د ودولو په اړه غور کوي، خو هغه دغه کار ته خوشاله نه وه، ځکه هغې دا هیله درلوده چې دغه لور به یې په راتلونکې کې د خپل کور لپاره ډوډۍ ګټي. هغې زیاته کړه چې "لور یې تر پینځم ټولګي پورې زده کړې. ما غوښتل چې هغه نورې زده کړې هم وکړي. خو هغه به له دې وروسته لیکل، لوستل، زده کړه او د انګلیسي ژبې زده کړه و نه شي کولی... ما دا هیله درلوده چې زما له دغې لور څخه به یو شی جوړ شي، او له خپلې کورنۍ څخه به ملاتړ وکړي. دا طبیعي ده چې که چېرې طالبان ښوونځي نه پرانیزي نو به هغه ودوم."

سوله ئیز لاریونوال

د طالبانو لخوا وضع شوی سیستماتیک تبعیض د دې لامل شوی چې په ټول افغانستان کې ګڼ شمې مېرمنې او نجونې په سوله ئیز ډول لاریونونه وکړي. طالبانو د بیان د آزادۍ، د غونډو او ټولنو په برخه کې د دغو مېرمنو

افغان مېرمنې انځورونه اخلي. © Kiana Hayeri / دبښنې د نړیوال سازمان سره محفوظ دی

حقونه ترپښو لاندې کړي دي او هغوی یې د لاریون پرمهال د ډبولو او ټیزرونو په واسطه د برقي شوک په ګډون ځورولې دي او تاوتریخوالی یې ورسره کړی دی.

د ۲۰۲۲ کال د مې په ۳۰مه د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي وویل، "په تېرو نهو میاشتو کې حتی د سیاسي ملحوظاتو او د حکومت پروړاندې د راپورته کېدو له وجې هم په ټول افغانستان کې یوه مېرمن نه ده زنداني شوې." دا ادعا حقیقت نه لري. د ۱۲ هغو مېرمنو سره د مرکې په اساس چې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته یې په لاریونونو کې ګډون درلود، پینځه مېرمنې زنداني شوې دي، د بخښنې نړیوال سازمان موندنې ښئي چې ګڼ شمېر ښځینه لارینوالې په خپل سر توقیف شوې دي، زندانونو ته استول شوې دي، په زور له صحنې ایستل شوې دي، ډبول شوې دي او نور هر ډول بدرفتاری ورسره شوې دي.

په ۲۰۲۲ کې یوه مېرمن چې په ګڼ شمېر لاریونونو کې یې ګډون کړی و، توقیف شوې وه او د ۱۰ ورځو لپاره زنداني شوې وه. هغه په زندان کې د چلند په اړه داسې وایي: "[د طالبانو ساتونکي] همېشه زما اتاق ته راتلل او ماته به یې زما د کورنۍ تصویرونه ښودل. هغوی به په دوامداره توګه راته ویل... ،مور کولی شو هغوی ټول ووژنو، او ته به هېڅ هم و نه شې کولی... مه ژاړه، خان ته کېس یا دوسیه مه جوړوه. چې لاریون کوې، دا به دې حال وي."

هغې زیاته کړه کله چې په زندان کې وه، دوه ځله شدیده ډبول شوې ده. "هغې وویل دوی به ورونه راپسې بندول." هغوی زما په پلټلو پیل وکړ... [یوه طالب] راته وویل، ،ته یوه فاحشه یې... امریکا مور ته ستاسو د سپیانو له امله مور ته پیسې نه راکوي،... بیا هغه زه په لغته ووهلم. د هغه لغته چې په شا سره یې ټپي کړم، خورا قوي وه، همدارنګه هغه زه په زنې سره په لغته ووهلم... زه اوس هم د هغې لغتې له امله په خوله کې درد

لرم. کله چې خبرې کوم نو خوله مې درد کوي."

هغو ښځینه لاریونوالو چې د طالبانو لخوا نیول شوې وې، د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغوی کافي خوړو، تازه هوا، د تشناب سامان او روغتیایي پالنې ته لاسرسی نه درلود. د دې لپاره چې له بنده آزادې شي، مېرمنې به دې ته اړ ایستل کېدې ترڅو هغه "تړون" لاسلیک کړي چې له مخې یې له هغوی څخه دا تصدیق اخسیتل کېدا چې نور به دوی او د کورنۍ غړي یې په لاریونونو کې ګډون نه کوي او په زندان کې د هغوی د پالیسیو په اړه به چا ته نه وایي.

لازم اقدامات

طالبان د افغانستان د فعالو چارواکو په حیث باید تعلیم، کار او آزاد ژوند، او همدارنګه د تاوتریخوالي له امله د کور پرېښودو په نتیجه کې مېرمنو ته د رسېدلیو زیانونو د غرامت په برخه کې د مېرمنو او نجونو له حقونو ملاتړ وکړي. همدارنګه طالبان باید فورا خپل سرې نیونې او زنداني کول ودروي او د خلکو له ټولو حقونو لکه د مېرمنو او نجونو د سوله ئیز لاریون له حق څخه دفاع وکړي. طالبان ملیونونه مېرمنې او نجونې له خپلو هغو حقونو محرومويچې په نړیوالو قوانینو کې درج دي، هغوی باید فورا خپلې دغې تګلارې ته تغیر ورکړي.

د ابتدائیه او متوسطه ښوونځي مدیرې جمیلې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "[نړۍ] په هغه څه سترګې پټوي او نه یې اوري کوم چې دلته په موږ باندې تېرېږي، دا ځکه چې هغوی خپله له دا ډول کارونو څخه اغېزمن شوي نه دي. هغیو به یوازې هغه وخت موږ درک کړي چې دغه کار خپله هغوی سره وشي." نړیواله ټولنه باید وښئي چې هغوی د افغان مېرمنو او نجونو حالت درک کوي. دولتونه او نړیوال سازمانونه باید طالبانو ته واضح، متحد الهام لرونکی پیغام واستوي چې د مېرمنو او نجونو په برخه کې به د هغوی موجوده تګلارې هېڅکله دوی ته د منلو وړ نه وي او داسې جدي ګامونه پورته کړي چې له امله یې په طالبانو باندې د هغوی د تګلارو په برخه کې لازم فشار وارد شي. په دغو ګامونو کې باید د هغو فشاري لارو تشخیص او استفاده شامله وي چې وکولی شي په طالبانو باندې پرته له دې چې عام خلک ترې اغېزمن شي، فشار وارد کړي، لکه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا په هغوی باندې د سفرونو د بندیزونو لګول.

همدارنګه مرستندویه هېوادونه باید فورا په افغانستان کې د رامنځ ته کېدونکي انساني او اقتصادي ناورین د مخنیوي لپاره لاس په کار شي، هغه ناورین چې په رامنځ ته کولو کې یې نقش درلود او له امله یې د مېرمنو او نجونو حقوق تضعیف شوي دي.

مرستندویه هېوادونه باید په افغانستان باندې موجوده مالي تعذیرات چې د روغتیاپالنې، خوړو او نورو اساسي خدماتود چمتو کولو په برخه کې یې خنډونه رامنځ ته کړي دي، کم شي. همدارنګه هغوی باید د ملګرو ملتونو د استازولیو، غیر دولتي بنسټونو (مؤسساتو/ NGOs)، او په افغانستان کې د بشري حقونو د فعالو استازولیو، د سیمه ئیزه فعالانو او هغو بنسټونو سره په مشورې، د بیړني مالي ملاتړ او بشري مرستود عادلانه توضېع لپاره سیستمونه پیاوړي کړي کوم چې په یاد هېواد کې د تر ګواښ لاندې ډلو سره مرستې کوي.

تر دې د لوړې کچې خطر نور نه شي کېدی. که چېرې نړیواله ټولنه پدې برخه کې اقدام و نه کړي، نو په افغانستان کې به ملیونونه مېرمنې او نجونې بې برخلیکه پاتې شي او دا کار به د نړۍ په کچه نورو ته دا جرئت ورکړي چې د مېرمنو او نجونو له حقونو سرغړونه وکړي. لکه خبریاله صابره چې وایي "زموږ حقوق ستاسو حقوق دي... تاسو باید په افغانستان کې د مېرمنو او نجونو له حقونو دفاع وکړئ."

۲. میتودلوژي

دغه راپور د هغې څېړنې په اساس چمتو شوی کومه چې د ۲۰۲۱ کال له سپټمبر څخه تر ۲۰۲۲ جون پورې ترسره شوه. د بخښنې د نړیوال سازمان استازولیو په افغانستان کې د ۲۰۲۲ کال د مارچ له ۴مې تر ۲۰مې پورې څېړنه ترسره کړه. متباقي څېړنه د غیرحضوري مرکو له لارې ترسره شوه.

په ټوله کې د بخښنې نړیوال سازمان د دغه راپور د چمتو کولو لپاره د ۹۰ تنو مېرمنو او ۱۱ نجونو سره مرکې وکړې. د مرکه شویو مېرمنو او نجونو عمرونه له ۱۴ تر ۷۴ کلونو پورې ول. د بخښنې نړیوال سازمان هڅه وکړه چې خپلې مرکې د مختلف عمر لرونکو مېرمنو، ډلو، توکمونو او نجونو سره ترسره کړي. همدارنګه د بخښنې نړیوال سازمان هڅه وکړه چې د امکان تر حده د ټولو ولایتونو د کلیوالو او ښاري سیمو مېرمنو ته رسیدګي وکړي.

په دغه څېړنه کې د بخښنې نړیوال سازمان د لاندې ولایتونو د مېرمنو او نجونو سره مرکې وکړې: بدخشان، بادغېس، بلخ، بامیان، دایکنډي، غزني، غور، هلمند، هرات، کابل، کندوز، لغمان، ننګرهار، نورستان، پکتیکا، پنجشېر، سرپل، تخار، ارزګان او وردګ.

ځینو مېرمنو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان سره د مرکې پرمهال له خپلو اصلي ولایتونو څخه کوم ځای کې چې هغوی پخوا اوسېدې، کډه شوې وې. تقریبا ټولې دغه مېرمنې او نجونې لاهم په افغانستان کې اوسېدې. متباقي د طالبانو له واکمنېدو وروسته دریم هېواد ته کډې شوې وې.

د بخښنې نړیوال سازمان د ماشومانو، له وخت مخکې او اجباري ودونو په تړاو د هغو دریو سړیو او یوه هلک سره خبرې وکړې چې ښځو یا نجونو سره د تاوتریخوالي شاهدان او یا هم د قرباني شویو مېرمنو د کورنۍ غړي ول.

د دغه ریوټ د چمتو کولو په موخه ډېری ترسره شوې مرکې له دري یا پښتو ژبو انګلیسي هغې ته ژباړل شوې وې. متباقي مرکې په له ژباړونکي پرته په انګلیسي ژبه ترسره شوې وې.

د پورتنیو تشریح شویو مرکو سربېره، د بخښنې نړیوال سازمان د زندانونو د شپږو تنو اوسنیو او پخوانیو کارکوونکو چې له دې ډلې څلورو هغو یې د مېرمنو او نجونو په زندانونو کې دنده ترسره کوله، د ملي بنسټونو/مؤسساتو د اتو تنو کارکوونکو، د نړیوالو بنسټونو یا ملګرو ملتونو د ۱۴ غړو، او ۱۰ تنو هغو افغان او نړیوالو کارپوهانو سره هم مرکې وکړې چې په افغانستان کې د مېرمنو او نجونو د حقونو په برخه کې فعال ول. د بخښنې نړیوال سازمان همدارنګه د ملګرو ملتونو د استازولیو، نړویوالو او ملي بنسټونو او رسنیو لخوا چمتو شوي ریوټونه هم وکتل.

تقریبا ټولو مړکه شویو مېرمنو او نجونو د ځان او کورنیو غړیو د امنیت په اړه د اندېښنې له امله د نوم نه افشا کېدو غوښتنه کوله. چې د هغوی دغې غوښتنې ته په کتو سره د بخښنې نړیوال سازمان د هغوی ټولو لپاره له مستعار نامه کار اخیستی. د دې لپاره چې د هغوی محرمیت ساتل شوی وي، نه د حضوري مرکه شویو کسانو او نه هم د غیرحضوري مرکه شویو کسانو نېټه او آدرس په دغه رپوټ کې مشخص شوي دي. د هوئیت یا پېژندنې مهم معلومات لکه د مرکه شوي شخص د اوسېدو اصلي ځای په ځینو مواردو کې له رپوټ څخه پاک شوي دي. د مرکه شویو کسانو یاد شوي عمرونه د مرکې پرمهال مشخص شوي دي. همدارنګه د زندانونو د ساتونکو او نړیوالو او سیمه ئیزه غیر دولتی بنسټونو د کارکوونکو نومونه هم د هغوی په غوښتنه له رپوټ څخه حذف شوي دي، ترڅو د هغوی محرمیت او په افغانستان کې د کار کولو حق خوندي وي. په ډېری مواردو کې د غیردولتي بنسټونو د کارکوونکو، د ملګرو ملتونو د چارواکو او نور کارپوهانو سره د مرکې اخیستنې نېټې درج شوې دي.

د بخښنې نړیوال سازمان مرکه شویو کسانو ته د څېړنې د ماهیت او موخې او همدارنګه له دغو معلوماتو څخه د استفادې په اړه توضیح کړې ده. څېړونکو هر شخص سره له مرکې مخکې د هغوی شفاهي رضایت اخیستی. هر مرکه اخیستونکي ته ویل شوي چې کولی شي په هر وخت کې چې خوښه یې وي مرکه پای ته ورسوي او کومو پوښتنو ته چې خوښه یې نه وي ځواب ورانديې نه کړي. مرکه کوونکو ته د خبرو په بدل کې هیڅ ډول هڅونه نه ده شوې.

د ټولو اړونده مرکو لپاره د بخښنې نړیوال سازمان له پوره احتیاط څخه کار اخیستی ترڅو د مرکو ورکوونکو مېرمنو او نجونو لپاره ګواښ نه وي. له ماشومانو څخه پداسې شرائطو کې مخامخ مرکې واخیستل شوې چې د هغوی لپاره او/یا د هغوی د مصؤنیت لپاره خوندي وي. ترکومه ځایه چې ممکنه وه، له ماشومانو څخه د کورنۍ د یوه غړي، پالونکي، خور یا ورور، ملګري یا نورو مرقبت کوونکو اشخاصو په حضور کې مرکې واخیستل شوې.

د بخښنې نړیوال سازمان د ۲۰۲۲ کال د جولای په ۱ی نېټه په دغه رپوټ کې مندرجه مهمې موندې د یوه لیک له لارې د کورنیو چارو وزیر امیر خان متقي او د کار ټولنیز چارو وزیر عبدالولي ته واستولې. خو د هغوی لخوا مو د ۲۰۲۲ کال د جولای تر ۱۵مې نېټې پورې چې رپوټ نهایي شوی و، پدې اړه هېڅ ځواب ترلاسه نه کړ.

۲. مخینه

طالبان چې ځان ته د اسلامي امارت خطاب کوي، د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د پخواني دولت تر سقوط وروسته د افغانستان په رسمي چارواکو تبدیل شوي دي. دغه وسلواله ډله په ۱۹۹۴ کې په افغانستان کې د شوروي اتحاد له وتو وروسته د داخلي د کورنیو جګړو پرمهال رامنځ ته شوه. چې مشري یې ملا محمد عمر کوله او په ۱۹۹۶ کې یې کابل ونیو او تر ۲۰۰۱ [1] کاله پورې یې په ډېری افغانستان واکمني وکړه.

د امریکا متحده ایالاتو او ائتلافي ځواکونو د افغان ځواکونو په ملګرتیا په ۲۰۰۱ کې د شمالي ټلوالې په مرسته په افغانستان حمله وکړه او طالبان یې د واک له ګدۍ راکوز کړل. [2] د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ ائتلافي ځواکونو او افغان ولوال پوځ پراخ نظاملي عملیات ترسره کړل، طالبانو د وخت په تېرېدو سره بېرته سیمې ونیولې او خپل نفوذ یې په افغانستان کې پراخ کړ. [3] د ۲۰۲۰ کال په فبرورۍ کې د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ یو تړون لاسلیک شوو چې له مخې یې ژمنه وشوه چې د امریکا متحده ایالاتو او ناتو ټول ځواکونه به له افغانستانه وځي. په بدله کې یې طالبانو ژمنه وکړه چې په خپلو سیمو کې به د القاعده شبکې د فعالیتونو مخه نیسي او د افغان مرکچي پلاوي سره به مذاکرت کوي. [4] په دغه تړون کې د مېرمنو او نجونو د حقونو د خوندیتوب موضوع له پامه وغورځول شوه او د مېرمنو او نجونو د حقونو فعالانو ته په هغو مذاکراتو کې ځای ور نه کړل شوو چې پایله یې دغه تړون و.[5]

د ۲۰۰۱ کال په اپرېل کې د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر اعلان وکړ چې د ۲۰۲۱ کال تر سپتمبر پورې به خپل ځواکونه له افغانستانه وباسي.[6] د ۲۰۲۱ تر جولای پورې امریکا او ناتو نیژدې خپل ټول ځواکونه له افغانستان ویستل. له هغې وروسته طالبانو وکولی شول د اګسټ په ۶مه د یوې پراخې خونړۍ حملې په ترسره کولو سره لومړنی ولایتي مرکز د زرنج ښار چې د نیمروز په ولایت کې دی سقوط او په راتلونکو نهو ورځو کې د ډېری نورو

---

۱ د نړیوالې سولې لپاره د کارنیګي صندوق، "طالبان څوک دي؟"، carnegieendowment.org/2009/10/22/who-are-taliban-pub-24029 (د ۲۰۲۲ د مې په ۱۶مه لاسرسی ورته شوی).

۲ د نړیوالو اړیکې شورا، "په افغانستان کې د امریکا جنګ"، cfr.org/timeline/us-war-afghanistan (د ۲۰۲۲ د مې په ۱۷مه لاسرسی ورته شوی).

۳ د نړیوالو مداخلات د پام وړ تلفات سبب شوې دي. د بخښنې نړیوال سازمان دا راپور وګرئ، *په تیاره کې پاتې: د نړیوالو نظامي قدرتونو له خوا مدني تلفاتو ته د رسیدګی ناتواني* (شاخص: ASA، ۲۰۱۴/۰۰۶/۱۱) ۱۱ اګسټ ۲۰۱۴، amnesty.org/en/documents/asa11/006/2014/en/

۴ نیویارک ټایمز، "طالبان او له افغانستان څخه د امریکا د سرتېرو د ایستلو معامله"، ۲۹ فبروري ۲۰۲۰، nytimes.com/2020/02/29/world/asia/us-taliban-deal.html

۵ بهرنی پالیسي، "ښځې د افغانستان د سولې له پرسې څخه وایستل شوې"، ۳۰ مارچ ۲۰۲۱، foreignpolicy.com/2021/03/30/afghanistan-women-taliban-peace-talks-biden/

۶ سپینه ماڼی، "د افغانستان د چارو په هکله د ولسمشر بایډن څرګندونې"، ۱۴ اپرېل ۲۰۲۱، whitehouse.gov/briefing-room/speeches-remarks/2021/04/14/remarks-by-president-biden-on-the-way-forward-in-afghanistan/

ښارونو د سقوط لپاره لاره هواره کړي او بلاخره د ۲۰۲۱ کال د اګسټ په ۱۵مه پلازمېنه کابل ونیسي.[۷] له هغې وروسته تر دمګړۍ پورې هېڅ هېواد د طالبانو لخوا رامنځ ته شوې حکومت په رسمیت نه دی پېژندلی.[۸]

حتی د امریکایي او ناتو ځواکونو تر وتلو وړاندې هم افغانستان د لسیزو جګړو، وچکالۍ، لوږې او په نړیواله کچه د انزوال له امله یو له هغو هېوادونو څخه ګڼل کېدا چې د ترټولو لوی او پېچلي بشري ناورین سره مخ وي. په افغانستان باندې د طالبانو له واکمنېدو وروسته په یوه کال کې یاد هېواد د یوه لوی انساني او اقتصادي کړکېچ سره مخ دی.[۹] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د موندنو پربنسټ، دمګړۍ افغانستان هغه هېواد دی چې د نړۍ په کچه ترټولو ډېر وګړي یې "بېړنیو خوراکي مرستو" ته اړتیا لري او ۱۰٫۷ ملیونه کسان بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.[۱۰] د ۲۰۲۲ کال د اپرېل راهیسې شاوخوا ۹۵٪ خلک کافي خواړه نه لري چې وخوري.[۱۱]

سقوط ته د افغان اقتصاد د نیژدي کیدو دلیل ګڼ شمېر لاملونه لکه د بهرنیو مرستو تعلیق، چې پخوا یې د افغانستان د ناخالصو عوائدو ۴۵٪ جوړله، په بنسټیزه خدماتو لکه روغتیایي او تعلیمي خدماتو کې ټکنیتوب چې پخوا به د نړیوالې ټولنې په مرستو پورې تړلي و، د افغانستان د مرکزي بانک په رسمیت نه پېژندل، د افغانستان د ملي پانګې کنګلېدل، د لسګونو زرو افغان کدرونو د تېښتې له امله د بشري پانګې له لاسه ورکول، او په خصوصي او دولتي سکتورونو کې د مېرمنو نه ګډون، په ګوته شوي دي.[۱۲]

د طالبانو تر واکمنېدو مخکې یو لړ قوانین، بنسټونه او سیستمونه موجود ول چې د افغان مېرمنو او نجونو لپاره یې فعالیت کاوه. د مثال په ډول، د ښځو چارو وزارت چې د پلازمېنې کال په ګډون یې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې دفترونه درلودل، "د ښځو د حقه حقونو څخه د دفاع" په موخه ځانګړی شوی و.[۱۳] په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون چې د ښځو د حقونو لپاره یې ځانګړې څانګه درلوده د خپلو آتو سیمه ئیزه او شپږو ولایتي دفترونو له لارې، د مېرمنو د حقونو په بخره کې هغوی ته پوهاوی ورکاوه او د مېرمنو پروړاندې یې د تاوتریخوالي څارنه کوله.[۱۴] د جنسي تاوتریخوالي قربانیانو د امن کورونو او خدماتولکه اړونده قانوني استازولیو، د عدالت غوښتنې څانګو او ځانګړیو محاکمو، د فزیکي او رواني روغتیا خدماتو ته لاسرسی درلود.[۱۵] د تاوتریخوالي د قربانیانو دوسیې په ۲۰۲۲ کې د ښځو پروړاندې له تاوتریخوالي څخه د مخنیوي د قانون په مرسته دفاع کېدلې چې د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي ۲۲ پېښې یې د محرمو جرمونو په حیث په پام کې ونیولې.[۱۶] د دغو بنسټونو

---

۷ عامو وګړو ته د دې ناوړه کړنې د زیانونو په هکله د نورو معلومات لپاره، د بخښنې د نړیوال سازمان دا راپور وګورئ، *تېښته نشته: د طالبانو د سقوط پر مهال جنګي جنایتونه او عامو وګړو ته زیانونه* (شاخص: Index: ASA ۱۱/۵۰۲۵/۲۰۲۱) ۱۵ ډسېمبر ۲۰۲۱، amnesty.org/en/documents/asa11/5025/2021/en/، لومړی فصل

۸ ایکانومېسټ، "طالبان په رسمیت پېژندل کېدل غواړي، خو د ترلاسه کولو لپاره یې څه نه دي کړي"، ۱۴ مې ۲۰۲۲، economist.com/asia/2022/05/14/the-taliban-crave-recognition-but-refuse-to-do-anything-to-earn-it

۹ د بشري حقونو څارونکې اداره، "افغانستان: د بشري ناورینو اقتصادي ریښې"، ۱ مارچ ۲۰۲۲، hrw.org/news/2022/03/01/afghanistan-hunger-crisis-has-economic-roots

۱۰ "د خوړو د امنیت په مرحله کې همغږه شوې صنفبندي: افغانستان"، مې ۲۰۲۲، ipcinfo.org/fileadmin/user_upload/ipcinfo/docs/IPC_Afghanistan_AcuteFoodInsec_2022Mar_2022Nov_report.pdf

۱۱ یو ان نیوز، "د ملګرو ملتونو بشري حقونه له متحده ایالاتو څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان بنده شوې سرمایه آزاده کړي"، ۲۵ اپرېل ۲۰۲۲، news.un.org/en/story/2022/04/1116852

۱۲ نړیوال بانګ، "په افغانستان کې نړیوال بانک"، worldbank.org/en/country/afghanistan/overview#1 (accessed 17 May 2022). همدارنګه د بخښنې نړیوال سازمان دا راپور وګورئ، "افغانستان: دا هېواد باید مالي مرستې ترلاسه کړي ترڅو له بشري ناورین څخه وژغورل شي"، ۲۳ نومبر ۲۰۲۱، amnesty.org/en/latest/news/2021/11/afghanistan-country-must-have-access-to-funds-to-avoid-humanitarian-disaster/

۱۳ "د ښځو د چارو د وزارت تاریخچه"، د افغانستان د ښځو چارو وزارت، mowa.gov.af/en/mowa-history (د ۲۰۲۲ د جون په ۲۹مه لاسرسی ورته شوی).

۱۴ د افغانستان د بشري حقونو مستقل کمیسیون"، ecoi.net, ecoi.net/en/source/10940.html (accessed 29 June 2022).

۱۵ مرکې، ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲

۱۶ د ښځو پر وړاندې د خشونت د محوې کولو قانون (EVAW)، ۱ اګسټ ۲۰۱۹.

او سیستمونو محدودیتونه او نیمګړتیاوې په وضاحت سره مستند شوي ول، نو دې ته په کتو سره هغوی په افغانستان کې د مېرمنو د حقونو لپاره مهم تدابیر نیولي وو.[۱۷]

د مېرمنو د حقونو په برخه کې د نړیوالو فعالانو په وینا، د ۲۰۲۲ د جنوری راهیسې طالبانو د هېواد په ګڼ شمېر سیمیمو کې یو قانوني سیستم رامنځ ته کړی.[۱۸] طالبانو د یوي اعلامیې په ترڅ کې زیاته کړه چې د حکومت ټولې چارې به د شرعي قوانینو په رڼا کې تنظیمېږي.[۱۹] هغوی اعلان وکړ چې یوازې د طالبانو- باصلاحیته قاضیان کولی شي په دغه محاکمو کې کار وکړي، او عملا یې د ۲۵۰۰ قاضیانو جوازونه لغوه او د افغانستان د ۲۰۰۴ کال قانون یې وغانده. هغوی زیانه کړه چې په بدله کې به یې په مؤقطي ډول د افغانستان د ۱۹۶۴ کال د شاهي دورې ځانګړی قوانین او همدارنګه هغه نړیوال قوانین وضع کوي چې د هغوی په وینا د شرعې سره په تضاد کې نه وي.[۲۰] هغه طریقه چې له مخې به یې یاد قانوني سیستم خپلې چارې تنظیموي لا ترکار لاندې ده. د دغه قانوني سیستم د تنفیذ په طریقه لا کار روان دی او داسې ښکاري چې د افغانستان موقعیت ته په کتو سره دغه سیستم ډېر متقاوت دی. دا لا روښانه نه ده چې د دغه سیستم له مخې به مېرمنو او نجونو ته څه ډول حقوق ورکول کېږي. نو دې ته په کتو سره هغه قوانین چې له دې مخکې د مېرمنو او نجونو د حقونو څخه د دفاع په موخه د اړونده بنسټونو او سیستمونو لخوا استفاده کېدل، نور د تطبیق وړ نه دي.[۲۱]

۱۷ د بېلګې په توګه، د بشري حقونو څارونکې اداره وګورئ، *"ما فکر کولو چې شاید ژوند مو ښه شي": په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د خشونت د محوې د قانون تطبیق*، ۵ اګسټ ۲۰۲۱، hrw.org/report/2021/08/05/i-thought-our-life-might-get-better/implementing-afghanistans-elimination

۱۸ د ساتنې له نړیوالو فعالانو سره د غږیزې اړیکې له لارې مرکه، ۷ مارچ ۲۰۲۲ او ۹ جون ۲۰۲۲.

۱۹ واشینګټن پوسټ، "طالبانو وایي چې د شریعت قانون به تطبیقوي. دا په څه مانا ده؟"، ۱۹ اګسټ ۲۰۲۱، washingtonpost.com/world/2021/08/19/sharia-law-afghanistan-taliban/

۲۰ د ډېنمارک د مهاجرینو شورا، *د افغانستان د اوسني قضایي سیستم حالت*، مارچ ۲۰۲۲، د بخښنې نړیوال سازمان په همکارۍ سره. د جنسیت پر اساس د خشونت د قربانیانو د نورو خدماتو د نړېدو لپاره ۵م فصل وګورئ.

۲۱ د طالبانو د قضایي سیستم په هکله نورو څېړنو ته بېړنۍ اړتیا ده.

یوې افغان مېرمنې په خپل کور کې انځور اخیستی. © Kiana Hayeri / دبښښې د نړیوال سازمان سره محفوظ دی

۴. په مېرمنو او نجونو باندې د طالبانو محدودیتونه

"زه د افغانستان راتلونکې داسې وینم لکه زه چې همدا اوس پدا چوکۍ ناسته یم، پښې او لاسونه مې تړلي دي او نه شم کولی ځان وخوځوم. وروسته یو چا کړکۍ بنده کړه."

لېمه، د پوهنتون استاده[۲۲]

۴٫۱ مخینه

له هغې راهیسې چې طالبانو د ۲۰۲۲ کال په اګسټ کې په افغانستان واکې ټینګې کړې، هغوی ګڼ شمېر داسې تګلارې یا پالیسۍ ترتیب کړې دي چې له مخې یې په یاد هېواد کې د مېرمنو او نجونو بشري حقونه تر پښو لاندې کوي. په دغه څپرکي په څلورو لاندې عرصو کې د طالبانو لخوا وضوع شوي محدودیتونه بیانېږي: چې عبارت دي له تعلیم، کار، ګرځېدو او جامو اغوستو څخه. دا برخه نه د ۲۰۲۲ کال د اګسټ میاشتې راپدېخوا د طالبانو لخوا ټول وضع شوي محدودیتونه ښئي او نه هم د څلور تر پوښښ لاندې سیمو کې د جغرافیایي تطابق او تفاوت بشپړه ارزونه وړاندې کوي. همدارنګه طالبانو په نورو برخو کې لکه روغتیایي پالنې ته د مېرمنو او نجونو د لاسرسي په برخه کې هم محدودیتونه وضع کړي دي. بلکه د چېټر دا برخه د طالبانو لخوا هغه محدودیتونه بیانوي چې د ۲۰۲۲ کال د اګسټ میاشتې راهیسې وضع شوي دي او پدې برخه کې د مېرمنو او نجونو تجربې بیانوي.

د طالبانو لخوا د مېرمنو او نجونو په تړاو وضع شوي محدودیتونه اغلبا د امر بلمعروف او نهی منکر وزارت لخوا اعلان شوي دي.[۲۳] هغو میرمنو او نجونو چې د بخښنې نړیوال سازمان سره یې مرکې درلودې زیاته کړه چې د طالبانو تګلارې یا پالیسۍ په منظم ډول د نورو چینلونو لکه د ملي رسنیو، ټولنیزو رسنیو، تلوزیونونو او د طالبانو د مشرانو لخوا په عامه ځایونو کې نشر شوې دي. ګڼ شمېر هغو مېرمنو او نجونو چې د بخښنې نړیوال سازمان سره یې مرکې درلودې زیاته کړه چې ګڼ شمېر هغو خبري رسنیو چې د طالبانو په اختیار کې دي، دا کار سخت کړی چې د هغوی وروستي مقررات دې خلک درک کړي. د مثال په ډول، په کابل کې مېشته د غیر

۲۲ مرکه، ۲۰۲۲. د سرچینو د محرم ساتلو په موخه، د مرکه کوونکو سره د مرکې دقیقې نېټې او ځایونه نه دي مشخص شوي، همدارنګه دا هم نه دي مشخص شوي چې آیا له هغوی سره په افغانستان کې مرکه شوې وه او که له افغانستان څخه د باندې.

۲۳ نیو لاینز مجله، "په افغانستان کې رذیلت او فضیلت په مخ او مرکز کې دي"، ۲۵ اپریل ۲۰۲۲، newlinesmag.com/reportage/in-afghanistan-vice-and-virtue-are-front-and-center/

دولتي بنسټ () کارکوونکې ۲۷ کلنې یاسیمن داسې ووېل، چې ”[طالبان] په تلوزیوني شبکو، په فېسبوک او نور رسنیو کې مبصرینو، لیک واستوي... دا ستونزمنه ده چې دا ډول موارد دې تر څار لاندې ونیسي.“[۲۴]

د طالبانو د تګلارو اعمال په غیر متمرکز او نفوذي ډول ترسره شوی دی چې په دې سره په چک پواینټونو او ګزمو کې یې خپل سرتېرو ته په پراخه کچه اختیار ورکړی دی. د بخښنې نړیوال سازمان ته دریو تنو ښځو ویلي دي چې هغوی د ۲۰۲۲ کال له مارچ راپدېخوا د مهارف او امر بالمعروف وزارت استازي لیدلي دي چې په سړکونو باندې ګزمې کوي. مالي مشاورې ۲۱ کلنې هدا خپلې تجربې داسې موږ سره شریکې کړې: "هغوی په [خپلو] لاسپیرکونو کې ویل چې... ،ولې مو لنډې جامې اغوستې دي؟ ولې ستاسو پېښې ښکاري؟ خپل ټیکری سم کړئ. ولې مو هغه/هغې ته وکتل؟ ستاسو محرم چېرې دی؟... هغوی په هر ځای کې شتون لري.[۲۵]

مېرمنو او نجونو زیاته کړه چې د طالبانو نوی قانون همدارنګه د هغوی د ګاونډیانو او د ټولنې د نور غړیو لخوا پرې تطبیق شوی وا، په ځینو مواردو کې د هغوی د پالیسیو مطابق او په ځینو نور مواردو کې بیا د طالبانو لخوا د ځانګړیو لارښوونو له ترلاسه کولو وروسته. د ننګرهار پوهنتون محصله ۲۲-کلنه فېروزه وایي وروسته له هغه چې هغې په فېسبوک کې د جندر یا جنسیت په برخه کې د نویو قوانینو له امله د هغو ستونزو په اړه چې په پوهنتون کې دا او نورې مېرمنې ورسره مخ دي شکایت وکړ، هغه د خپل استاد لخوا د هغه دفتر ته احضار شوې وه. هغې زیاته کړه:

[زما استاد] وویل تاسو حق نه لرئ چې د طالبانو په اړه پوستونه وکړئ... تاسو باید حدیث او سلامي معلومات نشر کړئ... [هغه وویل] موږ نه غواړو چې محصلان مو په ستونزو کې راګیر شي. که غواړې خپل غړ اوچت کړې، هغوی به تاسو اخراج کړي... [ما درک کړه] چې که چېرې زه خپل دغه کار اوام ورکړم، نو زه به اخراج او کورنۍ به مې مجازات شي. اوس زه په فېسبوک باندې هېڅ نه نشروم... زما استاد... زیاته کړه چې طالبانو هغه ته لارښوونه کړې ده چې څه باید وکړي. هغوی ما سره مخامخ نه دي غبږېدلي.[۲۶]

هغه میرمني او نجوني چي د بخښنې نړیوال سازمان لخوا ورسره مرکې وشوې وایي چې په ډېری مواردو کې د طالبانو لخوا وضع شوي قوانین په هغوی باندې د خپلو کورنیو د غړیو لخوا تطبیق شوي دي. د افغانستان له مرکزي ولایتونو ۲۶ کلنه عسل خپلې تجربې داسې شریکوي: ”[زموږ کورنۍ] موږ ته وایي چې طالبانو په هېواد وکمن دي او موږ باید د هغوی اطاعت وکړو. هغوی اوس راته ځانونه طالبان جوړ کړي دي. هغوی موږ سره خپل چلند بدل کړی دی.“[۲۷] همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو کارکوونکي هم ورته خبره کوي او وایي، ”د کورنۍ اصول یا مقررات په جدیت او پاملرنې سره د تطبیق وړ دي... دا کار د ښځو پروړاندې د دوه ګوني چلند لپاره محیط رامنځ ته کوي، او په ښځو باندې حلقه نوره هم تنګوي.“[۲۸]

ګڼ شمېر مېرمنو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغه غیر متمرکز چارچوب چې له مخې یې نوي قوانین پلي کېږي د یوې له شخړې او وېرې ډکې فضا په رامنځ ته کېدو کې مرسته کړې ده چې له مخې یې هغوی ته لارښوونه کېږي چې د هغوی فعالیتونه او چلند تحمل کړي حتی تر هغه څه هم ډېر چې د طالبانو لخوا یې امر کېږي او تطبیقېږي. د مثال په ډول، په لغمان ولایت کې اوسېدونکې ۲۲ کلنه محصله حنیفه وایي،

۲۴ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۵ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۶ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۷ مرکه، ۲۰۲۲. د نورو جزئیاتو لپاره، وال سټریټ جورنال وګورئ، "وروسته د طالبانو له راتګ څخه، افغان ښځې د پلونو او وروڼو له خوا مجبوره/ځورول کېږي"، ۱۵ ډسېمبر ۲۰۲۲، wsj.com/articles/after-taliban-return-afghan-women-face-old-pressures-from-fathers-brothers-11639564204

۲۸ د ملګرو ملتونو د ښځو له سازمان سره مرکه، ۱۷ مارچ ۲۰۲۲، کابل.

”هغوی مور ته د سمیه ئیزه تلوزیوني شبکو، انسټګرام او ټویټر له لارې د [قوانینو] په اړه تبلیغات کوي. خو موږ ته د ویلو لپاره هیڅ ځای نشته... ډېری تبلیغات مبهم دي... دا ډول تبلیغات کولی شي په رښتیا سره سړی ګیچ کړي... هله حتی یو چکپواینټ هم نشته. موقعیت همېشه د تغیر په حال کې دی. نو وېره همېشه حاکمه ده.“[29]

۴،۲ تعلیم

”د زړه کړې حاصلولو د بشر لپاره یو خورا اساسي حق دی، خو موږ په خپله ټولنه کې له دغه حق څخه محروم یو.“

د ښوونځي مدیر جمیله[30]

وروسته له هغې چې په ۲۰۰۱ کې طالبان له واکه وغورځول شول، تعلیم، په ځانګړې ډول متوسطه ښوونځیو ته د نجونو لاسرسی د پام وړ وا، په ۲۰۱۸ کې چې په متوسطه ښوونځیو کې د نجونو ګډون ۴۰٪ وو، د ۲۰۰۳ کال د ۶٪ ګډون سره د مقایسې وړ نه وو.[31] تراوسه، مخکې له دې چې په هېواد باندې طالبان واکمن شي، افغانستان هغه هېواد و چې په ښوونیزه کچه د جنسیت یا جندر د نه مراعات کولو په برخه کې ترټولو بد ځای لري. د دغه کار لامل ګڼ شمېر فکتورونه ول، لکه څو لسیزې جګړې او په ټولنه کې د مېرمنو او نجونو لپاره تبعیض آمېزه معیارونه او پالیسۍ.[32] دغه عوامل د داسې شرائطو د رامنځ ته کېدو لامل شول چې د ۲۰۲۱ کال تر اګسټ مخکې یوازې ۳۷٪ نجونو کولی شول د ۶۶٪ هلکانو په پرتله لیکل او لوستل وکړي.[33]

نو پدې توګه حتی تر ۲۰۲۱ کال د مخه په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په سکتور کې د جنسیتي خلا د شتون سربېره له هغه راهیسې چې طالبانو په هېواد ولکه اخیستې ده، ښوونې او روزنې ته د مېرمنو او نجونو لاسرسی د پام وړ کم شوی. په پایله کې یې هغه لاسته راوړنې بېرته له لاسه وزي کومې چې له ۲۰۲۱ وروسته ترلاسه شوې وې. په دغه برخه کې هغه لارې چارې تشریح کېږي چې د هغې له لارې په هره برخه کې لاسرسی په ځانګړې توګه متوسطه او لوړو زده کړو ته د لاسرسي مخنیوی کوي. د دغوممانعتونو لامل په عملي ډول له شپږم ټولګي پورته زده کړو څخه د نجونو مخنیوی او نور هغه خنډونه دي چې د زده کوونکو له حضور څخه مخنیوی کوي، لکه په پوهنتونونو او ښوونځیو کې د جامې او په آزادانه ډول د ګرزېدو په برخه کې محدودیتونه.

۴،۲،۱د متوسطه ښوونځیو په کچه

د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر په ۱۷مه د طالبانو د معارف وزیر د یوې اعلامیې په خپرولو سره له ټولو نارینه ښوونکو او زده کوونکو څخه غوښتنه وکړه چې متوسطه ښوونځیو ته راشي، خو په دغه اعلامیه کې له ښځینه ښوونکو او

۲۹ مرکه، ۲۰۲۲.

۳۰ مرکه، ۲۰۲۲.

۳۱ تامسن رویټرز بنسټ، "د طالبانو بیا راګرځېدلو افغان نجونې له ښوونځي څخه منعه کړې"، ۲۳ مارچ ۲۰۲۲، news.trust.org/item/20210831110425-cvykj/

۳۲ یونیسف، "یونیسف: په افغانستان کې تعلیم"، www.unicef.org/afghanistan/education (د ۲۰۲۲ د جون په ۲مه لاسرسی ورته شوی). د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۷م فصل وګورئ.

۳۳ د نړیوال انکشاف لپاره د متحده ایالاتو اداره او اروپایي کمیسیون، "د افغانستان هېواد جنسیتي پروفایل – نهایي راپور: لنډه نسخه،" ۲۱ سپټمبر ۲۰۱۶، د بشري حقونو په څارونکې اداره کې یې حواله ذکر شوې ده، *"زه نه غواړم ډاکټر شم، او یوه ورځ به ته ناروغ شې": په افغانستان کې تعلیم ته د نجونو لاسرسی،* ۱۷ اکتوبر ۲۰۱۷، hrw.org/report/2017/10/17/i-wont-be-doctor-and-one-day-youll-be-sick/girls-access-education-afghanistan

زده کوونکو یادونه نه وه شوې.[34] دغه اعلامیه په متوسطه ښوونځیو کې د نجونو د نه حضور پیل و.

د طالبانو د نورو تګلارو په څېره دغه محدودیت په قاطع ډول تطبیق نه شوو. د ۲۹۲۱ کال له سپټمبر وروسته، د ښوونکو، نجونو او ټولنې د نورو غړو یا د سیمه ئیزه طالبانو د رهبرانو د ملاتړ له امله په ګڼو ولایتونو کې د نجونو متوسطه دولتي ښوونځي پرانیستل شول.[35] د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر د ۲۹۲۱ کال په ډسمبر کې اعلان وکړ چې په ټول هېواد کې د ۳۴ ولایتونو له جملې په ۱۰ هغو کې د نجونو متوسطه ښوونځي پرانیستل شول.[36] همدارنګه د هېواد په کچه ګڼ شمېر متوسطه ښوونځي لاهم پرانیستي دي په ځانګړي ډول د کابل په ښاري سیمو کې.

د ګڼ شمېر طالب استازو لخوا له میاشتنیو اشارو او مثبتو نظریاتو وروسته، د ۲۰۲۲ کال د مارچ په ۲۱مه طالبانو اعلان وکړ چې د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۲۳مه به د پسرلني سمستر په پیل کې نجونې او هلکان دواړه خپلو ښوونځیو ستانه شي.[37] همدارنګه د مارچ په ۲۳مه د سهار په 9am بجو، طالبانو اعلان وکړ چې د نجونو ښوونځي به تړلي پاتې شي. د طالبانو ویاند سهیل شاهین د نجونو د ښوونځیو په پرانیستو کې ځند "تخنیکي ستونزه" عنوان کړه او زیاته یې کړه چې معارف وزارت دمګړۍ کار کوي چې "د افغان جامو، کلتور او شریعت" مطابق د نجونو د یونیفورم یوه معیاري طرحه جوړه کړي.[38]

ښځینه ښوونکو او زده کوونکو د دغو دوامداره او غیر منطقي محدودیتونو پروړاندې خپل انزجار او غبرګون وښود. د کابل اوسېدونکې ۱۶ کلنې سارا د بخښنې نړیوال سازمان ته داسې وویل:

> **[دا] زما د ژوند ترټولو ترخه تجربه ده. زه ډېره خفه یم. ولې زه ښوونځي ته نه ځم، او ولې هغوی ما ته اجازه نه راکوي چې ښوونځي ته لاړه شم؟... هغوی وایي د یوې اونۍ ، میاشتې او داسې نورو لپاره انتظار وکړئ. بلاخره کال به تېر شي خو ښوونځي به مو پیل نه شي... هغوی کوم ډول چمتووالي ته اړتیا لري؟... آیا هغوی دا فکر کوي چې موږ هېڅ یو؟... نجونو خپله ټوله هڅه کړې ده ترڅو خپل هېواد جوړ کړي، نو ولې هغوی موږ له ښوونځي راګرزوي؟[39]**

۱۷ کلنې فوزیې وویل چې هغه په مارچ کې له نورستان ولایت څخه کابل ته راغلې ده ترڅو ۱۱م ټولګی پیل کړي. هغې د بخښنې نړیال سازمان ته وویل: "زه ډېره لېواله وم چې بېرته ښوونځي ته لاړه شم، خو هغوی موږ

---

۳۴ بي بي سي فارسي، د افغانستان ښوونځي پرانیستل شول اما پرته د نجونو له حضور څخه، ۱۸ سپټمبر ۲۰۲۱، /bbc.com/persian 58608405-afghanistan

۳۵ د افغانستان تحلیلګره شبکه، "د نجونو په تعلیم باندې بندیز: د طالبانو محافظه کاران د صعود په حالت کې او رهبري د سقوط په حالت کې"، ۲۹ مارچ ۲۰۲۲، -afghanistan-analysts.org/en/reports/rights-freedom/the-ban-on-older-girls-education-taleban conservatives-ascendant-and-a-leadership-in-disarray/

۳۶ اې پي، "طالبانو له امریکا او نورو پخوانیو دښمنانو سره د اړیکې نیولو په هڅه کې دي"، ۱۴ ډسمبر ۲۰۲۱، /apnews.com/article afghanistan-united-states-only-on-ap-kabul-taliban-c0475a3370ea219aabb3ded311911cc1. د بخښنې نړیوال سازمان راپور ترلاسه کړی چې د ۲۰۲۲ د مارچ راهیسې په یادو ولایتونو کې د نجونو ګڼ شمېر دولتي عالي ښوونځي تړل شوي دي، لکه هرات او بلخ ولایتونه. مرکې، ۲۰۲۲. د دې سربېره، په ځینو ولایتونو کې دولتي عالي ښوونځي خلاص شوي دي، خو د دې ښوونځیو د تدریس کیفیت او د نجونو لاسرسی لا هم تر پوښتنې لاندې دي. د بخښنې نړیوال سازمان په کندز ولایت کې له پینځو زده کوونکو او ښوونکو سره مرکه وکړه، او د طالبانو په وینا دا ښوونځي د ۲۰۲۱ د اکتوبر راهیسې پرانیستي دي. دې زده کوونکو او ښوونکو وویل چې د نجونو د حاضرۍ کچه په شدت سره ټیټه ده او طالبانو امر وکړ چې له نجونو څخه دې آزموینې نه اخیستل کېږي او په اتومات ډول دې راتلونکي ټولګي ته انتقال شي. د یوه دولتي ښوونځي د بیولوژي د ښوونکې په وینا، "یوازې یو محدود شمېر [نجونې ښوونځیو ته تللې... [مخکې] له ۴۰ څخه تر ۵۰ پورې او اوس شاید ۱۵ دانې... [طالبانو] وغوښتل چې له نجونو څخه دې آزموینې نه اخیستل کېږي او له هلکانو څخه دې واخیستل شي... د هغوی بهانه دا وه چې، 'موږ له نجونو سره نېکي کوو... موږ د هغوی په هکله فکر کوو او پر وړاندې یې انعطاف پذیر یو، ترڅو هغوی وکولی شي په راتلونکي کال کې راتلونکی ټولګي پیل کړي.'" مرکه، ۲۰۲۲.

۳۷ رویترز، "طالبانو د ثانوی ښونځیو د بند ساتلو امر کړی ده چې د زده کوونکو په سترګو کې د اوښکو لامل ګرځیدلی"، د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۲۴

۳۸ د بخښنې نړیوال سازمان، "افغانستان: د نجونو د ښوونځیو د بیا پرانیستول په هکله د طالبانو د ژمنې ماتول د نجونو په راتلونکي باندې معکوسه اغېزه لري"، ۲۸ مارچ ۲۰۲۲، -amnesty.org/en/latest/news/2022/03/afghanistan-talibans-backtrack-on-school-re-opening-for girls-irreversibly-impacts-their-future/

۳۹ مرکه، ۲۰۲۱.

ته اجازه را نه کړه چې ټولګي د ننه شو. هغه وايي چې طالبانو ورته وويل چې تاسو بايد تر اعلان ثانوي پورې په تمه شئ، او د اوس لپاره بېرته خپلو کورونو ته لاړې شئ... زه څنګه کولی ژوند وکړم؟... که چېرې زه و نه شم کولی یوه نرسه، یوه ډاکټره، یوه هنرمنده او یوه انجینیره جوړه شم، نو زه به څه شی وم؟"[40]

د عالي ښوونځي ښوونکې او د ننګرهار ولايت اوسېدونکې ۲۲-کلنې فاطمې وويل، "زه د خپلو زده کوونکو سره په اړيکه کې يم. د هغوی ی ځينې پرون زما کور ته راغلل. د هغوی ډېری اوس ناهيلې شوې دي. زما زده کوونکو غوښتل چې خبريالانې، انجينيرانې او ډاکټرانې جوړې شي... د دغو ځوانو نجونو يوازينۍ هيله دا وه چې يوه روښانه راتلونکې ولري، خو اوس دوی خپله راتلونکې سمه نهويني... په مليونونو افغان نجونې پدې برخه کې اقدام ته په تمه دي."[41]

همدارنګه ځ شمېر ښوونوکو وويل چې د محدوديتونو اغېزې په ځانګړې ډول د طالبانو له واکمنۍ وړاندې دکووېډ-۱۹ ناروغۍ له امله وضع شوي محدوديتونه د دې لامل شوي وو چې دغه ناوړه ژورې اغېزې ولري. په هلمد ولايت کې د ښوونځي مديره نغمه وايي، "دا يو وحشتناکه شکست دی. تېر کال هغوی د کووېډ ناروغۍ له امله اته مياشتې په کور کېنول شوې او اوس دا دي بيا داسې حالت راغلي چې هغوی په کور کې ناستې دي."[42]

َښوونکو او زده کوونکو وويل که په زېر زمين، آنلاين او د خپل ځان سره سره وي، خو د وضع شويو بنديزونو په سربېره هوډ لري خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. سارا چې غواړي يوه سياستمداره و اوسي وايي، چې هره ورځ په ساعتونو په يوتيوب کې تېروي او هڅه کوي چې د امريکا متحده اياالاتو د پخوانيو ولسمشرانو ويناوې واوري ترڅو پدې سره خپله انګليسي ژبه کې بهبود رامنځ ته کړي. هغې زياته کړه، "زه په سياست باندې مينه يم نو څکه تل دا ډول ويناوې اورم." پدې توګه هغې وويل: "چې يوازې د يوتيوب له لارې زده کړه سخته ده... زه ورځ تربلې د بدلون په حال کې يم... ګڼ شمېر انتخابونه شتون لري."[43]

۲۵ کلنه ياسمين چې د يوه غير دولتي سازمان (NGO) چې يتيمانو ته به يې د تعليم او ملاتړ په برخه کې خدمات عرضه کول پخوانۍ کارکوونکې، د بخښنې نړيوال سازمان ته وويل له هغه راهيسې چې طالبانو د چارو واګې په لاس کې اخيستې دي هغې د افغانستان په کليوالو سيمو کې د په زېر زمينيو کې د هغو نجونو يوه شبکه رامنځ ته کړې ده چې غوښتل يې تر شپږم ټولګي د پاسه زده کړې وکړي. هغې خپل ښوونځي داسې تشريح کړل:

> **دا په کورونو کې د ننه زېر زمينۍ يا تهکوونه دي... مور وغوښتل چې هغوی باسواده شي نور که هر څه کېږي... موږ همېشه په وېره کې يو، چې [طالبان] به مور پيدا کړي. له همدې امله موږ بايد د خپل فعاليت لمنه ډېره پراخه نه کړو. حتی زما کورنۍ هم پدې نه پوهېږي چې موږ څه کوو. ګاونډيان هم نه پوهېږي چې دغه نجونې څوک دي، موږ هغوی د خپلو دوستانو په حيث معرفي کړې دي... [زموږ د ښوونځي] د نجونو لپاره هر څه بدل شوي دي... هغوی نه غواړي نورې ناهيلې پاتې شي... احساس کوم چې تباه او له عاطفي نظره له پامه غورځېدلې يم. خو زه پدې پوهېږم چې لږ ترلږه بايد د دغو نجونو سره مرسته وکړم. دا زما هيله ده.[44]**

۴۰ مرکه، ۲۰۲۲.
۴۱ مرکه، ۲۰۲۱.
۴۲ مرکه، ۲۰۲۱.
۴۳ مرکه، ۲۰۲۱.
۴۴ مرکه، ۲۰۲۲.

د ۱۶ کلنې پیانو غږوونکې او د متوسطه ښوونځي زده کوونکې ثریا د ژوند کیسه[۴۵]

ما په ښوونځي او د موسیقۍ په انستیتیوت کې پیانو غږوله. [زموږ په ښوونځي کې] ټولو نجونو او هلکانو په ګډه درس وېل او په ګډه یې د موسیقۍ زده کړه کوله. کله چې ما د موسیقۍ په غږول پیل وکړ، ډېره کوچنۍ وم.

له هغه راهیسې چې طالبان واکمن شوي دي، زما ژوند په بل مخ شوی دی. کله چې طالبان کابل ته راغلل، هغوی زموږ د موسیقۍ دزده کړې مرکز تخریب کړ. له هغې وروسته هېڅوا و نه شوو کولی دغه مرکز ته لاړ شي. هغوی [دغه ښوونځی یا روزنیز مرکز] په خپله نظامي اډه باندې بدل کړ. کله مې چې دا حالت ولید، نو زړه مې مات شوو.

زه په کور کې پیانو لرم او هره ورځ وباندې تمرین کوم. کله چې خبره شوم [طالبان]د کورونو پلټنه کوي، نو ما نه غوښتل خپله کورنۍ په خطر کې واچوم.[۴۶] نو مې وغوښتل پیانو له کوره لرې ځای ته یوسم، خو په لاره کې طالبانو راته ماته کړه. ما د پیانو سره مینه درلوده. کله مې چې واورېدل چې پیانو مې یې ماته کړې ده، نو له ځایه و نه شوای خوځېدلی. زه پوه شوم چې دا زما د ژوند پای و. زه فکر نه کوم چې بیا به وکولی شم بله پیانو ځان ته واخلم – حتی که بازار کې نورې پیانوګانې موجودې هم وي.

په دغه موده کې [موسقي غږوونکو] ته یو څو پېښې رامنځ ته شوې دي. طالبانو یو موسیقي غږوونکی وواژه، او یوه بله [پېښه] دا وه چې یوه هلک د خپل ورور په واده کې میوزیک ساز وکړ. [طالبانو] د هغوی په غاړو کې د موسیقۍ آلې واچولې او په ښار کې یې وګرزول او دایې وباندې وېل خوک چې دا کار کوي دا به یې سزا وي.[۴۷]

طالبانو له ما هر څه یوړل، هغوی زما ټول هیلې او خیالونه په اوبو لاهو کړل، خو دا یې پای نه دی. زه اوس ورځ تربلې پرمختګ کوم. زه پیانو نه غږوم، خو زه اوس د دري ژبې، ریاضي او نورو مضامینو زده کړه کوم. زه هیله لرم چې یوه ورځ به بېرته ښوونځي ته لاړه شم.

موږ افغان مېرمنې به هېڅلکه څوک په کور کې حصارې نه کړي. طالبانو باید پدې پوه شي چې مېرمنې او نجونې چوپې نه پاتې کېږي. موږ کمزورې نه یو. مږ قربانیانې نه یو. موږ د تبعیض او نا برابرۍ پروړاندې خپل غږ اوچت کړو.

---

۴۵ مرکه، ۲۰۲۲. دا مرکه لنډه شوې ده.

۴۶ په کابل او نورو ښارونو کې د طالبانو د تلاشۍ په هکله د نورو معلوماتو لپاره الجزیره وګورئ، "طالبان د افغانستان په پایتخت کې کور په کور تلاشي په لاره اچوي"، ۲۷ فبروري ۲۰۲۲، aljazeera.com/news/2022/2/27/taliban-conducting-house-to-house-sweep-across-afghan-capital

۴۷ د دې پېښو په هکله د نورو معلوماتو لپاره سي ان ان وګورئ، "طالبانو یو افغان محلي سندرغاړی نیولی او وژلی یې دی"، ۳۱ اګسټ ۲۰۲۲، edition.cnn.com/2021/08/30/asia/fawad-andarabi-afghan-folk-singer-killed-intl/index.html and ThePrint, “Taliban humiliates musicians by hanging instruments around their necks”, 5 March 2022, theprint.in/world/taliban-humiliates-musicians-by-hanging-instruments-around-their-necks/860218/?amp

۴/۲/۲د پوهنتون په کچه

وروسته له هغې چې طالبان واک ته ورسېدل، هغوی د څو میاشتو لپاره د نجونو او هکانو په مخ دولتي پوهنتونونه وتړل، بلاخر د ۲۰۲۲ کال په فبروری کې یې د پرانیستو اجازه ورکړه.[۴۸] د ۲۰۲۲ له اګسټ وروسته ګڼ شمېر خصوصي پوهنتونونه د نجونو او هلکانو په مخ بېرته پرانیستل شول.[۴۹] هغو اوسنیو او پخوانیو محصلینو چې د بخښنې نړیوال سازمان سره یې مرکې درلودې وویل چې په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې د هغوی د چلند، جامو او فرصتونو په اړه د طالبانو لخوا وضع شوي بندیزونه د دې لامل شوي چې د هغوی لپاره یو داسې چاپېریال رامنځ ته شي چې هغوی پکې د سکون او مصؤنیت احساس نه کوي. چې په پایله کې یې ګڼ شمېر مېرمنو یا خپلې زده کړې درولې دي او یا یې هم دا تصمیم نیولی چې پوهنتون ته شاملې نه شي.[۵۰]

د طالبانو لخوا په پوهنتون کې په مېرمنو باندې وضع شوي محدودیتونه ډېر زیات دي، او ورځ تر بلې په زیاتېدو دي او تر هرې سیمې او پوهنتون پورې متفاوت دي. د جنسیتي تفکیک له اړخه، ډېری پوهنتونونه باید دا ډاډ ترلاسه کړي چې نجونو ته باید د ښځینه ښوونکو لخوا تدریس وشي، نجونې او هلکان پوهنتون ته له بېلو لارو دخلېږي، نجونو او هلکان د مهالوېش سره په ځانګړیو او بېل ورځو پوهنتون ته ځي، او که چېرې یاد شرائط د تطبیق وړ نه وي، نو د ښځینه او نارینه محصلینو ترمنځ باید حجاب یا پرده وي. د لباس یا یونیفورم په برخه کې، دمګړی ډېری ښځینه محصلینې غواړي چې له هغه لباس څخه استفاده وکړي چې له سره تر پښو پورې پټې وي او نقاب یا ماسک یې وهلی وي.[۵۱]

د پوهنتون ښځینه محصلینو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د نویو وضع شویو محدودیتونو له مخې هغوی په پوهنتون کې د نه له مبایل تلفون څخه له استفادې، په ټولګي کې له خبرې کولو، پرېزېنټېشن ورکولو، کانفرانسونو ته له حضرېدو، نارینه ښوونکو یا اداري دفترونو سره له تنا – په - تنا ملاقاتونو منع شوې دي.[۵۲] په ننګر هار پوهنتون کې ۱۹ کلنې محصلې فریدې د نویو محدویتونو په اړه خپلې تجربې داسې شریکې کړې: "زه پرون خپل ښوونکي ته ورغلم ترڅو هغه ته د رواني روغتیا په اړه خپل پرېزېنټېشن ورکړم. زه نه شم کولی جلی سره په ټولګي خبرې وکړم. نجونې نور له دغه کار څخه منع شوې دي."[۵۳]

ګڼ شمېر ښځینه محصلینو او ښوونکو د بخښنې نړیوال سازمان سره د مرکو پرمهال وویل چې د جندر په برخه کې وضع شوي قوانین ستونزې زېږوونکي دي او د پوهنتونو بودجې او کارکوونکو ته په کتو سره د دغو قوانینو پلي کول ناشوني دي او په ښځینه محصلینو باندې ناوړه اغېزې لري. د تخار پوهنتون یو محصلې وویل چې "د دغه بېلتون لپاره په کافي اندازه تجهیزات، وخت او ښوونکي نشته."[۵۴] د ننګرهار پوهنتون محصلې ۲۱ کلنې فېروزې وویل چې د جندر په برخه کې د طالبانو لخوا د وضع شوو محدودیتونو له امله د پوهنتون اداري ښځې دې ته اړ کړې دي چې یو لړ ځانګړې پوهنځیی پرېږدي. هغې د یوه مثال په وړاندې کولو سره زیاته کړه: "د زراعت په

---

۴۸ د امریکا غږ، "په افغانستان کې ټول دولتي پوهنتونونه د هلکانو او نجونو پر مخ پرانیستل کېږي"، ۲۶ فبروري ۲۰۲۲، voanews.com/a/all-public-universities-in-afghanistan-open-to-male-female-students/6461202.html

۴۹ NDTV، "د افغانستان د پوهنتونونو د پرانیستل کېدو سره سم په ښځینه زده کوونکو باندې پردې او کلک سختګیرانه قوانین"، ۶ سپټمبر ۲۰۲۱، ndtv.com/world-news/afghanistan-universities-women-students-curtains-strict-rules-for-female-students-as-afghan-universities-reopen-2531559

۵۰ د پوهنتون په کچه د طالبانو د نورو بندیزونو په هکله د بشري حقونو څارونکې اداره وګورئ، *په افغانستان کې تعلیم ته د نجونو د لاسرسي څلور لارې*، ۲۰ مارچ ۲۰۲۲، hrw.org/news/2022/03/20/four-ways-support-girls-access-education-afghanistan

۵۱ Rرخشان مېډیا، "د دولتي پوهنتونونو له پرانیستل کېدو وروسته ښځینه زده کوونکې په مراکزو کې د بندیزونو په هکله شکایت کوي"، ۱۰ مارچ ۲۰۲۲، rukhshana.com/en/after-the-reopening-of-public-universities-female-students-complain-about-restrictions-on-campuses. د لباس په برخه کې د نورو بندیزونو لپاره ۴/۵ برخه وګورئ.

۵۲ مرکې، ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲.

۵۳ مرکه، ۲۰۲۲.

۵۴ مرکه، ۲۰۲۲.

پوهنتون لپاره د مناسبې جامې "د سپارښتنې" پوستر © رخشانه رسنۍ

پوهنځي کې یوازې پینځه تنې ښځینه محصلینې دي... [د پوهنتون اداري] وویل چې دغه ټولنې نجونې باید د سېل انجینیری پوهنځی ته لاړې شي ځکه هغوی نه شي کولی خپل مضامین تعقیب کړي.. هغوی دوی اړ کړې چې خپله پوهنځی بدله کړي ځکه هلته په کافي اندازه ښځینې محصلینې نه وې."[55]

هغو ښځو چې د پوهنتون په لیلیو کې اوسېدې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغوی اوس د خورا بد وضعیت سره مخ دي، ځکه هغوی په مداوم ډول تغیر او تبدیل کېږي. دوه تنو محصلینو زیاته کړه چې هغه ښځینه محصلینې چې په لیلیه کې اوسي له دې منع شوې دي چې له خپلې لیلیې څخه ووزي، حتی نه شي کولی د خپلو ورځنیو چارو په موخه له لیلیې څخه د باندې ووزي. په لغمان ولایت کې اوسېدونکې ۲۲ کلنه محصله حنیفه وایي: "کله چې موږ یو شي ته ضرورت پیدا کوو، [د طالبانو لخوا ګومارل شوي لیلیې ګاردان] وایي، ،تاسو ولې له لیلیې څخه د باندې وزئ؟... که چېرې غواړو چېرته لاړې شو، نو هغوی له موږ څخه د محرم [نارینه مرستندوی] په اړه چې موږ یې نه لرو، پوښتنه کوي."[56] حنیفې زیاته کړه مخکې له هغې چې دا پوهنتون پرېږدي، د طالبانو یو کس لیلیې ته ورغلی وا او هغوی یې د شرعي حجاب او شرعي محرم د نه مراعات کولو په صورت کې ګواښلي وو.

د پوهنتون ښځینه زده کوونکو وویل چې هغوی د طالبانو لخوا د وضع شویو محدودیتونو څخه د سرغړونې په تور ځورول شوې او ګواښل شوې دي. د کابل پوهنتون ۲۱ کلنه محصله بریښنا خپلې تجربې داسې شریکوي:

۵۵ مرکه، ۲۰۲۲.
۵۶ مرکه، ۲۰۲۲. د ګرزېدو په برخه کې د نورو بندیزونو په هکله د معلوماتو لپاره ۴/۴ برخه وګورئ.

[د] پوهنتون کاردان په موږ چغې وهي او وايي، ،خپلې جامې او ټکري سم کړئ... ولې مو پښې ښکاري؟ دا ستاسو پتلونونه وګوره،... زموږ [د] پوهنځي رئیس زموږ ټولګي ته راغی او موږ ته یې وویل... موږ پوازې په هغه صورت کې ستاسو د ساتنې مسؤلیت لرو کله چې تاسو په پوهنځي کې د ننه یاست... [ک]ه چېرې طالبان هڅه کوي چې تاسو ته زیان ورسوي او و مو ځوروي، نو موږ نه شو کولی ترې خلاصې مو کړو.[57]

بربښنا زیاته کړه چې پدا وروستیو کې د طالبانو د ګاردانو لخوا د هغو نجونو په ډله کې له ګډون څخه منع شوې وه ځکه چې د پتلون پایڅې یې تقریبا 4cm له پښو څخه پورته وې.[58] په کابل کې د یوه خصوصي پوهنتونه محصله ۲۱ کلنه هودا ورته کیسه کوي: کله چې تاسو [پوهنتون] ته د ننه کېږئ، نو تاسو لکه د یوه زنداني په شان یاست، او تاسو باید لکه د یوه سرتېري په شان واست... په دا ډول شرائطو کې د زده کړو د دوام لپاره شوق نه لرم."[59]

۴٫۲٫۳نوري ننګوني

د پورتنیو مستند شویو محدودیتونو سربېره، نورې داسې ننګونې هم شته چې د ابتدائیه ښوونځي په شمول په هره برخه کې تعلیم ته د نجونو او مېرمنو په لاسرسي باندې اغېز لري. په دغه ننګونو کې د طالبانو لخوا د نجونو هدف ګرزېدل، په آزادانه ډول د هغوی ګرزېدل، بشري او اقتصادي کړکېچ، د هغوی په راتلونکو دندو او کارونو باندې د محدودیت له امله د ښوونکو کمښت او د زده کوونکو نه تشویق او داسې نور لاملونه شامل دي.

د تاوتریخوالي وېره یا د طالبانو لخوا زیان رسېدل

ځینې ښځینه زده کوونکو او ښوونکو له دې وېرې ښوونځیو ته نه ځي چې کېدی شي هغوی یا د هغوی کورنۍ د طالبانو لخوا د تاوتریخوالي ښکار شي. د مثال په ډول، په لغمان ولایت کې یوې ښوونکې فربیا د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "کورنۍ اندېښمې دي او خپلو نجونو ته اجازه نه ورکوي چې ښوونځي ته لاړې شي... طالبان ځان سره وسلې ګرزوي او په سړکونو باندې قدم وهي. خلک وېرې اخیستې او نه پوهېږي څخه وکړي، نو ځکه هغوی خپلې نجونې ښوونځي ته نه استوي."[60] د کندز ولایت اوسېدونکې او د خصوصي ښوونځي ښوونکې ۲۱ کلنه سنبل وایي چې که څه هم نجونو ته دا اجازه ورکړل شوې وه چې ښوونځي ته لاړې شي، خو کم شمېر نجونو دا کار وکړ. "[زه] ما په خپل ټولګي له ۴۰ تر ۵۰ پورې زده کوونکي درلودل. خو اوس تر پینځو هغو کم ښوونځي ته راځي... هغې زیاته کړه چې متباقي کسانې حتی بیرون ته له وتلو وېره لري."[61]

دغه وېره بې اساسه ن ده. د بخښنې نړیوال سازمان او نور څارونکو بنسټونو په ډاګه کړې ده چې طالبان د زده کوونکي، ښوونکي یا د هغوی لخوا د نورو وضع شویو محدودیتونو په تور د زده کوونکو او ښوونکو سره تاوتریخوالی کوي.[62] د مثال په ډول، ۲۲ کلن ابفت چې د پوهنتون محصل دی او د هغه ۱۶ ورور زیاته کړه چې هغوی هغه مهال د دوه و تنو طالبانو لخوا ووهل شول کله چې د انګلیسي ژبې د زده کړې لپاره (چې د طالبانو په وینا د کفارو ژبه ده) کورس ته روان ول".[63] ابفت پېښه داسې بیانوي چې طالبانو د هغه لاس مات کړ او د هغه ورور یې په وهل ډبولو بېهوښه کړ او په غاړه کې یې ټپي کړ:

57 مرکه، ۲۰۲۲.
58 مرکه، ۲۰۲۲.
59 مرکه، ۲۰۲۲.
60 مرکه، ۲۰۲۲.
61 مرکه، ۲۰۲۲.
62 Sد بخښنې نړیوال سازمان ته مراجعه وکړئ، "افغانستان: طالبان باید فورا نجونو ته اجازه ورکړي چې ښوونځیو ته لاړې شي"، ۱۳ اکتوبر ۲۰۲۱. همدارنګه د بشري حقونو څارونکې اداره وګورئ، په *افغانستان کې تعلیم ته د نجونو د لاسرسي لپاره خلور لارې.*
63 مرکه، ۲۰۲۱.

> **زه او ورور مي د انګليسي ژبې د کورس په خوا روان وو. زه تر هغه وروسته روان وم... يوه طالب ودرولم... هغه په پښتو راته وويل، ، چېرې ځې؟، د هغه په اوره باندې ټوپک وا. ما ورته وويل چې د انګليسي ژبې کورس ته ځم. هغه خپل ټوپک راواخيست او زه يې باندې ووهلم. وروسته زما ورور راغی او د هغه سره يې خبر کولې... په دې کې يو بل [طالب] راغی او زما په ورور يې وار وکړ. هغه بې حاله شوو. زه هم بېحاله شوم او په روغتون کې په حال راغلم... زما ورور ته لاهم اوکسيجن بند او په بده توګه ټپي شوی وو. محلي چارواکو زموږ د وهلو هېڅ پوښتنه و نه کړه. زه فکر کوم هغوی وېرېدلي وو... موږ بېرته کور ته لاړو او اوس هم په وېره کې يو.**[64]

همدارنګه د طالبانو لخوا د ترسره شوي تاوتريخوالي په پايله کې ښوونکي هم متضرره شوي دي. د مثال په ډول، د يوه عالي ښوونځي ښوونکې ۲۶ کلنه لينا وايي چې هغه څو ځله له دې امله ځورول شوې ده چې ولې دې پخوا د ورزش په برخه کې تدريس کاوه او همدارنګه هغه د تحقيقاتو لپاره د سيمې محکمې ته ورل شوې ده.[65]

په ازاد ډول د ګرځېدو په برخه کې محدوديتونه

ښځينه زده کوونکو او ښوونکو د بخښنې نړيوال سازمان ته وويل چې هغوی ښوونځي ته د تګ پرمهال د شرعي *محرم* يا نارينه د نه شتونه له امله د ننګونو سره مخ وو. د *محرم* او نورو محدوديتونو په اړه په ۴٫۴ برخه کې توضيح شوې ده. په کندز ولايت کې ښځينه ښوونکې فرزانې زياته کړه چې که څه هم د هغې په ولايت د نجونو لپاره ښوونځي پرانيستي دي، خو د زده کوونکو د حاضرۍ کچه ټيټه ده. هغې زياته کړه، "زه فکر کوم چې يو له لاملونو يې کېدی شي د طالبانو لخوا له *محرم* پرته له کور څخه د اجازې نه ورکول او ځينې وخت د په کور کې د هغو نارينه و نه شتون وي چې نجونې ښوونځي ته بيايي. "دا د ښوونکو او زده کوونکو لپاره يو لوی سرخوږی دی."[66]

د کابل پوهنتون ۲۱ کلنې محصلې بريښنا د بخښنې نړيوال سازمان ته وويل، د دې لپاره چې پوهنتو ته له تنا تګ څخه مخنيوي شوی وي هره ورځ د يوه ډله نور ښځينه محصليو سره يو ځای پوهنتون ته ځي. که څه هم هره ورځ په لاره درول کېدو او په چک پوانيټونو کې راسره تاوتريخوالی کېدا او پوښتنې راځخه کېدې چې ولې له *محرم* پرته راغلې ياست.[67] دغه ننګونو ته په کتو سره بريښنا او نورې هغې مېرمنې چې مرکې ورسره وشوې د خپلو زده کړو د دوام په اړه ډاډمنې نه وې.

بشري او اقتصادي ناورين

د بشر او اقتصادي ناورين ورځ تربلې ډېروالی پدې مانا دی چې نجونې او مېرمنې نه شي کولی زده کړې ته لاسرسی ولري، ځکه ډېری کورنی دمګړی نه شي کولی د خپلو ماشومانو د ښوونځي فيسونه ورکړي، پداسې حال کې چې ډېری ماشومان دې ته اړ دي چې کورنۍ ډوډۍ پيدا کړي. د ماشومانو د ساتنې اداره (Save the Children) وايي په افغانستان کې په هرو پينځو کورنيو کې يوه يې اړه ده چې خپل ماشومان د کار په موخه له کور څخه د باندې ولېږي.[68] د LEARN Afghanistan افغانستان تعليمي بنسټ مشره پښتنه دراني د بخښنې نړيوال سازمان ته وايي چې: "خلک نه شي کولی ډوډۍ او هګۍ وپېري، نو څنګه به وکولی شي د ښوونځي

---

۶۴ مرکه، ۲۰۲۱. دا پېښه لومړی د بخښنې نړيوال سازمان ثبت کړې وه، "افغانستان: طالبان بايد فورا نجونو ته اجازه ورکړي چې ښوونځيو ته لاړې شي"، ۱۳ اکتوبر ۲۰۲۱.

۶۵ مرکه، ۲۰۲۱. دا پېښه لومړی د بخښنې نړيوال سازمان ثبت کړې وه، "افغانستان: طالبان بايد فورا نجونو ته اجازه ورکړي چې ښوونځيو ته لاړې شي"، ۱۳ اکتوبر ۲۰۲۱.

۶۶ مرکه، ۲۰۲۲.

۶۷ مرکه، ۲۰۲۲.

۶۸ د ماشومانو د ملاتړ نړيواله اداره، "افغانستان: په تېرو شپږو مياشتو له هرو پينځو بېوزله کورنيو څخه يوې هغې يې خپل ماشومان کار ته لېږل ترڅو يو څه عايد ترلاسه کړي"، ۱۴ فبروري ۲۰۲۲، savethechildren.net/news/afghanistan-fifth-starving-families-sending-children-work-incomes-plummet-past-six-months

فیسونه ورکړي؟ کورنۍ نه شي کولی نوي بوټان، پینسلونه یا نور د ښوونځي لوازم وپیري.[69] کورنۍ هڅه کوي چې د خپلو ماشومانو د زړه کړې لپاره چې هلکان ورته لومړیتوب لري، مصارف تأمین کړي.[70] د کابل اوسېدونکې ۲۴ کلنې برېښنا وویل هغه وروسته له هغې چې د کورنۍ اقتصاد یې کمزوری شوو، دې ته اړه شوه چې پوهنتون پرېږدي. هغې زیاته کړه: "یوازې یو کال پاتې و چې خپلې زده کړې بشپړې کړم، خو ما و نه شوو کولی هغې ته دوام ورکړم." [زما پلار] دومره پیسې نه لري چې وکولی شئ هم زما د کورنۍ او هم زما د پوهنتون مصارف تأمین کړي... ما دا هڅه وکړه چې انګلیسي ژبه زده کړم او انګلیسي کتابونه ووایم، خو په هر څه بې باوره یم. د طالبانو تر راتګ وراندې ما ډېرې هیلې درلودې... اوس د هغوی د بیا واکمنېدو راهیسې هرڅه معلق دي."[71]

ګڼ شمېر ښوونکو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغوی اړ شوي ول د خو میاشتني معاش د نه ترلاسه کولو له امله یې زده کوونکو ته تدریس بند کړی و. د ۲۰۲۱ کال له ډسمبر راهیسې تر ۱۸,۰۰۰ ډېرو ښوونکو او د پوهنتون استادانو د څو میاشتو معاشونه نه دي ترلاسه کړي.[72] د کندوز ولایت اوسیدونکي او په متوسطه ښوونځي کې د بیولوژۍ ښوونکې ۲۶ کلنې عارفې د مجبورۍ نه خپله دنده وروسته له هغې پرېښوده چې د څلورو میاشتو معاش یې نه وو ترلاسه کړی. هغې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل:

[طالبانو] له موږ غوښتنه وکړه چې ښوونځي ته لاړ شو او له معاش پرته تدریس وکړو... موږ ښوونځي ته خپل تګ ته دوام ورکړ، خو موږ اړ شولو چې خپل هر څه وپلورو. په پیل کې موږ خپل یخچال خرڅ کړ، بیا مو خپل تلوزیون خرڅ کړ، بیا مو خپلې وطني قالینې خرڅې کړې وروسته مو خپل سیف او بلاخره لوښي خرڅ کړل. موږ د خپل کور د وسائلو پلور ته تر هغې دوام ورکړ چې هر څه مو ختم شول... له هغې وروسته مو ځینې ښوونکي ولیدل چې په سړکونو یې ګدایي کوله. کېدی شي څه موده وروسته زه او کورنۍ مې هم دغه کار ته اړ شو.[73]

د ښوونکو کمی

مېرمنو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د طالبانو له واکمنېدو وروسته د ښوونکو د کمبود کچه لوړه شوې ده چې له امله یې ګڼ شمېر تعلیمي مرکزونه په قسمي او بشپړ ډول تړل شوي دي. د ښوونکو نه شتون ګڼ لاملونه لري، لکه د په عامه ځایونو کې د نارینه و لخوا د ښځو بدرګه کول چې پورته یې په اړه تشرېح شوه چې له امله یې کار ته د تګ راتګ چارې ټکنۍ کېږي، بشري او اقتصادي ناورین چې له امله یې د معاشاتو د نه تادیې کېدو ستونزه رامنځ ته شوې ده چې په اړه یې پورته هم تشرېح شوې ده، هغه حقیقت چې ګڼ شمېر ښوونکي او د پوهنتون استادان د هغې جګړې له امله په داخل بې ځایه شوي وو کومه چې د طالبانو د بیا واکمنېدو لامل شوه، او بلاخره د طالبانو لخوا هغه وضع شوي الزامات چې د زده کړه په هره کچې کې ښځینه زده کوونکې باید د ښځینه و ښوونکو لخوا تدریس شي چې پدې سره د ښځینه و ښوونکو لپاره تقاضا ډېرېږي.

د پنجشېر اوسېدونکې ۳۶ کلنه جمیله چې د ابتدائیه او متوسطه ښوونځي مدیره ده، هغه ستونزې چې د جندر یا جنسیت په برخه کې د طالبانو د تاکید له امله رامنځ ته شوي دي داسې بیان کړې: "زه په ښوونځي کې د نجونو او هلکانو دمختلط محیط سره عادت شوه وم، خو اوس موږ یوازې له لومړي تر شپږم ټولګي پورې مختلط ټولګي لرو." "طالبانو څو ځله موږ ته راغلل او د نجونو او هلکانو د بېلېدو غوښتنه یې وکړه. موږ پدې کار کوو... له همدې امله موږ ډېرو ښوونکو ته او ډېر کاري پرسونل ته اړتیا لرو... زه نه پوهېږم چې موږ به دغې چارې څنګه ترسره کوو."[74]

۶۹ مرکه، ۲۰۲۱.

۷۰ د بېلګې په توګه، د بشري حقونو څارونکې اداره وګورئ، *"ما فکر کولو چې شاید ژوند مو ښه شي": په افغانستان کې نجونو ته د تعلیم لاسرسی*، دوهمه برخه.

۷۱ مرکه، ۲۰۲۲.

۷۲ طلوع نیوز، "په هرات کې ښوونکي خپل معاشونه غواړي"، ۲۰ اکتوبر ۲۰۲۱، tolonews.com/afghanistan-175104

۷۳ مرکه، ۲۰۲۲.

۷۴ مرکه، ۲۰۲۲.

↑

یوې افغان مېرمنې په خپل کاري ځای کې انځور اخیستی. © Kiana Hayeri / دبښنې د نړیوال سازمان سره محفوظ دی

د مکافاتو یا تشویق نه شتون

له هغه راهیسې چې طالبانو د افغانستان واګې په لاس کې اخیستې دي، هغوی په ښځو باندې د کار ساحه په شدت سره تنګه کړې ده.[۷۵] مېرمنو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې دغه محدودیتونه د دې لامل شوي دي چې زده کړې ته د هغوی په لېوالتیا باندې ژورې اغېزې وکړي، هغې زیاته کړه:

د طالبانو له راتګ وروسته په دې برخه [د سیاسي علومو] په برخه کې مېرمنې هېڅ دنده نه لري. هغوی نه شي کولی وزیره یا رهبره و اوسي. پدې سره زه خورا ناهیلې شوې یم، خورا اندېښنه لرم. ما ته د رهبریت په برخه کې روزنه راکړل شوې وه، خو اوس دا کار ناشونی دی... که چېرې تاسو ته یوځو د کار اجازه چې په ځان بسیا شئ نه درکوي، نو پدې صورت کې تعلیم څه مانا لري؟ زه خپلو موخو ته د رسېدو لپاره کار ته اړتیا لرم. زه څنګه کولی شم خپلې موخې په کور کې ترلاسه کړم؟... ماسره داسې احساس پیدا شوی چې له پامه غورځېدلې یم او یو ناکامه شخص یم.[۷۶]

په کابل کې د یوه خصوصي پوهنتون زده کوونکې ۲۱ کلنه خبریاله جمیله خپله ورته اندېښنې شریکوي. "پدې اړه فکر وکړئ – چې تاسو جورنالیزم لوستی وي او پدې پوهېږئ چې نه شئ کولی یو جورنالېست و اوسئ څومره به سخته وي. ما فکر وکړ کله چې یو سړی و نه شي کولی د خپلې خوښې دنده ترسره کړي، نو د پوهنتو یا زده کړو کول بې مانا دي، نو له همدې امله ما خپل پوهنتون ته د پای ټکی کېښود."[۷۷] مېترا زیاته کړه چې د هغې کشره خور چې په پینځم ټولګي کې وه هم خپل پوهنتون پرېښود. "هغه ښوونځي ته د بیا تګ لپاره نه هڅول کېږي، ځکه هغه پدې پوه ده چې دا کار راتلونکې نه لري... هغه نور نه غواړي ښوونځي یا ټولګي ته لاړه شي."[۷۸]

تعلیم ته د لاسرسي په برخه کې په نجونو او مېرمنو باندې د طالبانو لخوا وضع شوي محدودیتونه ښائي په نورو هغو نجونو او مېرمنو باندې چې غواړي زده کړې وکړي ناوړه اغېز ولري، په ځانګړې ډول د اجباري ودونو له امله.[۷۹]

۷۵ په کار باندې د بندیزونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۴٫۳ برخه وګورئ.

۷۶ مرکه، ۲۰۲۱.

۷۷ مرکه، ۲۰۲۲.

۷۸ مرکه، ۲۰۲۲.

۷۹ په کار باندې د بندیزونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۴٫۳ برخه وګورئ، او د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو لپاره ۸م فصل وګورئ.

۴٫۲ کار

"که مور مېرمنې او سړي په ګډه کار وکړو، کولی شو دغه هېواد ته یو څه وکړو. له موجوده حکومت څخه زموږ یوازینی غوښتنه دا ده چې د کار کولو اجازه راکړي."

ورمه، د پخواني حکومت چارواکې[۸۰]

"هغه مېرمنې، د غیر دولتي سازمونونو () کارکوونکې، دولتي کارمندانې چې د ښوونکو په حیث کار کوي... [ه]غوی اوس په خپلو کورونو کې دي او دا احساس کوي چې هېڅ شی نه دي... هغوی د خپلو عوائېدو ترڅنګ اوس خپل وقار یا عزت هم له لاسه ورکړی."

د بشري حقونو کارمنده، هما[۸۱]

د طالبانو له راتګ وروسته په ټول افغانستان کې ښځې له کار کولو منع شوې دي. طالبانو په ټول هېواد کې د ښځو او کار په اړه خپلې تګلارې نه دي اعلان کړېې، او د هېواد په مختلفو سیمو کې د مېرمنو ورتیاوې فرق کوي. پدې توګه په دې برخه کې د طالبانو په فرمانونو کې څینې ښلګې ښکاره شوې دي. د حکومت ډېری ښځو ته ویل شوي دي چې په کور کې کېنئ، چې په دې کې د څانګړیو سکتورونو لکه د صحت او معارف سکتور ښځینه کارکوونکې نه دي شاملې.[۸۲] د طالبانو په کابینه کې مېرمنې له هر ډول مقام څخه محرومې شوې دي.[۸۳] د ښځو چارو وزارت نور فعالیت نه کوي او په کابل کې د یاد وزارت پخوانی تشکیل د امر بالمعروف او نهی از منکر په وزارت بدل شوی دی چې نجونو او مېرمنو سره د تبعیضي چلند د وزارت په حیث شهرت لري.[۸۴] په ټوله کې، داسې ښکاري چې طالبان په هغه صورت کې ښځو ته د کار اجازه ورکوي، چې په کور کې عائد لرونکی نارینه و نه لري او یا همپه هغه صورتکې چې دغه پوست یا مقام "د نارینه و دنده" نه وي".[۸۵]

همدارنګه په خصوصي سکتو کې سیمې، اړونده برخې او شخصي کاري محیط ته په کتو سره د افغان مېرمنو ورتیاوې متفاوتې دي. که څه هم هغه مېرمنې چې د بخښنې د نړیوال سازمان سره یې مرکې کړې وایي چې ګڼ شمېر هغو مېرمنو چې په لوړو پوستونو کې یې دنده ترسره کوله، خپلې دندې له لاسه ورکړې دي. مالي مشاورې هدا زیاته کله چې هغې د کار موندنې وېب سایټ کاتا نو پدې برخه کې بدلون له وریه ښکارېده. هغې زیاته کړه، "تاسو کولی شئ حس کړئ چې د ښځو لپاره کاري فرصتونه څومره محدود دي." "ما په ورته برخه کې پخوا دنده ترسره کوله هغه مهال ښځو په لوړو پوستونو کې دندې ترسره کولې... لکه د مالي مدیریت، بشري منابعو (HR)، اجرائوي ریاست او داسې نورو لوړ پوستونو کې... خو اوس د مېرمنو لپاره کاري فرصتونه ټول د کار زده کړې [او] همکار تر کچې محدود شوي دي."[۸۶]

۸۰ مرکه، ۲۰۲۱.

۸۱ مرکه، ۲۰۲۲.

۸۲ مرکې، ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲؛ اې پي هم وګورئ، "په کابل ښار کې د طالبانو دولت وایي چې ښځینه کارکوونکې دې په کور کې پاتې شي"، ۲۰ سپټمبر ۲۰۲۱، nbcnews.com/news/world/taliban-run-kabul-city-government-tells-female-workers-stay-home-n1279616

۸۳ نیویارک ټایمز، "طالبان خپل مؤقت حکومت پرته د ښځو له حضور څخه تشکیلوي"، ۲۱ سپټمبر ۲۰۲۱، nytimes.com/2021/09/21/world/asia/taliban-women-government.html

۸۴ اې اف پي، "طالبانو د ښځو چارو وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په وزارت باندې تبدیل کړ"، ۱۸ سپټمبر ۲۰۲۱، firstpost.com/world/taliban-replaces-ministry-of-womens-affairs-with-ministry-of-virtue-and-vice-9975461.html

۸۵ مرکې، ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲. همدارنګه سي بي سي وګورئ، "طالبان ښځو او نجونو ته وایي چې ښوونځي او کار ته دې نه ځي او په کور کې دې پاتې شي"، ۲۰ سپټمبر ۲۰۲۱، cbsnews.com/news/afghanistan-taliban-women-girls-work-school-sharia-rules/؛ سي ان ان، " سرپرست ښاروال وایي، یوازینی کار چې ښځې یې د طالبانو په حکومت کې کولی شي دا دی چې ښځینه تشنابونه پاک کړي"، ۲۰ سپټمبر ۲۰۲۱، edition.cnn.com/2021/09/19/asia/afghanistan-women-government-jobs-intl-hnk/index.html

۸۶ مرکه، ۲۰۲۲.

ګڼ شمېر هغه مېرمنې چې په خپلو دندو پاتې دي، د جامو، چلند او فرصتونو په برخه کې د طالبانو لخوا د وضع شویو محدودیتونو له امله د ستونزو او فشارونو سره مخ دي. د مثال په ډوله خبریالې عادلې زیاته کړه چې ښځینه خبریالانې د ګڼ شمېر لاندې محدودیتونو سره مخ دي:

هغوی له اګسټ میاشتې وروسته وویل چې ښځینه [خبریالانې] کولی شي د نقاب او بشپړ حجاب د مراعاتولو په صورت کې خپلو دندو ته دوام ورکړي. د خبر وړاندې کوونکو خبریالانې باید خپله غاړه او وېښتان پټ کړي او د خبر ویلو پرمهال له سره تر پښو پورې په بشپړ ډول محجبه وي. وروسته د هغوی لخوا د محدودیتونو بل پړاو داسې پیل شوو: که یوه ښځینه خبریاله غواړي چې یوه پېښه تر پوښښ لاندې ونیسي، نو هغوی نه شي کولی د نارینه خبریال سره مخامخ مرکه وکړي. دریمه موضوع دا وه چې که چېرې یوه خبریاله/خبریال غواړئي د یوې موضوع په اړه معلوماتو ته لاسرسی ولري، نه شي کولی د له روغتون یا حکومت څخه معلومات ترلاسه کړي.[87]

د ۲۰۲۲ کال په مې میاشت کې د خبر وړاندې کوونکو ښځینه خبریالاتو لپاره محدودیتونه هغه مهال نور هم سخت شول کله چې طالبانو له هغوی څخه غوښتنه وکړه چې د کمرې مخې ته دې خپل مخ په بشپړ ډول پټوي مګر یوازې سترګې دې یې لوڅې وي.[88]

ګن شمېر هغو مېرمنو چې په خصوصي سکتور کې دنده ترسره کوي زیاته کړه، چې هغوی په ځلونو د طالبانو لخوا کتل کېږي ترڅو د هغوی جامې او چلند وګوري. ۲۲کلنه الهه چې په کابل کې د یوه شرکت د پېرودونکو د خدماتو په څانګه کې کار کوي خپلې تجربې داسې شریکوي: "طالبانو څو ځله زموږ دفتر ته راغلل او راته کول به یې چې تاسو باید هغه ډول او دغه ډول جامې واغوندئ، دغه رنګ جامې مه اغوندئ، همېشه په تیاره کې ځئ، کوښښ وکړئ چې تورې او اوږدې جامې واغوندئ... هغوی د مېرمنو او نارینه و د جلا کولو په موخه په مرکزي دفتر کې لرګین حجاب رامنځ ته کړی، خو فاصله خورا کمه وه، نو څکه هغوی زموږ د جلا کولو لپاره نوې څانګه رامنځ ته کړه... زه د دغو قوانینو نه کرکه کوم.[89]

۲۵ کلنه نرسه شبنم چې د کابل په یوه دولتي روغتون کې دنده ترسره کوي زیاته کړه، طالبان څو ځله د هغوی دفتر ته ورغلي دي:

هغوی به راته دا ویل چې تاسو باید د نارینه و سر یو ځای کار و نه کړئ، هغوی سره باید خبرې و نه کړئ، او باید خپلې جامې بدلې کړئ. له هغې وروسته یوه ورځ هغوی ما ته وویل چې باید خپل یونیفورم وا نه غوندم. ما هغوی ته وویل چې زه خپل یونیفورم ته درناوی لرم، څکه ما په ډېرو سختیو سره دا تلاسه کړی، او هغوی حق نه لري چې ما ته ووایي دا واغونده او دا مه اغونده... له هغوی څخه یوه یې ما ته په مخ څپېړه راکړه، او بل یې راته د ټوپک شپېلئ ونیوله او په مرګ یې وګواښلم، زما هر کار په توان کې دی.

زما همکاران ډېر وېرېدلي وو. هغوی چغې وهلې.[90]

له دغې پېښې وروسته شبنم په لومړي ځل د طالبانو ضد لاریون کې ګډون وکړ. څو ورځې وروسته، هغه د همدغې پېښې او په لاریون کې د ګډون له امله له خپلې دندې لرې کړای شوه. هغې زیاته کړه، "[هغه دنده] زما د کورنۍ لپاره یوازینی د عائبدو منبع وه. "ما د دغې دندې د ترلاسه کولو لپاره آزموینه او مرکه پاس کړې وه. زه په رسمې ډول په دغه دنده ګومارل شوې وم، او په خورا اسانۍ سره له دغې دندې لرې کړای شوم."[91]

۸۷ مرکه، ۲۰۲۲.

۸۸ اې پي، "طالبانو د افغان تلویزیونونو ښځینه کارکوونکو ته امر کړی چې د نشراتو په وخت کې خپل مخونه وپوښي، ۱۹ مې ۲۰۲۲، theguardian.com/world/2022/may/19/taliban-orders-female-afghan-tv-presenters-to-cover-faces-on-air

۸۹ مرکه، ۲۰۲۲.

۹۰ مرکه، ۲۰۲۲.

۹۱ مرکه، ۲۰۲۲.

د شبنم په شان ګڼ شمېر مېرمنې چې د روغتیا په برخه کې دنده ترسره کوي نارینه ناروغانو ته د خدمت کولو او د هغوی نارینه کارمندانو سره د خبرو کولو له د ستونزو سره مخ دي. د غیر دولتي اداري کارکوونکې ۲۱ کلنې یاسمین خپلې تجربې داسې موږ سره شریکې کړې: "که طالبان ښځینه ډاکټرانې د نارینه ډاکټرانو یا ناروغانو سره ووینې، نو دا به د هغوی لپاره لویه ستونزه وي... هغه ناروغان چې ښوونځي ته مراجعه کوي، اوس له دغه کار څخه منع کېږي."[92] د غاښونو ډاکټرې راحلې ورته خبره وکړه، "پخوا به ما نارینه او ښځینه ناروغان دواړه درلودل، خو اوس نارینه ناروغان زما کلینیک ته مراجعه نه کوي، ځکه هغوی ډارېږي چې طالبان به یې ما سره ووینې."[93]

مېرمنو وویل چې د طالبانو لخوا د *محرم* موضوع الزامي کولو هغوی ته په کاري محیط کې ګڼ شمېر ستونزې رامنځ ته کړې دي. د مثال په ډول: خبریالې عادلې د بخښنې نړیوال سازمان ته پدې اړه داسې وویل: "که زه اړتیا ولرم چې د مازدیګر له 4.30pm بجو تر 5pm پورې د کار کولو په موخه له کوره د باندې ووزم، طالبان به راته وایي چې ولې له محرم پرته روانه یې؟، زما پلار وفات شوی او نه شي کولی ماسره لاړ شي."[94]

همدارنګه مېرمنو دا هم وویل چې د *محرم* اجباري کېدو موضوع کار ته د تګ او راتګ په برخه کې ستونزې راټوکولې دي حتی ناممکنه شوی دی د مثال په ډول ۲۱ کلنې سنبل چې په کندز کې د عالي ښوونځي ښوونکې ده وایي چې د هغوی د ښوونځي ټول ښوونکي اړ دي چې کار ته د تګ او راتګ پرمهال ځان سره *محرم* ولري. د هغې ورونه او د هغې پلار له افغانستان څخه د باندې ول، نو ځکه دا کار د هغې لپاره ناممکن وا، او هغې له دغو قوانینو څخه ځو اونۍ سرغړونه کړې وه. کله چې د طالبانو یو کس ښوونځي د څېړنې په موخه راغئ، نو دا او د هغې همکاران چې د *محرم* موضوع ورته ناشونې وه وکتل. [هغه] [ما او زما همکار ته وویل]، تاسو هېڅ شرم او حیا نه لرئ... هغه غوښتل په موږ حمله وکړي یا مو ووهي... نو له همدې امله موږ خپل ښوونځي د یوې میاشتې لپاره بند او بلاخره و مو تاړه."[95]

د کار په برخه کې د طالبانو لخوا وضع شویو محدودیتونو ګڼ شمېره هغه مېرمنې د ناهیلی سره مخ کړې دي د خپلې کورنۍ لپاره یوازینۍ ډوډۍ ګټونکې دي. هغه ګراوونه چې یادې مېرمنې ورسره مخ دي، په افغانستان کې د بشري او اقتصادي ناورین پایلې دي. د خوړ د نړیوال سازمان لخوا د ۲۰۲۲ په فبرورۍ کې د یوې سروې په اساس، تقریبا ۱۰۰٪ هغه مېرمنې چې د کورنۍ لپاره ډوډۍ راوړونکې وې په کافي اندازه د خوړو د نشتون سره مخ دي، چې ۸۵٪ یې د خوړو د ترلاسه کولو په موخه "جدي اقدام" ته اړتیا لري.[96] فریده د خپلې کورنۍ تجربې داسې شریکوي: "زه د خپلې کورنۍ یوازینۍ ډوډۍ راوړونکې وم... کله چې ننګرها سقوط وکړ، زموږ دفتر وتړل شووو... ځکه چې نور ښځو او نارینه یو ځای د کار کولو اجازه نه دلوده... موږ په خپله کورنۍ کې دوه اونۍ ډوډۍ و نه خوره. ما پخوا کله هم دا فکر نه کاوا چې زموږ دسترخوان باندې به ډوډۍ نه وي."[97]

د ښځو چارو وزارت پخوانۍ لوړ پوړې چارواکې ۵۶ کلنې کبرا هم د طالبانو تر راتګ وراندې د خپلې کورنۍ یوازینۍ ډوډۍ ګټونکې وه. هغې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "زما خاوند د یوه ځانمرګي برید په پایله کې خپله پښه له لاسه ورکړه، نو د کورنۍ ټول مسؤلیتونه زما په غاړه دي. زه دوې لوڼې لرم چې د ښوونځي زده کوونکې وې او اوس په کور ناستې دي. زما زوی هم په کور ناست دی... موږ ټول په کور د ننه ناست یو او پدې اړه فکر کوو چې څه به کېږي؟"[98]

---

۹۲ مرکه، ۲۰۲۲.

۹۳ مرکه، ۲۰۲۲.

۹۴ مرکه، ۲۰۲۲.

۹۵ مرکه، ۲۰۲۲.

۹۶ د خوړو نړیوال پروګرام، *د افغانستان د خوړو د امنیت په هکله وروستي معلومات: د ۲۰۲۲ د جنوری پینځم دور*، ۱۷ فبروري ۲۰۲۲، reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-food-security-update-round-five-january-2022

۹۷ مرکه، ۲۰۲۲.

۹۸ مرکه، ۲۰۲۲.

د دفتر کارمنده الهه چي هغه هم د ښځو کورنۍ پوازینۍ عائد لرونکې وه، د ښځو راتلونکې په اړه موږ سره اندېښنې شریکې کړې او زیاته یې کړه چې که د دندې پرېښودو ته اړ شي نو څه به کوي. هغې وویل: "که هغوی ما ته د کار اجازه را نه کړي، زما ژوند نور ختم دی." "که زه خپله دنده له لاسه ورکړم، نو و به نه شم کولی د ښځو کورنۍ لګښتونه او د خپل تحصیل فیسونه ورکړم. زه دا وېره لرم چې پدې صورت کې به زما پلار ما ته ووایي چې واده وکړم."[99]

میرمنو د خپلو هغو دندو د لاسه ورکولو په اړه موږ سره خپلې تجربې شریکې کړې چې کلونه یې پکې کار کړی ترڅو په ښو ودرېږي. د مثلا په ډول، یوې کارمندې ګل د بخښنې نړیوال سازمان ته داسې وویل:

زه له یوې شتمې یا د اوسط عائد لرونکې کورنۍ څخه نه یم. زه له یوې بېسواده کورنۍ څخه یم... په پوهنتون کې څلورو میاشتې تېرولو زما ژوند بدل کړ... زما یوازینۍ هیله دا وه او دا ده چې خپل کتابتون پراخ کړم... نورو ولایتونو ته سفر وکړم ترڅو د خپل کتابتونو لپاره کتابونه راوړم. ما یو معاش درلود. ما یوه دنده درلوده. ما یو غوره ژوند درلود. زه په ځان بسیا وم... اوس م خپلې هیلې، راتلونکې او خپل هوئیت له لاسه ورکړی.[100]

ښځینه قاضي اقیانوس خپلې ورته تجربې شریکوي:

ما له صفر څخه پیل وکړ. ما چا سره اړیکې، پیسې او ملاتړ نه درلود... [د]ا یو آسانه کار نه دی چې په افغانستان غونډې هېواد کې دې یو سړی قاضي شي، په ځانګړي ډول د مېرمنو لپاره. په افغانستان غونډې هېواد کې مېرمنې باید د نارینه و په پرتله زیاته هڅه وکړي. په افغانستان کې غونډې هېواد کې تاسو باید شوق، علم او شجاعت ولرئ... ما شپږ کسه نور قاضیان هم درلودل چې ماسره یې دنده ترسره کوله... کله چې طالبان واک ته ورسېدل، هر څه بدل شول... ما واورېدل چې قاضیان نیول شوي او ورک شوي دي... زه بیا هېڅکله خپل دفتر ته لا نه ړم، څکه دا کار له خطر څخه ډک وو. زه همېشه پدې اړه فکرونه کوم چې پخوا څنګه یوه په ځان بسیا مېرمن وم."[101]

د رادیو خبریالي مرسل د بخښنې نړیوال سازمان ته داسې وویل:

د طالبانو تر راتګ وړاندې به ما په رادیو کې سندرې پلې کولې... د موضوعاتو په اړه به مو بحث کاوه او د تلفوني اړیکو هرکلی به مو کاوه... زما خپله دنده یادېږي. زه دا هیله لرم چې فقط یوارې بیا په خپل چوکۍ کېنم او ووایم چې، ،درنو اورېدونکو سلامونه. زه اوس دلته تاسو سره یم ترڅو خپلې تجربې تاسو سره شریکې کړم، ،زه له کور څخه د باندې تلم او دنده به مې ترسره کوله، او مخ پروړاندې روانه وم. او س زه پدې لټه کې یم چې کومه بله دنده پیدا کړم، خو نه شم کولی دنده پیدا کړم.[102]

د کار په برخه کې د طالبانو لخوا په ښځو باندې وضع شوي محدودیتونه د دې لامل شوي چې د نورو مېرمنو او نجونو په حقونو لکه تعلیم ته د لاسرسي په برخه کې د هغوی په وړتیاوو باندې په بلقوه ډول اغېز وکړي، څکه ګڼ شمېر مېرمنو د خپلو لوړو د تعلیم او یا هم د خپلو لوړه زده کړو لګښتونه چمتو کول. د دغو محدودیتونو وضع کول کېدی شي مېرمنو او نجونو ته د اقتصادي ستونزو له امله د جبري ودونو د ګواښ کچه لوړه کړي، لکه څنګه چې پورته الهې پدې اړه توضیحات ورکړل.[103]

---

۹۹ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۰۰ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۰۱ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۰۲ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۰۳ په تعلیم باندې د بندیزونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۴٫۲ برخه او د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو لپاره ۸م فصل وګورئ.

د یوه خصوصي ښوونځي د پخوانۍ مدیرې خاټول کیسه[104]

پخوا ما په دوه و پوهنتونونو کې شمولیت درلود چې د اسلامي او د قابلګۍ زده کړې پکې کولې. همدارنګه ما د دوه و ژبو زده کړې هم کولې. همدارنګه زه د یوه خصوصي ښوونځي مدیره هم وم. په دغه ښوونځي کې له ۱-۹ ټولګي پورې د نجونو او هلکانو لپاره زده کړې کېدې. زه به هره ورځ د سهار له 5am بیا د مازدیګر تر 6pm بجو پورې له کوره د باندې وم. ما به د کور لپاره سودا راوړله، او د ملګرو سره به د باندې وتلم. همدارنګه زه به همېشه په خپل ګاونډ کې یوازې ګرزېدم.

له سقوط وروسته زما ښوونځی او پوهنتونونه وتړل شول. لږ څخه وروسته زما ښوونځی بېرته پرانیستل شوو او هغوی زه بیا و نه غوښتلم. کله به چې زما په شان مېرمنې خپلو دندو ته بېرته ورتلې، نو پرمخ به یې ورونه بندېدل. هغوی به راته دا ویل چې مېرمنې نه شي کولی په لوړو پوستونو کې دنده وکړي. نو اوس زما ښوونځی پرانیستی دی او نوی نارینه مدیر یې ورته نیولی دی... له دې وړاندې ټول کاري پرسونل مېرمنې وې، خو اوس ټول نارینه دي.

اوس هغوی له نجونو غوښتنه کوي چې بېرته ښوونځي ته راشي، خو زه نور خپله دنده نه لرم، نو څنګه به وکولی شم د خپلې زده کړې فیسونه ورکړم؟ هغوی اعلان وکړ چې مېرمنې نه شي کولی له *محرم* پرته د باندې لاړې شي. څنګه کولی شم د خپل موټر او *محرم* کرایه او فیسونه ورکړم ترڅو خپل پوهنتون ته لاړه شم؟ که چېرې زه وغواړم چې د سودا اخیستو یا تفریح لپاره د باندې ووزم، دا امکان نه لري. اوس زه اړ یم چې دغه لوی کوټ واغوندم. ما تراوسه دا وخت نه دی موندلی چې ځان لپاره حجاب [یو لوی سرتاسري لباس] وپېرم، او په هېڅ صورت سره د هغې د پېرلو توان نه لرم.

په دا ډول شرائطو کې د ځان ساتل سخت دي. زما رواني روغتیا ښه ن ده، او زما مالي وضعیت ګواښوونکی دی. زما پلار وفات شوی دی. زه اوس بېکاره یم، او زه اوس د خپلو کوچنیو وروڼو سره مرسته نه شم کولی چې تعلمی وکړي. زه د خپلې مور سره هم هېڅ مرسته نه شم کولی. هغه په منظم ډول ډاکټر ته د مراجعې اړیتا لري، ځکه چې هغه د زړه ناروغي لري.

زه داسې احساس لرم لکه څه چې مات شوي وي. زما هیلې خاورې شوې دي. زه د خوښۍ احساس نه لرم. زه یوه کارګره مېرمن یم، او زه اوس په کور کې بېکاره ناسته یم. او داسې احساس کوم چې هرڅه بېهوده دي.

زه د بخښنې له نړیوال سازمان څخه دا غوښتنه کوم چې په افغانستان کې روان حالت ته د پای ټکی کېږدي. موږ اړتیا لرو چې نړۍ موږ ته توجه وکړي، نه دا چې له لرې زموږ ننداره کوي.

---

۱۰۴ مرکه، ۲۰۲۲. دا مرکه لنډه شوې ده.

۴٫۴ په آزاد ډول ګرځېدل او د محرم محدودیتونه

"یوازینی شی چې زه یې لیدلی شم، د کور دېوالونه دي. حتی زه نه شم کولی له کوره د باندې ووزم. آیا دا هم ژوند شوو؟"

یوه تنه قاضي، ذهره[۱۰۵]

"داسې حالت دی لکه د کووېډ-۱۹ قرنطین په شان دی، خو زموږ ټول عمر قرنطین دی."

د پوهنتون یوه تنه زده کوونکې، فېروزه[۱۰۶]

طالبانو د خپلې واکمنۍ راهیسې په دې برخه کې د وضع شویو محدودیتونو په پلي کولو سره د مېرمنو او نجونو له هغو حقونو سرغړونې کړي دي چې کولی شي په آزاد ډول وګرزي، او دغه پالیسي ورځ تر بلې ظالمانه او شدیدې کېږي. د ۲۰۲۲ کال په ړسمبر کې د امر بالمعروف وزارت لخوا یو لړ داسې لاربښوونې نشر شوې چې له مخې یې مېرمنې باید د داسې سفرونو پرمهال څان سره *محرم* یا بل نارینه ولري چې تر 72km کیلومتره ډېر وي.[۱۰۷] طالب چارواکي ذبیح الله مجاهد په خپله پخوانۍ مرکه کې ویلي وو چې د *محرم* موضوع به په ورځنیو فعالیتونولکه کار او ښوونځي ته د تلو پرمهال نه عملي کېږي.[۱۰۸] که څه هم د هغه دا خبره د امر بالمعروف وزارت لخوا د هغې صادې شویې اعلامیې په واسطه تر پوښتنې لاندې راغله چې ویلي یې وو مېرمنې باید په عامه محلونو خپل مخونه پټ کړي او نه شي کولی له اړتیا پرته له کوره د باندې ووزي.[۱۰۹] طلبانو همدارنګه هوایي شرکتونو ته هم سپارښتنه وکړه چې په خپلو داخلي او بین المللي پروازونو کې له *محرم* پرته ښځو ته د سفر اجازه ور نه کړي، او همدارنګه هغوی په هرات ولایت کې د ځینو سپارښتو په صادرولو سره اړونده چارواکو ته امر وکړ چې مېرمنو ته د موټر چلونې د لېسنس ورکول بندې کړي.[۱۱۰]

ګڼ شمېر هغو مېرمنو چې د بخښنې نړیوال سازمان سره یې مرکې کړې وې دغه سازمان ته وویل چې دغو ګڼ شمېر سپارښتنو ته په کتو سره چې ورځ تر بلې د تغیر په حال کې دي، له *محرم* پرته په عامه ځایونو کې د مېرمنو هر ډول حضور جدي سزا لري. د مالي چارو مشاورې هودا خپلې تجربې داسې شریکې کړې:

د هغوی خبرې او عمل یو شان نه دي. هغوی وایي تر 72km د اوږده سفر پرمهال مېرمنې باید محرم ولري، خو په عمل کې هغوی کولی شي تاسو په 1km سفر کې هم ودروي. که غواړئ چې ټکسي ونیسئ، نو ډرېور به لاسو د محرم درلودو پوښتنه وکړي، که چېرې محرم و نه لرئ، کېدی شي د هغوی لخوا وا نه خیستل شئ.

۱۰۵ مرکه، ۲۰۲۲.

۱۰۶ مرکه، ۲۰۲۲.

۱۰۷ اې اف پي، "افغان ښځې نه شي کولی پرته له نارینه مل څخه سفر وکړي: طالبان"، ۲۶ ډسمبر ۲۰۲۱، france24.com/en/live-news/20211226-no-trips-for-afghan-women-unless-escorted-by-male-relative-taliban. محرم هغه نارینه خپلوانو ته ویل کېږي چې ښځه نه شي کولی واده ورسره وکړي. د نورو معلوماتو لپاره، وال سټریټ جورنال وګورئ، "د طالبانو نویو قوانینو په له افغان ښځو سره مل کس اجباري کړی دی"، ۲۵ مارچ ۲۰۲۲، wsj.com/articles/new-taliban-rules-impose-chaperones-on-afghan-women-11648200600

۱۰۸ د ډېلي، "طالبان به دا ځل څنګه حکومت کوي؟"، نیو یارک ټایمز، ۷ سپټمبر ۲۰۲۱، nytimes.com/2021/09/07/podcasts/the-daily/afghanistan-taliban-government.html

۱۰۹ بي بي سي فارسي، طالبانو ښځو ته امر کړی چې خپل مخونه وپوښي، ۷ مې ۲۰۲۲ (د طالبانو د بشپړې اعلامیې په شمول)، bbc.com/persian/afghanistan-61361210

۱۱۰ "طالبان افغان ښځې پرته له نارینه خپلوانو څخه هوایي سفر ته نه پرېږدي"، ۲۸ مارچ ۲۰۲۲، france24.com/en/live-news/20220328-taliban-ban-afghan-women-from-flying-without-male-relative؛ په هرات کې عامه پارکونه؛ اې اف پي، "طالبان د ډرېورۍ ښوونکو ته وایي چې ښځو ته د ډرېورۍ لېسنس ور نه کړي"، ۳ مې ۲۰۲۲، ndtv.com/world-news/afghanistan-herat-taliban-tells-driving-teachers-to-stop-issuing-licenses-to-women-2942029. ښځو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغوی نه شي کولی د ډرېورۍ درسونو او په کابل کې لېسنسونو ته لاسرسی ولري. مرکې، ۲۰۲۲. wionews.com/south-asia/no-amusement-taliban-dictate-different-days-for-men-and-women-to-visit-fun-parks-466242

خو که محرم ولړئ او د طالبانو په چک پوائنټ کې وئ، نو تاسو به بیا هم د هغوی لخوا درول کېږئ... له ما څخه په یوه چک پوائنټ کې [پدې اړه] پوښتنه وشوه – نو زه اړ شوم چې دروغ ووایم او هغوی ته ووایم چې زه ناروغه یم او په کور کې داسې څوک نه لرم چې ځان سره یې بوزم... زه نه غواړم تل په زندان کې واوسم. دا به زما د کورنۍ لپاره د شرم ځای وي که حتی فقط یو ځل ونیول شم[111] ... دا کس کېدی شي د هغوی هر جنګیالی واوسي... حتی که زه دوکان ته د یوه کاغذ تشناب لپاره هم ځم، نو زه باید ځان سره خپل پلار بوزم.[112]

میرمنو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د محرم جبري په جبري کېدو سره د هغوی ورځنی ژوند ناشونی کړی دی. د لوګر ولایت اوسېدونکې ۲۳ کلنې فره وویل: "درې اونۍ مخکې زما پلار ناروغ وا او زه د باندې نه شوی وتلی. ما خپله کور والېړله ترڅو درمل راوړي. هغه درملتون ته لاړه او په لاره کې طالبانو ودروله او پوښتنه یې ترې وکړه چې ، ولې تنا ګرزې؟ په راتلونکې کې باید تنها و نه ګرزې،... که چېرې هغوی دا نیولې وای، نو زموږ کورنۍ به څه کول؟"[113]

د ننګرهار ولایت د پوهنتون زده کوونکې ۱۹ کلنه فریده د محرم د الزامې کېدو په تړاو خپلې لوجېستیکي ستونزې داسې بیانوي: "په افغانستان کې موږ ډېرې داسې کونډې او مېرمنې لرو چې خپل مېړونه او زامن یې د جګړې پرمهال له لاسه ورکړي دي. دا ناشونې ده چې هره مېرمن دې له کوره د وتو پرمهال ځان سره یو نارینه ولري. دا قانون د تطبیق وړ نه دی. که چېرې زه دنده ولرم او زما ورور هم دنده ولري، نو دا به د هغه لپاره ګرانه وي چې یو ځل ما ورسوي او وروسته بیا خپلې دندې ته ورسېږي. هغې زیاته کړه، "پدې سره هر سړی زیانمن کېږي – دا که په رواني یا بل هر لحاض وي."[114]

د کابل اوسېدونکې ۲۱ کلنې مېترا وویل، د محرم په تړاو وضوع شویو محدودیتونو په کورنیو کې لاندې په بلقوه ډول لاندې اغېزې رامنځ ته کړې دي:

د هغو کورنیو په اړه فکر وکړئ چې د کورنۍ ډېری غړي یې مېرمنې وي... پلار باید څه وکړي؟ کار ته لاړ شي؟ که خپله هر لور بدرګه کړي؟ پدې سره ژوند بطي کېږي [او] خورا ډېرې قربانۍ ته اړتیا لري... پدې سره به د اوږمهال لپاره ډېرې ستونزې را برسېره شي. په ټولنه او کورنۍ کې به د لوڼو او زامنو تر منځ خورا ډېر توپیرونه رامنځ ته شي... طالبان په خپلو دغو کارونو سره د مرد سالاري ترویجوي چې دا یو خورا خطرناک کار دی... زه پدې سره شرم کوم چې په دغه پېړۍ او دغه هېواد کې اوس هم دا کارونه ترسره کېږي... که تاسو سره محرم نه وي نو تاسو هېڅ یاست. تاسو د یوې مېرمنې په حیث ځان سره د نارینه محرم پرته هېڅ حقوق یا څواک نه لرئ.[115]

میرمنو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې په آزاد ډول د ګرځېدو په برخه کې د طالبانو لخوا وضع شوي محدودیتونو د دې لامل شوي چې هغوی خپل ډېری وخت په کور کې تېر کړي، چې د طالبانو تر راتګ مخکې حالت سره ډېر متفاوت دی. هدا چې پخوا یې د مالي مشاورې په حیث دنده ترسره کوله، د خپل ژوند ورته حالت بیانوي:

زه سهار وختي پاڅېدلم او په نورمال ډول وختي دفتر ته تللم. ما به خپله ورځ په صفایۍ او پخلي تېروله، زه نه غواړم هغه څه هېر کړم چې زده کړي مې وو، زه خپل د پوهنتون او نور کتابونه چې لرم یې مطالعه کوم... [و]روسته زه پخلي او د صفایۍ کارونو ته ادامه ورکوم. راتلونکې ورځ بیا دغه کارون په تکراري ډول ترسره کوم. دا د هغه څه په پرتله چې له کوره د باندې کار او زده کړه وکړې، خورا ستړی او پتنګ کار دی... په خوا زما عادت وو چې هره ورځ حداقل ۱۲ ساعته له کوره د باندې و اوسم.[116]

۱۱۱ د محرم له نه لرلو په هکله د طالبانو د خودسرانه نیولو او زنداني کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره ۶م فصل وګورئ.
۱۱۲ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۱۳ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۱۴ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۱۵ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۱۶ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۲ کلنه محصلې فېروزې ورته څرګندونې درلودې: "که تاسو په پوهنتون کې یاست، نو تاسو هره ورځ بیرون ته وزئ... ما بشپړ پروګرام درلود، او ما ډېر ملګري درلودل... اوس چې د سهاره قدم وهم، ځان سره هېڅ تقسیم اوقات او هدف نه لرم... که زه وغواړم یوازې د یوه چاکلېټ د پېر لپاره هم له کوره د باندې وزم، نه شم کولی دا کار وکړم. ځینې وخت سړی د باندې تازه هوا ته اړتیا پیدا کوي، خو موږ په کور کې حصارې یو... سړی دې ته اړتیا لري چې نور خلک ووینې."[117]

کله چې د متوسطه ښوونځي له زده کوونکې ۱۶ کلنې ثریا څخه د حجاب په تړاو د طالبانو د محدودیتونو په اړه پوښتنه وشوه، هغې زیاته کړه، "موږ په قفس کې یو. طالبانو د ټولو افغان مېرمنو لپاره افغانستان زندان جوړ کړی."[118]

لکه څنګه چې د مرکه شویو مېرمنو په څرګندونو کې جوته شوه، د طالبانو لخوا د ګرځېدو په برخه کې وضع شوي محدودیتونه د دې لامل شوي دي چې د جندر په برخه کې معیارونو په بلقوه ډول نور هم سخت شي، چې د کورنۍ ښځینه غړې کولی شي د ګرځېدو پرمهال یې عملي کړي او په کورنۍ کې د جنسیت په اساس کارونه سره تقسیم کړي.

د ځورونې سربېره، هغه مېرمنې چې په عامه ځایونو کې له محرم پرته لیدل کېږي د طالبانو لخوا د وهلو ډبولو سره مخ شوې دي. هغه نارینه محرم هم د طالبانو لخوا ډبول کېږي چې د *محرم* په حیث په پام کې نه نیول کېږي او د مېرمنو بدرګه کوي. د مثال په ډول، د کابل اوسېدونکې او د دفتر یوه کارمنده ۲۲ کلنه الهه وایي، چې د هغې د ټکسي ډرېور هغه مهال د طالبانو لخوا په چک پواینټ کې وډبول شوو چې کله ترې پوښتنه وشوه چې ولې له *محرم* پرته سفر کوي. "ما ټوله ورځ وژړل، حتی چې بېرته کور ته لاړم ژړم مې،" هغې زیاته کړه، "حتی کله چې هغوی ډرېور وهلو [ډرېور] بیا هم له ما څخه دفاع کوله."[119]

د افغانستان د مرکزي ولایت اوسېدونکې ۲۶ کلنه عسل وایي چې دا هغه وخت د طالبانو لخوا وډبول شوه چې غوښتل یې له *محرم* پرته ایران ته سفر وکړي.[120] په ۲۰۲۱ کې هغې په ایران کې د ماسټرۍ پروګرام پیل کړ، ترڅو د خپل کلي د هغه شخص سره له واده کېدو مخه ونیسي چې پلار یې اصرار ورباندې کاوا. هغه د سمتر په رخصتیو کې خپل افغانستان ته خپل کلي ته لاړه، څکه چې د هغې پلار ناروغ وا او پاسپورټ یې نه درلود، هغه اړ وه چې بېرته ایران ته تنها سفر وکړي. کله چې هغه له پولې څخه د اوښتو پرمهال وروستي چک پواینټ ته ورسېده، یوه طالب ولیده چې په یوازې ځان سفر کوي. هغې خپلې تجربې داسې شریکې کړې:

[طالب] راته وویل چې ته باید بېرته خپل کور ته لاړه شې. ما غوښتل هغه ته خپلې ستونزې بیان کړم... ترڅو خپلې زده کړې وکړم. هغه ډېر غصه وا... ما له هغه څخه وغوښتل چې پاسپورټ مې بېرته راکړي، او هغه همدا راته ویل چې تاسو امریکایان او کافر شوي یاست. وروسته هغه په مخ سره په څپېړه ووهلم.

هغه زه بل اتاق ته یوړم... هلته یو بل طالب ناست و، او دواړو زما په وهلو پیل وکړ... زما ټیکری له سره ولوېد، او هغوی په دواړو سره وهلم... د هغوی د یوه تن سره په لاس کې ځنځیر او د بل په لاس کې لین و. ځنځیر او لاین دواړه په پلاستیک سره پوښلي وو... ما ښائسته وېښتان درلودل چې هغوی راته ټول وایستل. بل څه چې زما په یاد دي هغه دا دي چې زما له پزې وینې بهېدې. هر څه راته تور او پیکه ښکارېدل... هغوی زه تر هغې ووهلم ترڅو بې حاله شولم.

---

۱۱۷ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۱۸ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۱۹ مرکه
۱۲۰ د دې پېښې نېټه، موقعیت او وخت د امنیت په موخه پټ ساتل شوي دي.

کله چې یو وخت کې ما سترګې وغړولې، نو د مازدیګر شاوخوا 4.30pm بجې وې، او ما و نه شو کولی هلته هېڅوک وونیم... ما بېرته خپل ټیکری په سر کړ. زه په یوه داسې خونه کې اچول شوې وم، چېرې چې دوی کثافات اچول... او زه په دغه کثافاتو کې پټه وم.... کېدی دغوه [دوه تنو طالبانو] دا فکر کړی وي چې زه مړه یم.[121]

عسل په یو ډول له خونې ووتله او د افغانستان په خاوره کې یې یو افغان چارواکي ته زارۍ وکړې چې د هغې پاسپورت او بکس پیدا کړي. هغه د ایران خاورې ته داخله شوه، او هلته یې خپله درملنه پیل کړه. هغې وویل "له اکسرې معایناتو وروسته دا جوته شوه چې زما د بدن ځینې هډوکي مات شوي ول." "زما ورمېږ به ټول وخت ګچ او بنداج وا، او ما د خپلې شا د درملنې لپاره فزیکي حرکاتو ته اړتیا درلوده... له پېښې درې ورځې وروسته، ما په بدن کې د ننه په ګېډه او شا کې خونرېزې درلوده، ځکه هغوی زه په لغتو وهلې وم."[122]

عسل زیاته کړه چې غوښتل یې په خلکو ته د پېښې په اړه خبر ورکړي خو د دغه کار له بدو پایلو وېرېدله. "هغې پوښتنه وکړه چې که چېرې زما کورنۍ په دې اړه پوه شي نو څه به کېږي؟" که تاسو وغواړئ خپله کیسه چا ته بیان کړئ، نو خلک به له تاسو نورې پوښتنې وکړي. هغوی به دا فکر وکړي چې زه اختطاف شوې یم. کله چې تاسو پدا ډول شرائطو کې په افغانستان کې ژوند کوئ، نو هغوی به مخکې له دې چې تاسو په خپل طبیعي مرګ مړه شئ، و به وژل شئ.[123]

په آزادانه ډول د ګرځېدو په برخه کې په نجونو او مېرمنو باندې د طالبانو لخوا لګول شوي بندیزونه د هغوی په اساسي حقونو لکه د تعلیم او کار حق چې پورته یې په اړه په ۴٫۲ او ۴٫۳ برخه کې تشرېح وشوه، باندې ناوړه اغېزې لري.[124] لکه څنګه چې په ۵م څپرکي کې بحث ورباندې وشوو، په نجونو او مېرمنو باندې د طالبانو لخوا لګېدلو بندیزونو د جنسیتي تاوتریخوالي په برخه کې هم د هغوی پّ ورتیاوو اغېزه کړې ده.

په آزاد ډول دې ګرزېدو په برخه کې د طالبانو بندیزونو د مېرمنو او نجونو په هغو ورتیاوو هم بلقوه اغېزې کړې دي چې د کورنۍ د غړیو د اصرار له المه د جبري ودونو سره ټراو لري. یوې مېرمنې چې په عامه ځای کې له محرم پرته ګرزېدلې او په خپل سر نیول شوې وه خپله کیسه داسې بیان کړه: "که تاسو وغواړې چې د باندې ووزئ، نو تایو باید ځان سره خپل پلار، ورور یا مېړه بوزئ... یو پلار نه شي کولی همېشه د خپلې لور سره د باندې لاړ شي، ورور هم ښائي مصروف وي... دا کار د دې لامل کېږي چې یوه مېرمن یا جلۍ ځان لپاره د محرم پیدا کولو په موخه باید واده وکړي."[125]

د هرات ولایت اوسېدونکې او د مېرمنو د حقونو فعالې ۲۰ کلنې افشین د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د طالبانو لخوا د *محرم* جبري کېدل د هغې لپاره یوازینی لامل وا چې واده وکړي. د طالبانو له راتګ وروسته، هغه داسې احساس کوي چې بندي ده. د هغې کورنۍ په ایران کې وه، ترڅو هغوی سره یو ځای او خپلې زده کړې تعقیب کړي، هغه له پولې څخه د تېرېدو په موخه *محرم* ته اړتیا درلوده. او که چېرې هغه د خپل پوهنتو لپاره په افغانستان کې پاتې کېدله، نو هغې به یو کس *محرم* ته اړتیا درلوده ترڅو هغې سره پوهنتون ته لاړ شي او خپلې ورځنۍ چارې پرمخ بوزي. هغې زیاته کړه، "زه د طالبانو او خپلې ټولنې لخوا دې ته اړ شوې وم چې *محرم* ولرم. ما دائم دا فکر کاوه چې خپلې زده کړې بشپړې کړم او د واده په اړه فکر وکړم، خو زه د داسې ستونزو سره مخ شوم." "دا هغه څه نه وو چې ما خپله ځان لپاره غوره کړي وو، بلکه دا زما د ژوند یوازینی انتخاب وو، ځینې وخت انسان دې ته اړ کېږي چې قرباني ورکړي، او خپلې هیلې او امېدونه هېر کړي."[126]

۱۲۱ مرکه، ۲۰۲۲.

۱۲۲ مرکه، ۲۰۲۲.

۱۲۳ مرکه، ۲۰۲۲.

۱۲۴ د دې راپور په ۶م فصل کې د طالبانو له خوا د هغو کسانو د خودسرانه نیولو او زنداني کولو په هکله نور معلومات چمتو شوي دي چې د *محرم* شرایط یې نه دي پوره کړي.

۱۲۵ مرکه، ۲۰۲۲. دا چې دا ښځه څنګه په خودسرانه ډول نیول شوې وه، په هکله یې په ۶م فصل کې معلومات راغلي.

۱۲۶ مرکه، ۲۰۲۲.

۴٫۵ جامې

"په لومړیو کې مور نه شوو کولی رنګینې جامې واغوندو. وروسته هغوی مور ته وویل چې نور رنګین ټکري وا نه غوندي. وروسته له مور وغوښتل شول چې بشپړې تورې جامې واغوندئ. اوس خبره بورقې او د مخ بشپړو پټېدو ته رسېدلې ده. نور به مور سره څه کېږي؟"

د پوهنتون زده کړیاله برېښنا[127]

وروسته له هغې چې واک ته ورسېدل، طالبانو په چټکۍ سره په رسمي ډول خپلې هغه تګلارې نشر نه کړې چې له مخې یې له مېرمنو غوښتنه کېده چې په عامه ځایونو کې باید ځانګړې جامې واغوندي. د دې پرځای هغوی د "سپارښتنې" تر عنوان لاندې داسې کمپائن په لاره واچاوه چې له ښځو غوښتنه کېده بورقه یا سرتاسري تور حجاب واغوندي. دغه سپارښتنې د ګڼ شمېر رسنیو لکه د بېل بورډونو یا لوحو او عامه تبلیغاتو له لارې نشرېدې، او هغوی خپلو سرتېرو ته امر کړی وا چې دغه قانون په خپلو چک پواینټونو عامه ځایونو لکه پوهنتونونو او روغتونونو یا د خپلو داخلي ګزمو له لارې په هغوی تطبیق کړي.

د ۲۰۲۲ کال د مې په ۷مه، د امربالمعروف وزارت خپل محدودیتونه نور هم شدید کړل او یوه داسې اعلامیه یې نشر کړه چې په هغې کې "بالغې مېرمنې" اړ وې چې خپل بدن له سر تر پښو پورې پټ کړي، او یو ځل بیا یې دا واضح کړه چې مېرمنې باید برقه یا اوږد تور حجاب واغوندي چې له سترګو پرته نور ټول بدن یې پکې پټ وي. همارنګه په دغه فرمان کې تر ټولو غوره حجاب له کوره نه وتل ذکر شوي دي. په دغه فرمان کې د کورنۍ مشر نارینه مسؤلیت لري چې په خپلو مېرمنو باندې دغه نوی قانون تطبیق کړي، او د سرغړونې په صورت کې به حتی هغه نغدي جریمه یا حتی نیول کېږي.[128] دغه فرمان په بلقوه ډول کولی شي په مېرمنې باندې د نارینه و نفوذ او کنترول نور هم ډېر کړي.

ګڼ شمې مېرمنو د بخښنې نړیوال سازمان سره د مرکې پرمهال د دغې اعلامیې پروړاندې خپل انزجار او نفرت وښود. د مثال په ډول، د کابل پوهنتو ۲۱ کلنې محصلې برېښنا داسې وویل:

مېرمنې او نجونې باید خپله پرېکړه وکړي چې څه غواړي ترسره یې کړي او څه واغوندي... زه خپله غوارم حجاب [د سر پړونی] ولرم، خو نه غواړم خپل مخ پټ کړم. دا دوه مختلف شیان دي... زه غواړم په ټولنه کې وپېژندل شم... که زه خپل ځان پټ کړم، نو زه به نوره زه نه وم... دا مزخرفات دي چې وايي مېرمن باید خپل ځان پټ کړي ترڅو نارینه ځان ته جلب نه کړي. سړی باید دغه کار ته د پای ټکی کېږدي. ښښه غواړم، زه به خپل ځان پټ نه کړم، زه نه غواړم په قفس کې ژوند وکړم ځکه، تاسو [نارینه] خورا کمزوري یاست چې خپل ځان نه شئ کنترولولی... دا ۲۱مه پېړی ده، او طالبان له مېرمنو غواړي چې یوازې تورې جامې واغوندي نه رنګینې جامې. جدي وایم، دا زما لپاره هېڅ مانا نه لري... طالبان پدې پوهېږي چې مور پرته له دې چې دغه قوانین ومنو، بل انتخاب نه لرو... که زه برقه رد کړم او پوهنتون پرېږدم، هغوی د میدان ګټونکي شول. که زه بورقه واغوندم دوی د میدان ګټونکي شول... زه هغه ځوک یم چې باید قرباني ورکړم.[129]

---

۱۲۷ مرکه، ۲۰۲۲.

۱۲۸ بي بي سي فارسي، طالبانو ښځو ته امر کړی چې خپل مخونه وپوښي، ۷ مې ۲۰۲۲ (د طالبانو د بشپړې اعلامیې په شمول)، bbc.com/persian/afghanistan-61361210

۱۲۹ مرکه، ۲۰۲۲.

د دایکنډي ولایت اوسېدونکې ۲۷ کلنه زینب د دغې اعلامیې په اړه خپل غبرګون داسې شریک کړل: "ولې موږ باید خپل مخ پټ او هغه څه پټ کړو چې په اصل کې یو؟... ما ټول ژوند [پړونی] په سر کړی دی، خو نه غواړم خپل مخ پټ کړم... زه همدا اوس چې تاسو سره خبرې کوم، نه شم کولی په سمه توګه ساه واخلم... کله چې مېرمنې خپل مخونه پټ کړي، هغوی به هېڅ وا نه وري او نه به څه ووینې."[۱۳۰]

د ننګرهار د پوهنتون محصلې ۲۲کلنې فېرزې د بخښنې نړیوال سازمان سره په مرکه کې وویل: "زه نه شم کولی دا کار وکړم. کله چې زه خپل مخ پټ کړم، نو سم احساس نه کوم. ساه نه شم اخیستی. هغې زیاته کړه: کله چې تاسو یو څوک د یوه کار د ترسره کولو لپاره مجبوره کوئ، هېڅوک به د هغې پروراندې د خوښۍ احساس و نه کړي. دا کار به تاسو نور هم په قهر کړي."[۱۳۱]

> **هغوی وایي [موږ باید] توري، ساده، او بې رنګه جامې واغوندو او خپل مخونه پټ کړو. کله چې تاسو همېشه یو رنګ جامې اغوندئ، نو ډېر به ترې په تنګ شئ... که چېرې هوا ګرمه وي، نو تاسو به ډېر ترې پتنګ شئ څکه کېدی شي تاسو په هغې کې ډېر ګرم شئ... زه غواړم په خپله خوښه هر رنګ مې چې خوښ وي هغه جامې واغوندم او څنګه څان پټ کړم.[۱۳۲]**

د کاپیسا ولایت اوسېدونکې ۱۹کلنې مېرمنې مریم د بخښنې نړیوال سازمان ته د جامو په اړه د طالبانو لخوا د وضع شویو محدودیتونو په اړه خپلې تجربې داسې شریکې کړې. "[طالبان] موږ دروي او وایي چې تاسو باید په هېڅ صورت خپل وېښتان لوڅ پرې نه ږدئ، او پتلون وا نه غوندئ. "موږ باید داسې حتی داسې بوټان په پښو نه کړو چې د [تلو پرمهال] آواز ترې پورته شي... زموږ عقیده په خپل زړه کې ده – موږ نه غواړو هغه په خپل بدن کې څرګنده کړو. دا په جبر سره کېږي."[۱۳۳]

میرمنې د طالبانو لخوا د جامو په تړاو له وضع شویو محدودیتونو څخه د سرغړونې په تور څورول شوې دې، ګواښل شوېې دي او ډېلو شوې دي. د مثال په ډول، بربښنا د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغه د خپلو جامو له امله نه شي کولی د مهمې آزموینې په ورځ پوهنتون ته د ننه شي. هغې زیاته کړه:

> **زه خورا اوږدې او پراخې جامې اغوندم، خو دا جامې تور نقاب یا بورقه نه دي. ما غوښتل پوهنتون ته د ننه شم چې [ښځینه ګارډې] تر لاس ونیولم او راته وویل چې تاسو نه شئ کولی پوهنتون ته د ننه شئ... زما ترټولو لویه هیله کابل پوهنتون ته داخلېدل وو... ما هېڅکله دا فکر نه کاوه چې زه به یوه ورځ د له پوهنتون څخه د باندې درول کېږم او د سمستر ترټولو مهمه آزموینه کې له ګډون څخه به منع کېږم... ما په هغې ورځ ډېر وژړل. نجونې هره ورځ د ورته پېښې سره مخ دي... دا مهمه نه ده چې موږ څه کوو، طالبان موږ سره خوښ نه دي.[۱۳۴]**

د تخار ولایت اوسیدونکي ۳۲ کلنه خبریاله مرسل هم د ۲۰۲۱ کال په نوامبر کې له دې امله د طالبانو لخوا وهل شوې وه چې په عام محضر کې یې لاس لوڅ وو. دغه پېښه د ماسپښین شاوخوا 1.30pm بجې هغه مهال رامنځ ته شوه چې مرسل خپل کور ته نیژدې مارکېټ ته په لاره وه. هغې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل، "ما به هره ورځ خپل نورمال کوټ آغوست. ما به خپله څنګل، لاس او مړوند د اړتیا په صورت کې لوڅول. په چک

۱۳۰ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۳۱ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۳۲ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۳۳ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۳۴ مرکه، ۲۰۲۲.

پواینټ کې یو تن طالب راته وویل ،لاس دې ولې داسې دی؟ لاس دې لوخ دی.، وروسته هغه زه په یوه اوسپنیز راډ باندې ووهلم."[۱۳۵]

د جامي اغوستو په برخه کې د طالبانو لخوا وضع شویو محدودیتونو د مېرمنو او نجونو په هغو ورتیاوو اغېزې کړې چې له خپلو نورو حقونو استفاده وکړي. دغو محدودیتونو د هغوی تګ راتګ محدود کړی دی، داسې چې ګڼ شمېر مېرمنې دا احساس کوي چې نه شي کولی په خوندي ژره له کوره ووزي، هغوی به له دغو محدودیتونو څخه د سرغړونې په صورت کې مجازات شي. همدارنګه د جامو اغوستو په اړه د طالبانو لخوا وضع شوي محدودیتونه کولی شي د تعلیم په برخه کې د مېرمنو او نجونو په حقونو باندې هم اغېز ولري.[۱۳۶] دغه محدودیتونه همدارنګه د کار په برخه کې د مېرمنو په حقونو باندې اغېز کوي، داسې چې د مخ پټول کېدی شي په ځانګړي ډول د ځینو مېرمنو هغه ورتیاوې تر اغېز لاندې راولي چې له مخې یې کولی شي خپلې اساسي دندې ترسره کړي.[۱۳۷]

د ۱۷ کنې مینا کیسه، د دیوالونو انځورګره او د ثانوی دورې زده کوونکې[۱۳۸]

مور یوه ډله انځورګرانې وو. مور به په دېوالونو باندې انځورنه کښل. دغه انځورونه به تخیلي او نور ډولونه ول. مور په خپله ډله کې درې تنې انځور ګرې وو.

له هغه راهیسې چې طالبانو د چارو واکې په الس کې اخیستې دي، هر څه یې له منځ وړي. د هغوی له واک ته رسېدو راهیسې زمور لپاره هېڅ تعلیم نشته، او نه هم د پخوا په څېر انځورګري شتونه لري. هغول له انځورګرۍ کرکه کوي. هغوی د بیان له آزادۍ هم کرکه کوي. کله چې هغوی راورسېدل، لومړی کار یې دا و چې په دېوالونو باندې زمور لخوا کښېنل شوي انځورونه او نقاشۍ تخریب کړي. که چېرې تاسو یوه مېرمن یاست او دا مو مسلک وي، نو دا کار اوس دلته ناشونی دی. اوس دلته هرڅه په ټپه ولاړ دي.

مور افغان نجونې خورا په سختۍ سره دغه ځای ته رسېدلې یو. خو اوس مور ټوله ورځ په کور کې ایساری یو. زه په کور کې زده کړه کوم. زه په کور کې خپل شته کتابونه مطالعه کوم. زه هڅه کوم چې ځان مصروف او راحت وساتم. زه ټوله ورځ د صفایی یا تنظیف کارونه کوم.

کله چې زه څو اونۍ مخکې بازار ته لاړم، ما یو مناسب پېونی او حجاب واغوست، خو زما پتلون ښکارېده. یوه طالب راته وویل، ،تاسو نه شئ کولی پتلون واغوندئ، دا *حرام* [منع] دی.، کله چې تاسو په ښار کې له کوره د باندې وزئ، نو تاسو به په واټونو باندې په بېل بوروونو کې د بورقې او حجاب تصویرونه وګورئ، چې هلته لیکي دي چې تاسو باید داسې ځان وپوښئ. هغوی ستاسو په ګرزېدو باندې محدودیت لګوي. کله چې تاسو له کوره د باندې وزئ، هغوی تاسو ته په څیره ګوري، او هڅه کوي ترڅو ستاسو د ځورولو لپاره پلمه جوړه کړي. نو زه له همدې امله ډېره د باندې نه وزم. حتی که عاجل ضرورت یا ناروغ هم پېښ شي، د ټکسي ډرېور هم مور له محرم پرته نه پورته کوي. دا زمور ژوند دی.

۱۳۵ مرکه، ۲۰۲۲.

۱۳۶ د نورو جزئیاتو لپاره د بشري حقونو څارونکې اداري ته مراجعه وکړئ، "د افغانستان د ښوونځیو په نجونو باندې د کالیو په برخه کې بندیزونه لګول شوي دي"، ۲۷ اپرېل ۲۲، hrw.org/news/2022/04/27/dress-restrictions-tighten-afghanistan-girls-schools. تعلیم ته په لاسرسي باندې د بندیزونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۴٫۲ برخه وګورئ.

۱۳۷ په کار باندې د بندیزونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۴٫۳ برخه وګورئ.

۱۳۸ مرکې، ۲۰۲۲. دا مرکه لنډه شوې ده.

کله چې هغوی په کابل کې د کورونو پلټل پیل کړل، زما کورنی وېرېدلې وه. [زما کورنۍ] زما ټولې هغه انځورګرۍ وسېزلې چې ما پخوا کړې وې. هغوی زما هر څه خاورې کړل، خو همدارنګه زه پدې سره نوره هم ځواکمنه شوم.

کله چې طالبان راغلل، ما خپله آزموینه ورکوله. ښوونځي تراوسه تړلي دي، که څه هو هغوی ژمنه وکړه چې پرانیزي به یې.

زه غواړم خپل ژوند ته دوام ورکړم. زه نه شم کولی ښوونځي ته لاړه شم، زه به تر خپله توانه پخپله زده کړې وکړم. زه کتابونه لرم او پوهېږم چې څنګه یې مطالعه کړم. زه پوهېږم چې نه شم کولی د پخوا په څېر خپله انځورګري په عامه ځایونو کې ننداري ته وړاندې کړم، خو کول شم په کور کې خپلې انځورۍ ته دوام ورکړم. دا پدې مانا نده چې زه به نور د خپل ژوند د پرمختګ لپاره کار نه کوم.

مور مې [له یوې لرې پرتې سیمې] کابل ته واستولم ترڅو زړه کړې وکړم. هغې ما ته وویل چې، هو اوس مور هر څه له لاسه ورکوو. مور ډېر شیان له لاسه ورکړل. که چېرې تاسو له دغې غمیزې څخه ځان بچ کړ، نو تاسو به په هر حالت کې بچ پاتې وئ... طبیعې ده چې که چېرې هرڅه ستا لپاره مهیا وي آسانه ده، خو که چېرې اوس تاسو خپله کار وکړئ، نو تاسو به هر هغه څه چې په ژوند کې یې هیله لرئ، ترلاسه کړئ. تاسو باید فقط او فقط خپله کار ته دوام ورکړئ.،

نړۍ باید پدې پوه وي چې مور له طالبانو وېرېدونکې نه یو. مور افغان مېرمنې له پخوا هم غښتلې شوې یو. طالبان پدې نه پوهېږي چې دغه دردونه مور نور هم پیاوړې کوي. مور به هېڅکله داسې یو حالت و نه زغمو. مور به د خپل غږ پورته کولو لپاره له مختلفو لارو چارو لکه لاریون او د هغوی پروړاندې له مبارزې څخه کار واخلو. دغه لارې چارې کېدی شي انځورګري، خلاقیت، میوزیک لیکنې او نور موارد و اوسي. مور پوهېږو چې مور څوک یو او څه ته اړتیا لرو. هغوی دا فکر کوي چې په مور باندې د بندیزونو لګولو له امله به زمور مخه ډب کړي، خو دوی به خپلو دغو هیلو ته و نه رسېږي. د افغان مېرمنو مخه هېڅوک نه شي نیولی.

۵. جنسي تاوتریخوالی[139]

"مخکې په افغانستان کې... د مېرمنو د ځورونې لپاره ګڼ شمېر لارې چارې موجودې وې. اوس چې طالبانو راغلي، ښځو سره د تاوتریخوالي لپاره نور هم بستر چمتو شوی دی."

د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره ارواح پوه اسما داسې وايي[۱۴۰]

"که چېرې د دا ډول قربانیانو لپاره سیستم او د غېږ اوربدنې مرجع موجوده نه وي، هېڅ هیله او امېد نشته."

د جنسي تاوتریخوالي په برخه کې قاضي پروین وايي[۱۴۱]

په ۲۰۲۱ کې د طالبانو له واکمنېدو مخکې، افغانستان د نړۍ په کچه یو له هغو هېوادونو څخه وا چې د مېرمنو پروړاندې د تاوتریخوالي لوړه کچه یې درلوده. په هرو ۱۰ مېرمنو کې ۹ هغو یې په خپل ژوند کې حداقل یو ځل د خپل خاوند لخوا د تاوتریخوالي تجربه درلوده.[۱۴۲] د دا ډول تاوتریخوالي د پېښو شمېره د پام وړ وه، خو ګڼ شمېر مېرمنو او نجونو حداقل د امن خونو او اړونده خدماتو لکه قانوني وکالت، طبي درملنې او د رواني روغتیا په برخه کې ملاتړ شبکو ته لاسرسی درلود. له هغه ځایه چې یاد سیستم محدودیتونه درلودل، هو هر کال به یې په زرګونو مېرمنو او نجونو ته خپل خدمات عرض کول.[۱۴۳] هغه میرمني او نجوني به چي دغو د امن کورونو ته د ننه کیدي، نو ډېری وخت به د په میاشتو حتی د یوه کال لپاره هلته پاتې کېدې، او هغوی ته به د مسلک په برخه کې مهارتونه او روزنه یا په پله بله مانا د اوږدمهال لپاره د عوائد چمتو کېدل. په ځینو مواردو کې له قربانیانو څخه د ژوند کولو لپاره د یوه نوي ځای په پیدا کولو کې ملاتړ کېدا.[۱۴۴]

۱۳۹ دا چې په افغانستان کې د جنسيتي خشونت د قرباني شويو نجونو او ښځو لپاره خدمات نړېدلي دي، په هکله یې نور معلومات د بخښنې په نړیوال سازمان کې وګورئ، "افغانستان: د طالبانو له واکمنېدو وروسته د جنسيتي خشونت قربانیان یوازې پرېښودل شوي دي"، ۶ ډسمبر ۲۰۲۱، amnesty.org/en/latest/news/2021/12/afghanistan-survivors-of-gender-based-violence-abandoned-following-taliban-takeover-new-research/

۱۴۰ مرکه، ۲۰۲۱.

۱۴۱ مرکه، ۲۰۲۱.

۱۴۲ یونما، "ملګري ملتونه د همکارۍ او تعهد غوښتنه کوي ترڅو د بشري ناورین په منځ کې د ښځو او نجونو په مقابل کې خشنت محوه کړي"، ۲۵ نومبر ۲۰۲۱، reliefweb.int/report/afghanistan/un-calls-solidarity-and-commitment-end-violence-against-women-and-girls-amidst

۱۴۳ د ملګرو ملتونو د ښځو له سازمان سره ویډیويي مرکه، ۲۳ نومبر ۲۰۲۱. د EVAW د قانون او له طالبانو څخه مخکې د جنسيتي خشونت د قربانیانو د ساتنې د خدماتو د سیستم په هکله د نورو معلوماتو د بشري حقونو څارونکې ادارې ته مراجعه وکړئ، *"ما فکر کولو چې شاید زموږ ژوند ښه شي": په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د خشونت محوې د قانون تطبیق.*

۱۴۴ د ملګرو ملتونو د ښځو له سازمان سره ویډیويي مرکه، ۲۳ نومبر ۲۰۲۱، او د خدماتو له چمتو کوونکو سره مرکې، ۲۰۲۱.

قربانیاني به د هیواد په کچه د ښځو چارو وزارت له ولایتي او مرکزي دفترونو، د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون، او همدرانګه د امن له خونو، روغتونونو او د پولیسو له مرکزونو څخه یاد سیستم ته معرفي کېدې. د قربانیانو دوسیې به د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي (EVAW) په اړه د ۲۰۰۹ کال د قانون په اساس چې د مېرمنو پروړاندې د جرمي پېښو لکه اختطاف، خیانت، جبري واده او له کار او ښوونځي څخه د مېرمنو او نجونو د راګرزولو په ګډون د جرمي پېښو په اړه له ۲۲مادو جوړ وا، څېړل کېدې.[۱۴۵] د EVAW د جرمي قانون د تنفیذ په موخه ځانګړې د قضا څانګه او ځانګړي محاکم تشکیل شوي وو.

د بخښنې د نړیوال سازمان لخوا د مرکه شویو خدماتي عرضه کوونکو په وینا، د جنسي تاوتریخوالي تر ټولو عام مورد وهل، تښتول، او د فزیکي او جنسي زور زیاتي نور ډولونه او همدارنګه د یوه ماشوم په حیث له وخت مخکې او جبري ودونه ول.[۱۴۶] قربانیانو به ډېری وخت روغتیایي درملنې ته اړتیا پیدا کوله. د ننګرهار ولایت اوسېدونکې د خدماتو عرضه کوونکې ۳۳ کلنې ابرېشم د هغو دوسیو ماهیت تشریح کړ چې د طالبانو له واکمنېدو مخکې په ګوته شوې وې:

[پېښې/دوسیې] زښته ډېرې وې. موږ داسې یوه دوسیه درلوده چې یو سړي د خپلې مېرمنې په ګوتو کې مېخونه ټک وهلي وو... [یوه] سړي یوه پېچکش اخیستې وه او د خپلې مېرمنې پوست یې ورباندې څېرلی وا... [ه]غه د هغې د بدن ډېری پوست په دغه پېچکش باندې څېرلی وا. د هغې درملنې یو کال وخت ونیوا... یوه داسې مېرمن وه چې د خپلې کورنۍ لخوا یې ډېر ظلمونه لیدلي وو. حتی هغې ته شو کولای نور له تشناب څخه استفاده وکړي.[۱۴۷]

۵٫۱ د سیستم نړېدل، د زندانیانو آزادېدل

څنګه چې طالبانو په افغانستان ولکه ټینګه کړه، د جنسي تاوتریخوالي له قرباني مېرمنو څخه ملاتړ – لکه د قانوني وکیل درلودل، طبي درملنه او د رواني روغتیا په برخه کې ملاتړ - دا هر څه له منځه لاړل. د امن کورونه وتړل شول او چارې یې د طالبانو لاس ته ولوېدې. په ځینو مواردو کې، طالبانو د هغوی کارکوونکي ځورولي او ګواښلي وو. د امن کورونو د بندېدو سره سم د هغوی کارکوونکي اړ شول چې ګڼ شمېر مېرمنې او نجونې بېرته خپلو کورنیو ته واستوي. نورې قربانیانې اړ وې چې د یاد مرکز د کارکوونکو سره په سړک او بل غیر مصؤن ځای کې ژوند وکړي.[۱۴۸]

د دایکندي ولایت اوسېدونکې او د خدماتو عرضه کوونکې حبیبه د هغو مېرمنو او نجونو کیسه کوي چې په یادو کورونو کې ساتل کېدې: ”موږ وېرېدلو چې کېدی شي طالبان د امن په کورونو بانې حملې وکړي... ځینې مېرمنې بېرته خپلو کورنیو ته سپارل شوې وې او ځینې نورې یې په کابل کې امن ځایونو ته لېږدول شوې وې، خو موږ نه پوهېږو چې هغوی ته به څه پېښ شوي وي. موږ په ګډوډیو کې خپلې ځینې {مېرمنې او نجونې} له لاسه ور کړې.“[۱۴۹]

---

۱۴۵ د ښځو پر وړاندې د خشونت محوې قانون (EVAW)، ۱ اګسټ ۲۰۱۹.

۱۴۶ مرکې، ۲۰۲۱. په دې راپور کې د "خدماتو چمتو کوونکی" هغه کسانو ته کارول شوي چې د جنسيتي خشونت د قربانیانو د ساتنې په شبکو کې کار کوي، لکه د امن خونو کارکوونکي، حقوقي متخصصین لکه څارنوالان او قاضیان، روغتیایي متخصصین او ښځو د چارو د وزارت کارکوونکي. د مرکه شویو کسانو مشخصې دندې معمولا د امنیت په موخه پټې ساتل کېږي.

۱۴۷ مرکه، ۲۰۲۱.

۱۴۸ مرکه، ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲.

۱۴۹ مرکه، ۲۰۲۱.

ځنګه چې طالبانو په ټول هېواد باندې واکمن شول، هغوی په سیستماتیک ډول په زرګونو هغه بندیان له بنده آزاد کړل چې ځینې یې د جنسي تاوتریخوالي په جرم محکوم شوي وو. د طالبانو یوه ویاند د بخښنې نړیوال سازمان سره د خپلې مرکې پرمهال دا موضوع رد کړه، او تاکید یې وکړ چې زندانیان د پخواني حکومت پرمهال آزادي شوي ول.[150] نو پدې توګه د عین شاهدانو څرګندونې او د لومړي لاس معلومات او همدارنګه د معتبرو رسنیو رپوټون ښئي چې د طالبانو غړي پدې کې مسؤل وو.[151]

له دایکنډي ولایت څخه د خدماتو عرضه کوونکې حبیبې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "[د دایکنډي ولایت په محبس کې] ۳۵۳ تنه زندانیان وو، چې شاوخوا ۱۰۰ تنه یې د جنسي تاوتریخوالي په تور نیول شوي وو... کله چې طالبان راغلل، هغوی د زندان ور پرانیسته او زندانیان وتښتېدل."[152] ۴۸ کلنې قاضي پروین چې د جنسي تاوتریخوالي د پېښو په برخه کې تخصص لري، وویل چې د هغو تر ۳۰۰۰ زیاتو کسانو په دوسیو کې دخیله وه چې د طالبانو تر واکمنېدو یو کال مخکې د جنسي تاوتریخوالي له امله محکوم شوي ول. هغې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "هرکله به چې [طالبان] لاړل، نو هغوی به زندانیان آزاد کړل... آیا فکر کوئ؟ چې په یوه میاشت کې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې تر ۳۰۰۰ ډېر دا ډول زندانیان آزاد شول... مېرمنې خوندي نه وې، ځکه هلته د یاد سیستم چې موږ جوړ کړی وا، هېڅ شی نه وو پاتې."[153]

۵٫۲ تاوترخوالې قربانیانې په جدي ګواښ کې

په جنسي تاوتریخوالي د محکومو زرګونو بندیانو د آزادېدو ترڅنګ د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره د مصؤنیتي خدماتو د سیستم نړېدل پدې مانا دي چې اوس دغه قربانیانې تر جدي ګواښ لاندې دي. د افغانستان له شمالي ولایت څخه د زینت په نوم یوې مېرمنې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل، چې هغه به د امن کور په کور کې له پناه اخیستنې مخکې د خپل خاوند او ورو لخوا په ځلونو وهل کېده، کله چې طالبان واک ته رسېدلي هغه او ګڼ شمېر نورې قربانیانې همداسې پرېښودل شوې دي، او اوس په تېښته ژوند کوي. زینت زیاته کړه، "موږ یوازې د یو جوړ جامو سره راغلو... زما ورور او زما خاوند دواړه زما دښمنان دي. که چېرې هغوی ما او زما ماشومان وویني، نو موږ به ووژني... زه مطمئنه یم چې هغوی به موږ لټوي ځکه هغوی اوس پدې پوه دي چې د امن کورونه تړل شوي دي."[154]

د امن کور یوې مشرې حریې چې اوسمهال د خپلو قرباني مېرمنو سره پټ ژوند کوي، وویل، "موږ نه شو کولی د باندې ووزو. موږ ډېر وېرېدلي یو... لطفا موږ له دغه ځایه وباسئ. که چېرې موږ له دغه ځایه و نه باسئ، نو دا پدې مانا ده چې تاسو زموږ د مرګ لپاره په تمه یاست."[155]

د خدماتو عرضه کوونکي زیاته کړه چې د جنسي تاوتریخوالي ګڼ شمېر قربانیانې اوس وروسته له هغه چې طالبانو زندانونه مات کړل، د خپلو خاوندانو یا کورنۍ د غړیو لخوا ځورول کېږي. د بامیان ولایت اوسېدونکې او خدماتو عرضه کوونکې ۴۲ کلنه زرګل د دغو مېرمنو او نجونو د خوندیتوب په اړه خپلې تجربې داسې شریکوي: "وروسته له هغې چې دغه قربانیانې آزادې شوې، هغوی زما د [تلفون] شمېره پیدا کړې وه او ماته یې زنګ

۱۵۰ د طالبانو له ویاند سهیل شاهین سره د غړیزې اړیکې له لارې مرکه، ۲۶ او ۲۹ نومبر ۲۰۲۱.

۱۵۱ اې پي، "طالبان چې یو وخت خپله زندانیان وو، اوس د کابل د زندان مسؤلیت پر غاړه لري"، ۱۴ سپټمبر ۲۰۲۱، apnews.com/article/prisons-afghanistan-kabul-taliban-a3de341dd61a335f4d6d711c38d71e4b؛ طلوع نیوز، "د طالبانو له خوا په نیول شویو سیمو کې ۱۰۰۰ زندانیان له زندانونو څخه خوشې شول"، ۱۱ اګسټ ۲۰۲۱، tolonews.com/afghanistan-174157؛ بي بي سي، "افغانستان: طالبان خپل نظامي زندانیان د کابل له زندان څخه آزاد کړل"، ۱۵ اګسټ۲۰۲۱، .bbc.co.uk/news/av/world-asia-58220304

۱۵۲ مرکه، ۲۰۲۱.

۱۵۳ مرکه، ۲۰۲۱.

۱۵۴ مرکه، ۲۰۲۱.

۱۵۵ مرکه، ۲۰۲۱.

یوې افغان مېرمنې په خپل کور کې انځور اخیستی. © Kiana Hayeri / دبښنې د نړیوال سازمان سره محفوظ دی

وواها او په مرګ یې وګواښلم. فکر وکړئ که چېرې هغوی زما شمېره پیدا کړي، څومره په آسانۍ به سره هغوی به څنګه بېرته خپلو مېړونو او کورنیو ته ورشي، او هغوی به وډبوي یا به یې ووژني؟[۱۵۶]

لکه څنګه یې چې پورته یادونه وشوه، ګڼ شمېر مېرمنې د طالبانو د راتګ سره سم د امن له کورونو بېرته خپلو کورنیو ته واستول شوې. د خدماتو عرضه کوونکو وویل چې دغه مېرمنې د تاوتریخوالي تر جدي ګواښ لاندې دي. د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو ارواح پوه اسما پدې اړه خپلې تجربې داسې شریکې کړې: "کله چې یوه مېرمن د کورني تاوتریخوالي یا د خپل خاوند له امله کور پرېږدي، نو د هغې کورنۍ او خسرګنۍ دواړه به دې ته غاړه کې نه ږدي چې هغه بېرته په خپل کور کې ومني... کېدی شي هغه د مرګ د ګواښ سره مخ شي... د هغې لپاره یوازینی خوندي ځای د امن کور دی."[۱۵۷]

د جنسي تاوتریخوالي دریو تنو قربانیانو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د حساب ورکونې د پخواني مکانیزم لکه دا ډول قضیو د څېړنې لپاره د ځانګړې قضایه څانګو او ځانګړیو محاکمو د له منځ تلو له امله، او همدارنګه د طالبانو د واکمنېدو سره د ټولنې د بدلون له امله، هغوی ته دا ګواښ متوجه و چې اولادونه یې د خپلو مېړونو لخوا چې ترې جلا شوي وو یا یې هغوی ته طلاق ورکړی وا بېرته ترې واخیستل شي. د لوګر ولایت اوسېدونکې ۲۷ کلنه نرګېس به د خپل مېړه لخوا چې د طالبانو غړی وا او د خپلې کورنۍ لخوا په مکرر ډول وهل کېده. هغې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "ما خپل مېړه هغه مهال پرېښود چې زوی مې څلور کلن وا. زما مېړه زما پزه او غاښونه مات کړي... حتی کله چې ما خپل ماشوم ته شیدې ورکولې هم د هغه لخوا وهل کېدم."[۱۵۸] تر شپږ کاله تاوتریخوالي وروسته، نرګېس له خپل مېړه جلا او د خپلو دوو ماشومانو سره یې د خپل پلار په کور کې ژوند پیل کړ. هغې

۱۵۶ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۵۷ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۵۸ مرکه، ۲۰۲۲.

ووېل کله چې طالبانو په لوګر کې د چارو واګې په لاس کې واخیستې، د هغې مېړه د خپل دوستانو په واسطه ورته پیغام واستاوا: له دې امله چې طالبان واک ته رسېدلي، اوس د "آزادۍ" احساس کوم او د اړتیا په صورت کې به خپل ماشومان بېرته درنه واخلم. له همدې امله به هغه او ماشومان یې تقریبا هېڅ وخت له کوره د باندې نه وتل. هغې زیاته کړه، "ماسره همېشه دا اندېښنه ده چې زما خاوند به یوه ورځ راشي او ماشومان به مې رانه وېسي. "زما د ژوند یوازیني ښه شی چې دي، هغه زما زامن دي."[159]

۵/۳ ساتونکي چې حفاظت ته اړتیا لري

ګڼ شمېر هغه مېرمنې چې د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره په رامنځ ته شوي سیستم کې یې کار کړی – لکه د امن کورونو کارمندانې، ارواح پوهانې، ډاکټرانې، قاضیانې، د ښځو چارو د وزارت او نورو اړونده ادارو کارکوونکې هم اوس د جدي ګواښ سره مخ دي. هغوی د طالبانو، د هغوی لخوا د جنسي تاوتریخوالي په تور د محکومو ازادو شویو زندانیانو، د کورنۍ د غړیو او داسې نورو د ګواښونو سره مخ دي.

د تخار ولایت اوسېدونکې او د خدماتو عرضه کوونکې ۴۰ کلنې پرې واش خپل حالت داسې بیان کړ: "وروسته له هغې چې طالبان واک ته رسېدلي، زه اړ شوم چې خپله د تلفون شمېره تغیر او خپل کور پرېږدم... ما ګڼ شمېر تهدیدونه ترلاسه کړل. زما په یاد دي چې یوه تلفوني اړیکه چې د آزاد شوي زنداني لخوا وه، ترلاسه کړه... هغه ووېل، ،ګوره تاسو هماغه یوه یاست چې زه مو زنداني کړی وم. اوس چې زه له زندانه آزاد شوی یم، زه به خپل انتقام له تا اخلم،"[160] د ننګرهار ولایت اوسېدونکي او د خدماتو عرضه کوونکي ابریشم ورته کیسه کوِ: "زه هره ورځ د طالبانو، آی ایس آی، آزادو شویو زندانیانو او د کورنیو د غړیو لخوا ګواښل کېږم."[161]

په حکومت کې پخوانۍ لوړپوړې چارواکې ۵۶ کلنې کبرا د بخښنې نړیوال سازمان ته ووېل: "زه همدا اوس په ۳۴ ولایتونو کې د ښځو چارو وزارت د چارواکو سره تلفوني ناستې لرم... هغوی ټول په پټه ژوند کوي. موږ ټول په وېره کې ژوند کوو."[162]

دغو د خدماتو عرضه کوونکو د بخښنې نړیوال سازمان ته د یوې تلفوني اړیکې له لارې غوښتنه وکړه چې د هغوی د خوندیتوب لپاره لاس په کار شي. له دایکنډي ولایت څخه حبیبې داسې ووېل، "موږ څو کاله د ښځو د ستونزو په برخه کې دنده ترسره کړې ده، او موږ به تل په لومړۍ کرښه کې فعالیت دنده ترسره کوله. نړیوالې ټولنې موږ هېرې کړې یو، او اوس موږ خوندیتوب ته اړتیا لرو."[163]

۵/۴ نویو دوسیو ته عدم رسیدګي

د هغو مېرمنو او نجونو لپاره چې د طالبانو له واکمنېدو وروسته د جنسي تاوتریخوالي ښکار دي، د ملاتړ او خوندیتوب مراجع ټولې له منځ تللې دي. د ښځو چارو وزارت او په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون – چې دواړه د مېرمنو د خوندیتوب اساسي مراجع وې – نور د مېرمنو لپاره خوندي ځایونه نه دي، د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره ځانګړې قضایي ځانګې او محاکم له منځه تلبي، داسې ښکاري چې طالبان د جنسي تاوتریخوالي په برخه کې د ۲۰۰۹ قانون ته اهمیت نه ورکوي، او د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره

۱۵۹ مرکه، ۲۰۲۲.
۱۶۰ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۶۱ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۶۲ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۶۳ مرکه، ۲۰۲۱.

ځانګړي شوي د امن کورونه تقریبا ټول تړل شوي دي. ارواښ پوه، اسما چې د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو په برخه کې یې دنده ترسره کړې، خپل وضعیت داسې خلاصه کړ: "طالبان د دا ډول دوسیو د څېړنو لپاره هېڅ طرزالعمل نه لري."[164]

سربیره پر دې، په آزاد ډول د ګرځېدو په برخه کې په مېرمنو باندې وضع شوي محدودیتونه او د *محرم* اجباري کېدل د هغو کسانو لپاره د جنسي تاوتریخوالي قربانیان دي او هلته د مرستې ترلاسه کولو په موخه تګ ته اړتیا لري، لا چارې سختې کړې دي.[165] د جنسي تاوتریخوالي د قربانیانو د دوسیو څېړونکې ۲۹ کلنې څارنوالې ستارې د بخښنې نړیوال سازمان ته پدې اړه داسې وویل: "پخوا مېرمنو کولی شول د ښځو چارو وزارت ته [چې اوس د طالبانو لخوا ملغا شوی دی] مراجعه کوله. هغوی کولی شوی هلته یوازې لاړې شي او دوسیه پرانیزي. خو اوس چې مېرمنې نه شي کولی له *محرم* پرته هېڅ ځای ته سفر وکړي، په ریښتیا هم دا یو سخت کار دی."[166] د بامیان ولایت اوسېدونکي او مېرمنو ته د خدماتو پخوانۍ عرضه کوونکې زرګل ورته کیسه کوي: "طبیعي ده چې [طالبان] وایي اوس [مېرمنو سره د جنسي تاوتریخوالي] په برخه کې هېڅ ډول نوې پېښه نه ده ثبت شوې. مېرمنې حتی نه شي کولی له خپلو کورونو د باندې ووزي. نو څنګه به وکولی شي پدې برخه کې د مرستې په موخه مراجعه وکړي."[167]

د جنسي تاوتریخوالي قرباني شویو مېرمنو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې دوی اوس د مراجعه لپاره هېڅ ځای نه لري. فاطمې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د طالبانو له واکمنۍ وروسته دا څو میاشتې وشول چې هغه د خپل خاوند او کورنۍ لخوا هره ورځ وهل کېږي. هغې زیاته کړه:

> **[زما خاوند] هر هغه څه په ما راخیستل چې په لاس به ورغلل او زه به یې پرې وهلم... کله به چې هغه زه وهلم، د هغه کورنۍ به راټوله شوله او زما ننداره به یې کوله... دا کار تقریبا هره ورځ ما سره کېدا... په لومړي ځل چې زه هغه په لین سره ووهلم... نو زما په ټول بدن تغمې راښکاره شوې.هغوی ټولو زما لاسونه او نوکان شکولي وو. وروسته له هغې وروسته زه یې فقط تر ملا لاندې وهلم. هغه به راته ویل چې په داسې ځایونو د وهم چې چا ته یې و نه ښې ښودی، لکه [ستا تناسلي محلونه او سنت].**[168]

فاطمه چې د نهو میاشتو میندواره وه، د بخښنې نړیوال سازمان ته د خپلې مرکې پرمهال وویل، چې هغه د خپل مېړه له لاسه له کوره تر تېښتې وروسته اوس د ځان لپاره د یوه جلا او خوندي ځای په لټه کې ده. "مځکې به د امن کورونو وو او موږ به هلته پناه ور وړله. ما له هغوی څخه غوښتنه وکړه چې پنا راکړي، خو هغوی وویل چې فعالیت یې بند شوی دی او نه شي کولی نویې پېښې ومني. اوس زما لپاره هېڅ بل انتخاب نشته."[169]

فریحې وویل کله چې پخواني امن کور ته ورغلم، هغې هلته یوه بله د جنسي تاوتریخوالي قرباني مېرمن ولیده چې د خپل مېړه لخوا د ظلم له امله یې پدې برخه کې له طالب څخه د مرستې غوښتنه کړې وه. طالب هغې ته ویلي وو چې هغې سره به په هغه صورت کې د طلاق اخیستنې په برخه کې مرسته کوي، چې د خپل مېړه پرځای هغه سره واده وکړي. "فاطمې زیاته کړه، "موږ نه شو کول غږ پورته کړو." که چېرې موږ خپل پورته کړو، کېدی شي ووژل شو یا جبري واده ته اړ کړای شو."[170]

۱۶۴ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۶۵ په ګرځېدو باندې د بندیزونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۴/۴ برخه وګورئ.
۱۶۶ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۶۷ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۶۸ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۶۹ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۷۰ مرکه، ۲۰۲۱. دا چې د جنسیت پر اساس د خشونت قربانیان څنګه په خودسرانه ډول نیول کېږي او واده کولو ته مجبورېږي، په هکله یې نور معلومات په ۶م فصل کې وګورئ.

داسي مؤثق معلومات په لاس کې نشته چې وښئي آيا اوس مهال د طالبانو له واکمنېدو وروسته په افغانستان کې د جنسي تاوتريخوالي په برخه کې د جرمونو کچه لوړه شوې ده که څنګه. نو پدې توګه، د فقر او بې کارۍ کچې د لوړوالي، د آزاد ګرزېدو او حجاب په اړه چې پورته يې يادونه وشوه په مېرمنو باندې د وضع شويو محدوديتونو له امله په کورونو کې د مېرمنو حصارېدل، او د پخوا په شان ورته دوسيو ته د رسيدګۍ د يوه سيستم نه شتون، هغه لاملونه دي چې په لوړ احتمال سره کولی شي د جنسي تاوتريخوالي پېښې ډېرې کړي.

د طالبانو تر واکمنېدو وروسته د توقيف خونو څلورو تنو کارکوونکو او يوې محبوسې مېرمنې د بخښنې نړيوال سازمان ته وويل چې د جنسي تاوتريخوالي ځينې قربانيانې چې پخوا به يې د امن په کورنو ژوند کاوه، او همدارنګه هغه مېرمنې او نجونې چې د جنيسي تاوتريخوالي قرباني شوې دي، اوس په افغانستان کې يوازې په دوه و توقيف خونو کې ساتل کېږي. لکه څنګه چې په ۶م څپرکې يې په اړه تشريح وشوه، دغه مېرمنې په خپل سر نيول شوې دي او په غير انساني وضعيت کې قرار لري، او هغو د طالبانو او نور نارينه و لخوا د جبري ودونو د ګواښ سره مخ دي.

هغه مېرمنې چې پخوا يې د جنسي تاوتريخوالي د قربانيانو په سيستم کې يې چې له کلونو هلو ځلو او زحمت وروسته رامنځ ته شوی وا، اوس د ياد سيستم د له منځ تلو کيسې کوي. د باميانو ولايت اوسېدونکې او په دې برخه کې د خدماتو عرضه کوونکې زرګل د بخښنې نړيوال سازمان ته وويل: ”همدا اوس چې زه تاسو سره خبرې کوم، د خبرې کولو سره سم لړزېږم. يوازې زه داسې نه يم، ګڼ شمېر افغان مېرمنو په دغه سيستم کې دنده ترسره کړې ده او دغه سيستم يې رامنځ ته کړی و... موږ په عين حال کې خورا اندېښمنې او ډېرې ناهيلې شوې يو."[171]

د جنسي تاوتريخوالي د برخې قاضي پروين خپله کيسه داسې بيان کړه:

> **۲۰ کاله مې کار وکړ ترڅو هر څه له صفر نه پيل کړم... زما هڅه دا وه چې خلکو ته سهولتونه ايجاد کړم، نو پدې توګه موږ يو داسې سيستم او کاري چاوکاټ رامنځ ته کړ چې له مخې به يې د مېرمنو ژوند خوندي کېدا. اوس موږ هرڅه له لاسه ورکړي دي – هرڅه مو چې جوړ کړي وو او درلودل مو اوس مو له لاسه ورکړي دي... موږ ډېر خطر په غاړه اخيستی... دا خورا ډېر شجاعت، قربانی او انرژۍ ته اړتيا لري چې يو شی له هېڅ څخه رامنځ ته کوې – او وروسته بيا هغه بېرته په هېڅ کې ضربېږي.**[172]

د امن کورونو يوه تنه مشره رحيمه ورته کيسه کوي: ”له ۲۰ کلنې مبارزې وروسته موږ بېرته شل کاله شا ته ولېږدو. دا هغه څه دي چې زما زړه يې را مات کړی. د جنسي تاوتريخوالي د قربانيانو لپاره د رامنځ ته شوي سيستم هر برخه اوس له منځ تلې ده."[173]

۱۷۱ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۷۲ مرکه، ۲۰۲۱.
۱۷۳ مرکه، ۲۰۲۱.

۶. د "اخلاقي فساد" او تاوتريخوالي له امله د تېښتې په تور په خپل سري ډول د نجونو او مېرمنو نيول

"داسې مېرمنې هم وې چې له رېګشاو او چاى خونو څخه نيولې شوې وې... ټولو مېرمنو دا خبره کوله چې زه نه پوهېږم ولې دلته راوستل شوې يم."

په توقيف ځايونو کې طالب سرتېرى[174]

د هغو اشخاصو په وينا چې د مېرمنو او نجونو لپاره د طالبانو په محبسونو کې يې دنده کوله، طالبانو په حداقل دوه و زندانونو ته داسې محبوسينې راوړي وې چې په خپل سر نيولې شوې وې، په خپل سر يې د طالبانو لخوا له وضع شويو محدوديتونو څخه د سرغړونې په تور نجونو او مېرمنې حبس کړې وې. نيول شوې مېرمنې معمولا د مبهم او نامعلومه"جرم" او اخلاقي فساد په تور توقيف شوې وې." د بخښنې نړيوال سازمان همدارنګه د دو تنو هغو منېرمنو سره هم مرکې درلودې چې د طالبانو لخوا د ورته جرم په تور په خپل سر نيول شوې او زنداني شوې وې. د "اخلاقي فساد" د تورونو سربېره، د زندان کارکوونکي او يوه تن پخواني زنداني وويل چې د جنسي تاوتريخوالي ځينې قربانيانوچې مخکې يې د امن په کورونو کې ژوند کاوه، په خپل سر نيول شوې وې او دغه زندان ته راوړل شوې وې. دا ډول پېښې کېدى شي د هېواد په نورو محبسونو کې هم روانې وي.

د زندان ساتونکو او پخوانيو زندانيانو وويل هغه مېرمنې او نجونې چې د "اخلاقي فساد" يا کورني تاوتريخوالي له امله د تېښتې په تور نيولې شوې دي، قانوني وکيل ته له لاسرسي څخه محرومې شوې دي او په زندان کې د وهلو ټکولو او نورو هر ډول غير انساني شرائطو سره مخ شوې دي.[175]

۱۷۴ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۱۷۵ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

هغه اشخاص چې په دې اړه معلومات لري، لکه د زندان کارکوونکي، په سختۍ سره پېژندل کېږي او په سختۍ سره د مرکې لپاره حضرېږي، ځکه هغوی پدې اړه د صریحو خبرو په صورت کې د طالبانو لخوا د جدي ګواښ سره مخ کېږي. د بخښنې نړیوال سازمان د خپلو معلوماتي سرچینو د محرمیت لپاره، د زندانونو موقعیتونه یا د کارکوونکو جنسیتونه او ځانګړی رول په دې مرکه کې نه دي مشخص کړي او پدې برخه کې یې د شاهد لپاره له مستعار نامه څخه استفاده نه ده کړې. همدارنګه پدې کې دا هم نه ده مشخصه شوې چې د زندان کوم ساتونکي څه ډول شاهدي ویلې ده، او موږ د هغو دوه مېرمنو د خبرو مهمې برخې له شاهدۍ څخه لرې کړې دي چې په خپل سري ډول نیول شوې او زنداني شوې وې. د دغه ځېرکي موندنې تر ډېره بریده د شپږو کسانو په مرکو متمرکزه ده او له همدې امله په پیل کې ځای ورکړل شوی دی. نو پدې توګه د هغوی د شهادتونه ثقه توب او وزن د طالبانو لخوا د مېرمنو او نجونو د پراخو خپل سرو نیونو او حبس کولو په اړه اندېښنې راپورته کړې دي. نو پدې اړه باید نورې څېړنې وشي.

۶،۱ خپل سرې نیونې او زنداني کول

د زندان څلورو تنو ساتونکو او همدارنګه یوه پخواني زنداني وویل چې په عامه ځایونو کې له *محرم* پرته د نجونو او مېرمنو د ګرزېدو له امله په خپل سره نیونو کې ډېروالی رامنځ ته شوی. هغه اشخاص چې په دغو لاملو نیول کېږي معمولا د "اخلاقي فساد" یا "*زنا*" په تور متهم کېږي. (له واده کولو پرته د جنسي رابطې د ټینګولو هڅه) له هغه ځایه چې د "اخلاقي فساد" لکه *زنا* په تور د مېرمنو او نجونو نیول له ډېره پخوا په افغانستان کې په یوه ستونزه بدل شوی، د طالبانو له راتګ مخکې په افغانستان کې د *محرم* د نه شتون له امله د مېرمنو او نجونو نیول رواج نه وو. دغه نیونې او بندي زنداني کول په خپل سري ډول دي، د جرمونو د مرتکبینو لپاره سزاګانې د منل شویو نړیوالو جرمي قوانینو په اساس نه دي، د مېرمنو او نجونو د هغو حقوقو د اعمال سره ټراو لري چې د نویوالو بشري حقونو لخوا تضمین شوي، لکه په آزاد او اجتماعي ډول ګرزېدل، او همدارنګه دغه نیونې او زنداني کول یو ډول تبعیض ګڼل کېږي.[۱۷۶]

د زندان یو تن کارکوونکي په خپل زندان کې وضعیت داسې باین کړ: "ځینې وخت هغوی هلکان او نجونې له چایخونو او یا هم هغه سړي او ښځې راولي چې په مارکېټونو کې یو ځای ګرزي، او یا هم هغوی په هغو مېرمنې پسې ګرزي چې *محرم* نه لري، ترڅو توقیف یې کړي... له دې مخکې په زندان کې دا ډول دوسیې نه وې... دا ډول پېښې میاشت تر بلې په ډېرېدو دي.[۱۷۷]

د زندان بل ساتونکي هم ورته د سرتګو لیدلی حال باین کړ: "موږ اوس د پخوا په اندازه د قتل او اختطاف دوسیې نه لرو. اوس د "اخلاقي فساد" دوسیې نورې ډېرې هم شوې دي... ځینې داسې ښځې شته چې رستورانت یا چای خونې ته له *محرم* پرته ځي... هغوی د طالبانو لخوا د ګزمې پرمهال په تصادفي ډول نیول کېږي... پدې برخه کې د پخوا په پرتله ډېر بدلون راغلی. [د دا ډول پېښو]په تعداد کې ډېروالی راغلی."[۱۷۸]

دریم کارکوونکي تشریح کړه چې وروسته له دې چې طالبانو ولایتونه ونیول، نو د هغوی سره په زندان کې کوم ډول زندانیان وو:

۱۷۶ د طالبانو له حاکمیت څخه مخکې د "اخلاقي فساد" په تور د نجونو او ښځو د نیول کېدو په هکله د نورو معلوماتو لپاره د بشري حقونو څارونکې اداري ته مراجعه وکړئ، *"زه باید تښتېدلی وای": په افغانستان کې د "اخلاقي فساد" له امله د ښځو او نجونو زنداني کول*، ۲۸ مارچ ۲۰۲۱، hrw.org/report/2012/03/28/i-had-run-away/imprisonment-women-and-girls-moral-crimes-afghanistan

۱۷۷ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۱۷۸ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

هلته یو بوډا ښځ وه چې د زړه ناروغي یې لرله. هغې وویل، 'زه یې په مارکېټ کې ونیول او دلته یې راوستلم'... یوه بله ښځه له خپلو دوو لوڼو سره هلته وه او له هغوی سره هېڅ سړی نه ؤ... هغه ډېر غمجنه وه. هغې وویل، 'موږ داسې خلک نه یو چې باید په زندان کې اوسو. ګاونډیان به څه وایي؟ خپلوان به څه وایي؟[179]

د پوهنتون یې زده کوونکې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغه په ۲۰۲۲ کال کې د "*زنا* کولو د هڅې" په تور او د *محرم* د نه لرلو له امله ونیول شوې وه. د توقیف پر مهال هغې لیدلي وو چې "پرته له *محرمه* ښځې او یا هغې ښځې چې پرته له خپل نارینه څخه به د باندې وتلې، نیول کېدې... کله چې زه په زندان کې وم، دا کال ډېر خله ترسره شو. یوازې ۱۰ سلنه زندانیانو ښځو رښتیا جرمونه درلودل، او پاتې ۹۰ سلنه د 'اخلاقي فساد' په تور نیول شوې وې."[180]

همدارنګه، په ۲۰۲۲ کال کې د یوه بین المللي غیر دولتي سازمان یوه ښځینه کارکوونکې له خپل نارینه همکار سره په ټکسي کې روانه وه ترڅو د یوه کور ارزونه ترسره کړي. طالبانو په یوه چېکپاینټ کې د هغوی موټر ودرولو او له ډرېور څخه یې وپښتل چې آیا دا سړی د دې ښځې *محرم* دی او که نه. طالبانو د هغې له نارینه همکار څخه وغوښتل چې له موټر څخه کوز شي، کله چې هغه کوز شو نو هغه یې پر مخ باندې په څپېړه ووهلو. ښځینه کارکوونکې غوښتل له هغه څخه دفاع وکړي او داسې څرګنده کړه، "یوه طالب ما ته ښکنځلې وکړې – 'اې لعنتي ښځې، ببرته په موټر کې کښېنه'، او زما همکار یې بیا په څپېړه ووهلو... له هغې وروسته زه ونیول شوم."[181]

هغوی د پولیسو تر ټولو نږدې مرکز ته راوستل شوې، او هغه او همکارانې یې د مرکز مشر ته وروستل شوې. د وروستو پېښو په هکله داسې وایي:

د مرکز مشر د ټیټې رتبې افسر ته وویل، 'دا دوه دې ولې دلته راوستلې؟' هغه ورته وویل چې موږ له یو بل سره اړیکه لرو او غوښتل مو چې په موټر کې جنسي رابطه ترسره کړو... د مرکز مشر وویل، "مېرمنې، ته نه شرمېږې؟' ما ورته وویل چې زه اسلامي زده کړې کوم، او د خپل دین په برخه کې په هر څه باندې پوهېږم، او پوهېږم چې څه سم او څه نا سم دي... ټول طالبان به چې [د پولیسو مرکز ته] وتل ننوتل په ما پورې به یې خندل... هغوی زه په بدو القابو یادولم، مثلا "سپی" به یې راته ویل.[182]

دا ښځه او همکار یې شاوخوا د درېو ساعتونو لپاره د پولیسو په مرکز کې وساتل شول، او بالاخره وروسته له دې چې د بین المللي غیر دولتي سازمان کارکووني هغوی ته زنګ ووهلو او له یوه طالب سره یې خبرې وکړې، هغوی آزاد شول. هغې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "د ورځې له خوا مې د ډار احساس نه کولو، خو د شپې له خوا مې ناوړه خوبونه لیدل او ډارېدم... ما پرېکړه کړې چې له دې وروسته به څان سره چاړه ګرځوم او که چېرې بل ځل داسې کومه پېښه کېدله نو ځان وژنه کوم."[183]

د زندان څلور واړو هغو کارکوونکو چې د مرکه ورسره شوې وه وویل چې ځینې هغه ښځې چې د جنسیتي تاوتریخوالي ښکار شوې وې او پخوا د امن په خونو کې اوسېدلې، د طالبانو له خوا ونیول شوې. د یوه توقیفي مرکز کارکوونکو وویل چې هغه ښځې د طالبانو له خوا په خودسرانه ډول نیول کېدې چې د طالبانو تر حاکمیت

۱۷۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۸۰ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۸۱ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۸۲ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۸۳ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

وروسته د جنسیتي تبعیض ښکار شوې وې. د یوه توقیفي مرکز یوې کارکوونکې وویل: "د امن د خونو ښځې له نورو سره ګډې شوې... داسې ښځې هم شته چې په زندان کې د جنسیتي تاوتریخوالي نویې قضیې لري. هغوی د خپل خاوند یا د خاوند د کورنۍ له خوا خشونت لیدلی او بالاخره زندان ته اچول شویې دي. ځینې ښځې په خپله طالبانو ته ورغلې او پوښتنه یې ځنې کړې 'ستاسو د امن خونې چېرته دي؟' [طالبان] هېڅ ځای نه لري نو ځکه یې په زندانونو کې اچوي."[184]

۶٫۲ د توقیف پر مهال خشونت

د زندان څلور واړو هغو کارکوونکو چې د بخښنې نړیوال سازمان مرکه ورسره کړې وه وویل چې هغه ښځې چې د طالبانو له خوا نیول کېږي – په شمول د هغو ښځو چې د "اخلاقي فساد یا له کور څخه د تېښتې په تور نیول کېږي – د توقیف پر مهال شکنجه کېږي او نور ناوړه چلندونه ورسره کېږي. د توقیف شویو ښځو پر وړاندې ځینې جنسیتي تخنیکونه استفاده کېږي، مثلا دا چې ښځې په زور سره له خپلو ماشومان څخه جلا کړي.

د زندان کارکوونکو وویل چې په زندانونو کې ښځې وهل کېږي، او یا په نورو ډولونو سره شکنجه کېږي، په ځانګړي ډول د تحقیق په وخت کې او یا زندان ته له راتګ سره سم. د زندان یوې کارکوونکې وویل:

هغوی د پولیسو په مرکزونو کې هغوی وهي... وروسته له وهلو یې معمولا د دوو یا دریو اونیو لپاره [د پولیسو په مرکز] کې ساتي. په دې موده کې د هغوی زخمونه ښه کېږي او بوازې داغونه یې پاتې کېږي... ښځې وایي چې هغوی وهل کېدې او فشار پرې راوستل کېدو ترڅو اعتراف وکړي چې جرم یې ترسره کړی دی، او په زور سره به یې ګوتې پرې لګولې. هغوی وایي، 'حتی که چېرې مو زنا کړې هم نه وي، موږ یې مجبوره کولو چې اعتراف پرې وکړو.'[185]

د زندان یوه بل کارکوونکي هم همدا بیان تأیید کړ: "[تحقیق کوونکو] به له سوکانو، لغتو او آن له کېبلونو او زنځیونو څخه کار اخیستلو... [ښځو] به ویل، 'موږ دا کار نه دی کړی، او نه غواړو اعتراف وکړو... خو له مجبورۍ یې پر ځان منو'... په لومړیو وختونو کې به یې له وهلو وروسته هغوی پټولې. خو کله به چې [ښځې] ښکاره شوې... په هغوی به داغونه وو."[186]

یوې ښځې چې د محرم د نه لرلو په جرم د طالبانو له خوا نیول شوې وه د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې طالبانو له نیول کېدو وروسته هغې ته په برقي ډنډو باندې برقي شاکونه ورکړي:

هغوی غوښتل زما [د قضیې] په ټولو جزئیاتو باندې پوه شي... هغوی ما ته برقي شاکونه راکړل... دا شاکونه یې په مخ، اوږو، غاړې، او نورو ځایونو راکول... هغوی غوښتل چې په لاسونو مې هم همدا کار وکړي ځکه چې دې کار ما ته ډېر درد راکولو... ما نه شوای کولی چې سم نفس وباسم. هغوی ما ته فاحشه، سپی او نور مشابه نومونه اخیستل. یوه طالب چې په لاس کې یې ټوپک ؤ وویل، 'زه به تا ووژنم او هېڅوک به و نه شي کولی چې ستا جسد پیدا کړي، حتی کورنۍ دې'... بیا به هغوی خندل.[187]

۱۸۴ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۸۵ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۸۶ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۸۷ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

د زندان یوې کارکوونکې وویل چې وروسته له تحقیق څخه به ښځې د توقیف د مرکزونو زېرزمینیو ته بېول کېدې ترڅو شکنجه شي. هغوی وایي:

> **هغوی یې د زندان په زېرزمینیو کې اچولې، او پښې او لاسونه به یې په زنځیرونو پرې تړل او په کېبل باندې به یې وهلې. قمچینې یې هم استفاده کولې. وروسته هغوی ما ته په خپل بدن باندې داغونه راوښودل. د هغوی په شا، پښو، لنګیو او څنګلو باندې داغونه او چاپونه لرل... هغوی په دې هکله له خبرو کولو وېره لرله... ما به له هغوی څخه پوښتنه کوله، 'ولې نه غواړئ چې زما سره خبرې وکړئ؟' او هغوی به ویل، 'که چېرې زه ستا سره خبرې وکړم نو هغوی مې زېرزمینۍ ته بیایي.'[۱۸۸]**

یوې ښځې چې په خودسرانه ډول نیول شوې وه وویل چې په زندان کې ښځې او نجونې د شکنجې له مختلفو ډولونو سره مخ وې. "[د زندان ساتونکو] زموږ د وهلو لپاره د اوبو له پیپونو څخه استفاده کوله. [هغوی] به زموږ چپ لاس له چپې پښې او ښی لاس له ښۍ پښې سره زموږ په مخ کې وتړل او په زنځیرونو باندې به یې قلف کړل، موږ به یې مخې ته ټیټ کړو او وهلو به یې، اکثرا به یې د اوبو په پیپونو باندې وهلو."[۱۸۹]

د زندان څلور واړو کارکوونکو وویل چې معمولا ځینې زندانیانې به چې زندان ته راوستل شوې نه په انفرادي زندانونو کې به اچول کېدې. د زندان یوې کارکوونکې په دې هکله داسې وویل:

> **هغوی به یې په تیاره کې بندي کولې... په داسې اتاقونو کې چې یخ به وواو کړکۍ به یې نه لرلې... هغوی ته به یې یو څه اوبه او ډوډۍ ورکول ترڅو مړې نه شي. د یو څه وخت لپاره به یې هغوی شکنجه کړې او وروسته له هغې به یې له نورو زندانیانو سره یو ځای کړې... یو خو شپې مخکې یې یوه پښتو لوڅې ښځه راوستله چې یو اووه میاشتنۍ ماشوم ورسره ؤ. د هغې شکنجه دا وه چې ماشوم به یې ځنې جلا کړ. هغه یې په یوه تیاره اتاق کې بندي کړه او ماشوم یې له نورو زندانیانو سره پرېښود. هغوی دواړو ژړل، خو نه یې شوای کولی چې سره یو ځای شي. هغه یې نه پرېښودله چې خپل ماشوم ته تی ورکړي.[۱۹۰]**

د زندان ټولو هغو کارکوونکو چې مرکه ورسره شوې وه وویل چې ښځې او نجونې په زندانونو کې له غیر انساني شرایطو سره مخ وې، مثلا په زندان کې ګڼه ګوڼه؛ په ژمي کې د تودوخې کموالی؛ کم او د ټیټ کیفیت خواړه؛ د حمامونو کموالی او د حفظ الصحې د توکو، کوټېکسونو، شامپو او صابون کمښت؛ او د بسترو او تختونو کموالی. د همدې ناوړه شرایطو له امله ډېرې ښځې او نجونې له جلدي خارښت او سپږو سره مخ شوې وې.[۱۹۱]

د زندان یوې کارکوونکې د زندان حالات داسې تشریح کړل: "په هر اتاق کې یو دوه منځله تخت دی، چې یوازې دوې ښځې استفاده ځنې کولی شي. نورې ښځې باید په غولي باندې څملي. له دې مخکې به ځینو سازمانونو ښځو ته کوټېکسونه او ماشومانو ته پمپر راوړل. خو اوس دا هر څه نشته."[۱۹۲] د زندان یوه بل کارکوونکي د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل:

---

۱۸۸ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۸۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۹۰ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۹۱ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۹۲ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

[د زندان] هر څه د طالبانو کورنیو او عسکرو یوړل، هېڅ هم دلته پاتې نه شول... په ژمي کې د زندان اتاقونه په کافي اندازه نه وي ګرم ځکه چې [په هر اتاق کې] یوازې یوه بخارۍ ده، او... درې ښځې په یوه کمپله کې ځملي... [دا ښځې او نجونې] صابون، شامپو، د غاښونو برس او کریمو ته لاسرسی نه لري. د دې ځای حفظ الصحه ډېره خرابه ده له همدې امله د جلدي ناروغۍ دلته ډېرې دي.[۱۹۳]

یوې ښځې چې په خودسرانه ډول نیول شوې وه، د خپل توقیف پر مهال یې د زندان شرایط داسې تشریح کړل:

د شپې له خوا موږ نه شوای کولی چې په سمه توګه ویدې شو ځکه چې د خوب لپاره کافي ځای نه ؤ موجود. بړستنې په کافي اندازه نه وې اوږدې او یخ مو پکې کېدلو. موږ یوازې کولی شول خپل مخونه او اوږې او یا خپلې پښې پکې وپوښو...

[یوې ښځې] دوې لوپې لرلې، او له نورو کسانو سره یې هېڅ ځای نه لرلو، نو مجبوره وه چې د تشناب د شا په کنج کې ځملي او ویده شي. هلته هر ځای لوند ؤ... نجونې ډېرې ناروغې شوې ځکه چې هغوی هم په همغه کنج کې اوسېدلې.[۱۹۴]

د زندان یوې کارکوونکي وویل چې هغوی نه پرېښودل کېدلې ترڅو ناروغه ښځې له زندان څخه د باندې ډاکټر ته بوځي او یا روغتیایي مراقبتونه ترلاسه کړي: "هغوی فکر کوي چې که چېرې دا ښځې له زندان څخه د باندې لاړې شي نو دوی په کافي اندازه سرتېري نه لري چې د هغې څارنه وکړي. همدا کار ځو ځله له نارینه، ښځینه او ماشومانو زندانیانو سره ترسره شوی دی. حتی که هغوی ډېره جدي ناروغي ولري او عملیات ته ضرورت ولري، بیا هم [هغوی همدا کار] ورسره کوي."[۱۹۵]

د زندان ټولو هغو کارکوونکو چې د بخښنې نړیوال سازمان مرکه ورسره کړې وه وویل چې نړیوالو څارونکو ته اجازه نه ورکول کېدله ترڅو د طالبانو له زندانونو څخه لیدنه وکړي. یوې کارکوونکي وویل: "پخوا به د بشري حقونو یوه څارونکې زندان ته راتلله او ټول به له هغې څخه ډارېدل، او هېڅ [زنداني] ته به چا شکنجه نه ورکوله. خو اوس دا هرڅه بدل شوي دي... د پوښتنې لپاره هېڅوک نشته."[۱۹۶]

۶٫۳ آزادېدل او د تقویف پایلې

یوې پخوانۍ زندانۍ او د زندان یوې کارکوونکې وویل، د طالبانو له خوا نیول شویو ښځو کولی شول چې د رشوت یا واسطې په بدل کې د طالبانو د یوه "کمیسیون" په مخ کې د استماعیې غونډې غوښتنه وکړي. پخوانۍ زندانۍ وویل:

که چېرې مو کورنۍ ستاسو سره مینه ولري او یا ستاسو په غم کې وي، نو کولی شئ په شاوخوا دریو میاشتو کې له زندان څخه ووځئ، ځکه چې تاسو کولی شئ په یوه یا دوو میاشتو کې د تحقیق چارې بشپړې کړئ او طالبان به تاسو یوه کمیسیون ته راوبولي. که داسې و نه کړئ نو په میاشتو میاشتو وخت به ونیسي.

۱۹۳ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۹۴ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۹۵ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۱۹۶ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

د طالبانو په زندانونو کې بندیان سړي او ښځې نه شي کولی چې د ځان لپاره وکیل ونیسي او له ځانه دفاع وکړي... که چېرې له طالبانو سره اړیکې ولرئ نو کولی شئ په آسانۍ سره له دې ځایه ووځئ... خو دا نظر هرې قضیې ته توپیر کوي، ځکه چې طالبان هېڅ منظم سیستم نه لري.[۱۹۷]

ټولو مرکه شویو کارکوونکو وویل چې نیول شویو ښځو ته کېدی شي په پاتې عمر کې د هغوی د کورنیو او یا ټولنې له خوا پېغورونه ورکړل شي او د ننګ لکه پرې پورې شي. د زندان یوې کارکوونکې د ښځو او نجونو د ننګ د لکې په هکله یوه بېلګه وړاندې کړه: "دوې کورنۍ وې چې ښځو [زندانیانو] به یې له خپلو کورنیو څخه ګواښونه ترلاسه کول. د یوې ښځې پلار وویل، ’که چېرې مې ما ته خپل لور راولېږئ... نو د هغې [د جسد] یوازې یوه ټوټه ما ته راوړئ‘... هغه ښځې چې د محرم د نه لرلو یا له هلک سره د اړیکې په تور نیول شوې وې، نو ډېری کورنیو به خپلې نجونې بېرته نه غوښتلې."[۱۹۸]

یوه ښځه چې په خودسرانه ډول نیول شوې وه، له آزادېدو وروسته د ننګ د لکې له امله مجبوره شوه چې بل ولایت ته وتښتي:

د افغان نجونو لپاره زندان ته تلل له مرګ څخه کم نه دي... کله چې د زندان ته ننوتلې، نو په تاسو باندې د ننګ ټاپه وهل کېږي چې په ټول عمر کې یې له ځانه نه شئ لرې کولی... د یو څه مودې لپاره مې پلار خبرې نه راسره کولې. یوه ورځ یې زه خپل اتاق ته وغوښتلم او یوازې یوه پوښتنه یې رانه وکړه: دا چې ولې مې د هغه بې غزته کړ؟... زما کورنۍ په ما باندې شرمېږي. نوره نه شم کولی له خپلو والدینو سره ژوند وکړم.. زما لپاره هېڅ اطمینان، د نفس عزت او ویاړ نه دی پاتې... دې هر څه په بشپړ ډول ماته کړې یم... زندان د تللو پېښې زما کورنۍ او زما راتلونکې برباد کړ.[۱۹۹]

د زندان ټولو هغو کارکوونکو چې مرکه ورسره شوې وه وویل چې طالبانو ښځینه زندانیانې مجبوره کولې چې د آزادۍ لپاره باید یا له هغوی او یا له نورو کسانو سره واده وکړي. دا د هغو ښځو په هکله ډېر صدق کوي چې له خپل خاوند یا کورنۍ څخه د خشونت له امله تښتېدلې وې. د زندان یوې کارکوونکې وویل: "[طالبان] وايي چې اجازه نه ورکوي چې دا ښځې له خپلو خپلوانو یا هغوی سره له واده پرته له دې ځایه ووځي. طالبان فکر کوي چې د دې ښځو د خلاصون لپاره یوازینۍ لاره د هغوی واده کول دي. حتی اوس هم همداسې پېښې ترسره کېږي."[۲۰۰]

د بخښنې نړیوال سازمان دوې داسې پېښې ثبت کړې دي چې طالبانو د هغو ښځو د آزادولو لپاره چې له جنسيتي خشونت څخه تښتېدلې دي هڅه کړې ترڅو هغوی مجبوره کړي چې له طالبانو سره واده وکړي.[۲۰۱] د زندان یوې کارکوونکې د دې ښځو په هکله داسې وویل: "هغوی د امن له خونو څخه راوستل شوې او کورنۍ یې بېرته هغوی نه غوښتلې. هغوی فکر کولو چې بل هېڅ انتخاب نه لري، نو له همدې امله مجبوره شوې چې واده وکړي. [په زندان] کې اوس هم له ۱۰ تر ۲۰ دې ته ورته ښځې موجودې دي... زه اندېښنه لرم چې هغوی هم کېدی شي له طالبانو سره واده ته مجبوره شي."[۲۰۲]

---

۱۹۷ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۱۹۸ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۱۹۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۰۰ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۰۱ د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۷ فصل وګورئ.

۲۰۲ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

یوې افغان مېرمنې په خپل کور کې انځور اخیستی. © Kiana Hayeri / دبښنې د نړیوال سازمان سره محفوظ دی

۷. د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه

"کله چې د طالبانو پالیسۍ ښځې او نجونو له ټولنې څخه محرومويء په ټولنو کې نا معینیت او ډار رامنځته کوي او نجونې عالي ښوونځیو ته نه پرېږي، نو دا د دې لامل کېږي چې آسیب پذیرې کورنۍ خپلې لوڼې له وخته مخکې واده کړي ځکه چې دا هغوی ته یوازینۍ پاتې انتخاب دی."

بصیر محمدي، مشر مدیر، د واده لپاره ډېر ځوان[۲۰۳]

د ۲۰۲۱ په ډسېمبر میاشت کې، طالبانو د ښځو د حقونو په هکله یوه "ځانګړې اعلامیه" نشر کړه چې په هغې کې یې له اجباري ودونو سره خپل مخالفت ښودلی ؤ. په اعلامیه کې راغلي وو "هېڅوک حق نه لري چې ښځې په اجبار او فشار سره واده کړي".[۲۰۴] د ساتنې عاملانو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د طالبانو غړو په هغو غونډو کې ګډون کړی ؤ چې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو پر وړاندې د پوهاوي په هکله د سازمانونو او ډلو له خوا جوړې شوې وې او حتی په دې غونډو کې یې خبرې هم کړې وې.[۲۰۵]

د طالبانو له واکمنېدو راهیسې په افغانستان کې د ماشومانو، له وختې مخکې او اجباري ودونو کچه لوړه شوې ده.[۲۰۶] لکه څنګه چې په لاندې برخه کې یادونه شوې، د دې لوړوالي لامل خپلمنځي عاملین دي چې ډېری یې په مستقیم ډول د طالبانو د سختګیرانه چلند څخه منشأ اخلي. د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په برخه کې د ملي او بین المللي سازمانونه غړو، په افغانستان کې د ښځو د حقونو مدافعینو او ځینو نورو ښځو چې د بخښنې نړیوال سازمان مرکه ورسره کړې وه وویل چې د ۲۰۲۱ د اګسټ راهیسې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو د کچې د لوړوالي معمول لاملونه دا دي: اقتصادي او بشري ناورین؛ د ښځو لپاره د

۲۰۳ د ویدیویي اړیکې له لارې مرکه، ۱۱ اپرېل ۲۰۲۲.

۲۰۴ د اطلاعاتو او کلتور وزارت، "د ښځو د حقونو په هکله د امیرالمؤمنین ځانګړې اعلامیه"، ۳ ډسېمبر ۲۰۲۱، moic.gov.af/en/special-decree-issued-amir-al-momenin-womens-rights#:~:text=1)%20Adult%20women's%20consent%20is,and%20or%20to%20end%20animosity

۲۰۵ د ساتنې د محلي فعالانو سره مرکه، ۱۱ او ۲۸ اپرېل ۲۰۲۲.

۲۰۶ د "اجباري واده" معنې دا ده "هغه واده چې د واده کوونکو یو اړخ په خپل آزاد فکر واده ته رضایت نه لري". د بشري حقونو د نړیوال قانون مطابق، د ماشومانو واده هغه واده ته ویل کېږي چې د واده کوونکو حد اقل یو اړخ له ۱۸ کلن څخه کم عمره وي. لیکن، د افغانستان د مدني قانون د ۷۰مې مادې مطابق، چې دا قانون د طالبانو تر واکمنېدو مخکې نافذ ؤ، د نجونو لپاره د واده قانوني سن ۱۶ کاله او د هلک لپاره ۱۸ کاله دی. په دې راپور کې 'له وخته مخکې واده' د هغو ودونو لپاره کارول کېږي چې له واده کوونکو څخه حد اقل یو کس له ۱۸ کالو څخه کم عمر ولري خو د دولتي قوانینو اکثریت تشکیل کړي. د بخښنې نړیوال سازمان په دې راپور کې د "د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه" اصطلاح کاروي ترڅو وکولی شي دا ټول موارد چې د بین المللي قوانینو له مخې "مضر اقدامات" ګڼل کېږي، په ځان کې ونغاړي. د دې اصطلاحاتو په هکله د نورو معلوماتو لپاره د جنسي حقونو پلان، د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو د اصطلاحاتو تحلیل، اګسټ ۲۰۲۳ وګورئ، sexualrightsinitiative.org/sites/default/files/resources/files/2019-04/SRI-Analysis-of-the-Language-of-Child-Early-and-Forced-Marriages-Sep2013_0.pdf

تعلیمي او مسلکي زمینو کموالی؛ د کورنیو له خوا ملموسه اړتیا چې باید خپلې لوڼې د طالبانو له غړو سره له واده څخه وساتي؛ د ځینو کورنیو له خوا د خپلو نجونو مجبورول ترڅو له طالبانو سره واده وکړي؛ او د طالبانو له خوا د ښځو او نجونو مجبورېدل ترڅو له هغوی سره واده وکړي.

هغه نجونې چې اجباري ودونو ته مجبوره کېږي، د پوهنتون د پرېښودو له لوړ خطر سره مخ کېږي؛ د خپلو خاوندانو له خوا له جنسیتي تبعیض سره مخ کېږي لکه جنسي تجاوز او د جنسیتي او کورني تاوتریخوالي نور ډولونه؛ او هغوی ته اجازه نه ورکول کېږي ترڅو ولادي روغتیایي خدماتو ته لاسرسی ولري او یا د ولادت لپاره خپل انتخاب ولري.[207] د مېندوارۍ او زیږون د وخت ستونزې په کم عمر کې ډېرې لیدل کېږي، او په حقیقت کې دا مورد په فقیرو هېوادونو لکه افغانستان کې د ۱۵ تر ۱۹ کلنو نجونو د مړینې اصلي دلیل دی.[208] همدارنګه هغه نجونې چې په کم عمر کې واده کوي د ولادي ناسور ناروغي چې د زیږون په کانال کې سوری پیدا کېږي او له هغې څخه په دوامدار ډول بولې او غایطه مواد وځي، له لوړ خطر سره مخ کېږي.[209] همدارنګه د ساتنې د ملي او بین المللي فعالانو اندېښنه ډېره شوې چې هغه نجونې چې له اجباري ودونو سره مخ دي د انساني قاچاق، جنسي سوء استفادې او جبري کار له لوړ خطر سره مخ دي.

د دې راپور لپاره د بخښنې نړیوال سازمان له هغو شپږو ښځو او نجونو سره مرکه کړې چې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو تجربې یې درلودې؛ له دې څخه ۴ ښځې او نجونې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو څخه تښتېدلې؛ او هغو ښځو او نجونو د کورنۍ ۱۰ غړي چې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو ته اړ شوې وې.

۷/۱ د لوړوالي کچه

مخکې د طالبانو له واکمنېدو څخه هم په افغانستان کې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو کچه د نورې نړۍ په پرتله لوړه وه. د بېلګې په ډول، ۲۸٪ هغه افغان ښځې چې له ۱۵ تر ۴۹ کالو پورې عمر لري، له ۱۸ کلنۍ څخه مخکې واده شوې دي.[210] د طالبانو له واکمنېدو راهیسې په افغانستان کې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په هکله په ملي کچه هېڅ ارزونه شتون نه لري. لیکن مختلف شاخصونه ښیي چې کچه یې لوړه شوې ده. د ۲۰۲۲ په مارچ کې یونیسیف وویل چې د هغوی د برنامو همکارانو راپور ورکړی چې د ښاري او کلیوالو سیمو په داخلي بېځایه شویو خلکو کې د ماشومانو د ودونو کچه لوړه شوې ده.[211] همدارنګه د ډېنمارک د کډوالو د شورا د کارکوونکو یوه غړي موږ ته وویل چې د هغوی د ساتنې د ملي نظارتي پروګرامونو د راپورونو له مخې، په افغانستان کې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په کچه کې "چټک لوړوالی" لیدل شوی دی.[212]

د Too Young to Wed سازمان له مخې، چې په افغانستان کې د ماشومانو د ودونو په برخه کې یو بین اللملي سازمان دی، په غور، هرات او بادغیس ولایتونو کې چې دوی فعالیت پکې لري د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه کچه په ډېره زیاته لوړه شوې ده.[213] د هغو کورنیو له ډلې څخه چې هغوی په خپله وروستۍ ګړندۍ سروې کې مرکه ورسره کړې وه، تقریبا یو ثلث یې داسې کورنۍ وې چې ښایي ډېر ژر یې خپلې نجونې اجباري

۲۰۷ د بشري حقونو څارونکې اداره، اخیستل شوې ژوندونه: *د ماشومانو د ودونو له امله د ښځو او نجونو د حقونو نقض*، ۲۰۱۱، hrw.org/sites/default/files/related_material/2011_Child_Marriage_Briefing_WRD.pdf

۲۰۸ یونیسف، *په افغانستان کې د ماشومانو د ودونو تشخیص، د یونیسف د غبرګون پالیسي*، مارچ ۲۰۲۲/۹/۱۱

۲۰۹ د بشري حقونو څارونکې، *افغانستان: د ماشومانو د ودونو او کورني تاوتریخوالي له منځه وړل*، ۲۰۱۳. hrw.org/sites/default/files/related_material/Afghanistan_brochure_0913_09032013.pdf

۲۱۰ یونیسف، "په افغانستان کې له اجباري ودونو له خطر سره مخ نجونې"، ۱۲ نومبر ۲۰۲۱

۲۱۱ د یونیسف د کارکوونکو له یوه غړي سره د ویدیویي تماس له لارې مرکه، ۴ مې ۲۰۲۲.

۲۱۲ د ډېنمارک هېواد د مهاجرینو د شورا له کارکوونکو سره د ویدیویي اړیکې له لارې مرکه، ۱۹ مې ۲۰۲۲.

۲۱۳ د غړیزې اړیکې له لارې مرکه، ۱۱ او ۱۵ مارچ ۲۰۲۲.

ودونو ته اړ کړې وای. د Too Young to Wed سازمان مشر، سټيفاني سېنکلېر وويل چې د دې کچو لوړوالی کېدی شي د خطر زنګ و اوسي، او وايي چې د دې هرڅه تمه هغوی لرله: "په افغانستان کې د ماشومانو د ودونو طوپان روان دی. دلته پلار سالاره دولت، جنګ، فقر، وچکالي، له ښوونځي څخه د نجونو منعه کول موجود دي – د دې ټولو فکټورنو په يو ځای کېدو سره... موږ پوهېدو چې د ماشومانو د ودونو کچه په آسمان ته رسېږي."[۲۱۴]

د بخښنې نړيوال سازمان د خپلو څېړنو په لړ کې د ساتنې له فعالانو او محلي فعالانو څخه مختلف راپورونه ترلاسه کړي چې د دوی په سيمو کې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو کچه لوړه شوې ده، دا مورد هم په ښاري او هم په کليوالي سيمو کې صدق کوي.[۲۱۵] د بېلګې په توګه، د ماشومانو د محافظت د شبکې يوه غړي وويل چې د ماشومانو ودونه "مخکې هم ترسره کېدل، خو د اوس په پرتله يې کچه ډېره ټيټه وه"، او يوې محلي ژورنالېستې وويل چې "اوس په هره کورنۍ کې حد اقل يو اجباري واده ترسره کېږي"، صرف نظر د هغوی له اجتماعي موقف څخه.[۲۱۶]

۷٫۲ د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو عوامل

د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په برخه کې د ملي او بين المللي سازمانونه د غړو، په افغانستان کې د ښځو د حقونو مدافعينو او ځينو نورو ښځو د وينا له مخې چې د بخښنې نړيوال سازمان مرکه ورسره کړې وه، د ۲۰۲۱ د اګسټ راهيسې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو د کچې د لوړوالي معمول لاملونه دا دي چې ممکن له يو بل سره تړلي يا منطبق هم اوسي: اقتصادي او بشري ناورين؛ د ښځو لپاره د تعليمي او مسلکي زمينو کموالی؛ د کورنيو له خوا ملموسه اړتيا چې بايد خپلې لوڼې د طالبانو له غړو سره له واده څخه وساتي؛ د ځينو کورنيو له خوا د خپلو نجونو مجبورول ترڅو له طالبانو سره واده وکړي؛ او د طالبانو له خوا د ښځو او نجونو مجبورېدل ترڅو له هغوی سره واده وکړي.

اقتصادي او بشري ناورين

د طالبانو له حاکميت راهيسې افغانستان له شديد بشري او اقتصادي ناورين سره مخ دی، او د ۲۰۲۲ په اپريل کې ملګرو ملتونو اټکل کړی ؤ چې د افغانستان ۹۵٪ نفوس کافي غذا ته لاسرسی نه لري.[۲۱۷] د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په برخه کې د ملي او بين المللي سازمانونه د غړو، په افغانستان کې د ښځو د حقونو د فعالانو په وينا او د ځينو رسنيزو راپورونو له مخې، بشري او اقتصادي ناورين د دې لامل شوی چې کورنۍ خپلې لوڼې واده کړي او په بدل کې يې "د ناوې بيه" ترلاسه کړي.[۲۱۸] همدارنګه کورنۍ هڅه کوي چې خپل مصارف راکم کړي. لېمه چې ۳۲ کلنه ده او په پنجشير ولايت کې ښوونکې او د ښځو د حقونو له مدافعينو څخه ده داسې وايي: "هغوی غواړي په کور کې لږ ډوډۍ خوړونکي کسان ولري."[۲۱۹] يونيسف وړاندوينه کوي چې په افغانستان کې د بشري ناورين رامنځته کېدل د دې لامل کېږي چې کورنۍ په لوړه کچه د ماشومانو

۲۱۴ د غړيزې اړيکې له لارې مرکه، ۱۵ مارچ ۲۰۲۲.

۲۱۵ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۱۶ د غړيزې اړيکې له لارې مرکه، ۲۸ او ۳۰ مارچ ۲۰۲۲.

۲۱۷ يو ان نيوز، " د ملګرو ملتونو بشري حقونه له متحده اياﻻتو څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان بنده شوې سرمايه آزاده کړي"، ۲۵ اپرېل ۲۰۲۲، news.un.org/en/story/2022/04/1116852. په افغانستان کې بشري او اقتصادي ناورين په هکله د نورو معلوماتو لپاره ۳م فصل وګورئ.

۲۱۸ په افغانستان کې د واده د رواجونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره د افغانستان د تحليل شبکه وګورئ، "د ښځې ولور: ښځو ته د پيسو ورکولو رواج په افغانستان"، ۲۵ اکتوبر ۲۰۱۶، afghanistan-analysts.org/en/reports/context-culture/the-bride-price-the-afghan-tradition-of-paying-for-wives/. دا چې افغان کورنۍ خپلې لوڼې خرڅوي، په هکله يې نور معلومات، د بېلګې په توګه، په ان بي سي نيوز کې وګورئ، "نغدو پيسو ته شديده اړتيا، افغان کورنۍ خپلې ځوانې لوڼې واده کولو ته خرڅوي"، ۲۱ نومبر ۲۰۲۱، nbcnews.com/news/world/afghan-families-sell-daughters-marriage-economy-collapses-rcna5829؛ واشينګټن پوست، "افغان نجونې د ماشومانو د ودولو يا په فرزندي خرڅولو له امله د ناورين په شعلو کې پرتې دي"، ۱۴ اپرېل ۲۰۲۲، washingtonpost.com/world/2022/04/14/afghanistan-girls-child-marriage-adoption/

۲۱۹ مرکه، ۲۰۲۱.

ودونه د خپل انتخاب په توګه په نظر کې ونیسي. د بېلګې په ډول، په یمن او جنوبي سوډان کې رامنځته شوې شخړې د دې لامل شوې چې د ماشومانو د ودونو په کچه کې تقریبا ۲۰٪ زیاتوالی راولي.[۲۲۰]

تورپیکۍ چې یوه ۴۰ کلنه مېرمن ده د بخښنې نړیوال سازمان ته یې وویل چې هغې خپله ۱۶ کلنه لور لیلا د مالي لاملونو له امله واده ته مجبوره کړه. تورپیکۍ آته کاله مخکې په هلمند ولایت کې په یوه هوایي حمله کې زخمي شوې وه، او دا کار د دې لامل شو چې تورپیکۍ مجبوره شي په کابل کې د داخلي بېځایه شویو کسانو کمپ ته راشي. هغې وویل چې د طالبانو تر حاکمیت وروسته یې د کورونو د پاک کارۍ دنده له لاسه ورکړې، ځکه چې کورنیو نور نه شوای کولی چې هغې ته معاش ورکړي او په دنده یې وګوماري. همدرانګه هغه باید د خپل زوی پور هم تادیه کړي چې په ۲۰۱۹ کال کې یې له یوې بلې کورنۍ څخه اخیستی ؤ. مخکې له اقتصادي ناورین څخه هغې دا پور په میاشتني قسطوار ډول تادیه کولو. خو کله چې اقتصادي ناورین رامنځته شو، هغه اوس نه شي کولی دا قسطونو پرداخت کړي. نو هغې خپله لور لیلا د پورورې کورنۍ زوی ته واده کړه او د ۳۰۰،۰۰۰ افغانۍ (تقریبا ۳،۳۹۰ امریکایي ډالر) پور یې پکې مجرا کړ. لیلا په خپل واده کې خپل احساس داسې بیان کړ: "مخکې ما لوبې کولې، او اوس زه هغوی [کورنۍ] ته کار کوم... زما زړه دا نه منله."[۲۲۱] تورپیکۍ وایي چې هغې بل هېڅ انتخاب نه لرلو. هغې وویل، "دا ښه وه چې ما یوه لور لرله ترڅو هغوی ته یې واده کړم – ګنې څنګه به مې دا پور خلاصولو؟"[۲۲۲]

تورپیکۍ وویل چې هغې باید د سینې عملیات ترسره کړي وای ترڅو موجود تومور ترې راوباسي، د دې کار لپاره یې ۷۰،۰۰۰ افغانیو (۷۹۰ ډالر) ته اړتیا لرله. د دې عملیات د پیسو د پیدا کولو لپاره هغې غوښتل چې خپله اووه کلنه لمسۍ چې وروسته د خپل زوی له مرګ څخه یې ساتلې وه، واده کړي. هغې وویل: "که چېرې مې لمسۍ یوې بلې کورنۍ ته ورکړم، نو زه به اړینې پیسې پیدا کړم او هغه به هم د اوسېدو لپاره یو غوره ځای پیدا کړي."[۲۲۳]

تورپیکۍ د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل، "ژوند له هیلو څخه ډک دی". "زه فقط دا هیله لرم: چې اولادونه او لمسیان مې د خوړلو لپاره ډوډۍ [او] د اغوستلو لپاره پایزار ولري... زه د شپې خوب نه شم کولی... خپل سر په دېوال تکیه کوم او اندېښنه کوم چې څنګه به خپلو ماشومانو ته ډوډۍ پیدا کوم. کله چې ساعت ته ګورم، پوه شم چې سهار شوی دی."[۲۲۴]

نازي ګل چې د اروزګان ولایت یوه ۵۰ کلنه مېرمن ته، اووه کاله مخکې یې زوی مړ شوی ؤ او اوس د خپلې کورنۍ لپاره یوازینۍ کس ده چې باید کور ته ډوډۍ پیدا کړي. هغې وویل چې د طالبانو تر حاکمیت مخکې یې د ګاونډیانو په خیریه مرستو ژوند تېرولو. هغې وویل "اوس هر څه بدتر شوي دي... مخکې به چې د یوه چا د کور مخې ته ودرېدلې نو هغوی به حتما یو څه درکول. خو اوس دوی هم څه نه لري چې چا ته یې ورکړي."[۲۲۵]

نازي ګل وویل چې د خپل ځان او کورنۍ د مړولو لپاره یې خپله اووه کلنه لور په ۴۰،۰۰۰ افغانۍ (شاوخوا ۴۵۰ ډالر) ولور واده کړې وه. د هغې د لور نوی خاوند ځوان ؤ او د هغوی د کورنۍ دوست ؤ. نازي ګل وویل چې د هغې لور ډېره کوچنۍ وه او نه یې شوای کولی دا درک کړي چې هغه واده شوې ده: "کله یې چې لومړی ځل زما لور واخیستله، هغې و نه ژړل. وروسته بېرته ما ته راغله. کله چې هغه دویم ځل بېرته لاړه [د خپل خاوند کور

۲۲۰ یونیسف، *په افغانستان کې د ماشومانو ودولو ته رسیدګي: د یونیسف د غبرګون ستراتیژي*، مارچ ۲۰۲۲.
۲۲۱ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۲۲ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۲۳ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۲۴ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۲۵ مرکه، ۲۰۲۲.

ته]، په ژړا یې پیل وکړ. هغه نه پوهېده چې دا د هغې نوې کورنۍ ده... هغه مخکې ابتدائیه ښوونځي ته تلله، خو اوس یې چې واده کړی نو هغوی یې نه پرېږدي چې ښوونځي ته لاړه شي."[۲۲۶]

مؤمن چې د بادغیس ولایت یو ۳۵ کلن اوسېدونکی دی د بخښنې نړیوال سازمان ته یې وویل چې هغه د بشردوستانه سازمانونو له مرستې مخکې غوښتل چې خپله اووه کلنه لور نجلا واده کړي. مؤمن د خپلو اقتصادي ستونزو په هکله وویل:

له طالبانو مخکې... شرکتونه، غیر دولتي سازمانونه، دولتي ادارات موجود وو او د کار لپاره یوه لاره پیدا کېده. د کار کولو او د پیسو د ګټلو لپاره حتما یوه لاره موجوده وه، خو له کله نه چې طالبان واکمن شوي دي، موږ ډېرې ستونزې لرو... داسې نه ده چې زه هڅه نه باسم... زه له کوره وځم چې روزانه وکړم، خو هېڅوک موږ ته اړتیا نه لري ځکه چې څوک د آبادۍ او جوړولو لپاره پیسې نه لري.[۲۲۷]

مؤمن د طالبانو له حاکمیت مخکې د افغانستان په ملي اردو (ANA) کې دنده لرله او د طالبانو سره په یوه جنګ کې زخمي شوی ؤ. د طالبانو تر واکمنېدو وروسته هغه او زوی یې د ډار له امله له بادغیس څخه کابل ته وتښتېدل ځکه چې هغه د پخواني دولت عسکر ؤ. کله چې هغه و نه توانېد چې کوم بهرني هېواد ته تخلیه شي نو هغه بېرته بادغیس ته ستون شو، خو هلته یې کور لوټ شوی ؤ نو مجبوره شو چې د خپلې کورنۍ د مړولو لپاره پیسې قرض کړي. هغه وویل چې قرضدارانو یې طالبانو ته عریضه کړې وه او طالب چارواکو هغه ته مراجعه کوله او په دوامدار ډول یې لیکونه ورته لېږل چې باید د خپلو قرضدارانو پیسې ورکړي. دې هرڅه مؤمن مجبوره کړ چې نجلا یوه ۴۰ کلن سړي ته چې د ګاونډي کلي اوسېدونکی ؤ، په ۱۲۰،۰۰۰ افغانۍ (۱،۳۵۰ډالر) ولور واده کړي.

مؤمن د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل:

څوک غواړي چې له خپلو ماشومانو سره داسې کار وکړي؟ ما بل هېڅ انتخاب نه لرلو... زه پوهېدم چې هغه به وخوربري. زه پوهېدم چې هغه به ستونزې ویني، خو زما پر مخ هره دروازه تړلې وه. دا سړی زما څخه مشر دی، او زه ډېر بد احساس لرم چې خپله لور مې هغه ته خرڅه کړې ده، خو فقر ستاسو سره داسې کارونه کولی شي چې هېڅ وخت مو یې فکر نه شو کولی. زه په دې سیمه کې یوازینی کس نه یم چې دا کار کوم... زه ۱۰ نور داسې کسان پېژنم چې د خپلو ماشومانو د مړولو لپاره یې خپلې لوڼې خرڅې کړې دي.[۲۲۸]

هغه وویل چې کومې پیسې یې چې د بشردوستانه سازمانونو څخه ترلاسه کړې وې هغه یې خپلو قرضدارانو ته ورکړې ترڅو خپل قرض ادا کړي. هغه وویل، "زه نه پوهېږم چې له دې وروسته به څه کوم،". "ژوند همداسې پر مخ ځي، زه مجبوره کېږم چې بیا نجلا خرڅه کړم."[۲۲۹]

د تعلیمي او مسلکي زمینو کموالی

په افغانستان کې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو بل عامل د طالبانو د سختګیرانه پالیسیو له امله په ښځو او نجونو باندې د تعلیمي او مسلکي زمینو تنګول دي – لکه دا چې هغوی د نجونو په عالي ښوونځیو

۲۲۶ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۲۷ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۲۸ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۲۹ مرکه، ۲۰۲۲.

یوې افغان مېرمنې په خپل کور کې انځور اخیستی. © Kiana Hayeri / دبښنې د نړیوال سازمان سره محفوظ دی

باندې بالفعل بندیزونه لګولي دي.[۲۳۰] لیدا چې په سرپل ولایت کې ښوونکې او د ښځو د حقونو فعاله ده موږ ته یوه داسې ساده بیانیه وړاندې کړه: "چونکه ښوونځي تړلي دي او کورنۍ د خپلو لوڼو لپاره هېڅ راتلونکی نه ویني، نو هغوی جبري ودونو ته مجبوره کوي."[۲۳۱]

د Too Young to Wed مشره سټېفاني سېنکلر تعلیم ته د نجونو د لاسرسي او د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو ترمنځ اړیکه داسې بیان کړه:

خلک تقریبا ټل ښځو او نجونو ته د هغوی د بدنونو او ظاهر لپاره ارزښت ورکوي. که چېرې هغوی تعلیم ته د لاسرسي کمښت ولري او و نه شي کړی چې په خپله ټولنه کې له مالي لحاظه برخه واخلي، نو موجود پلار سالاره سیستم د هغوی رول یوازې په واده، مورتوب او جنسي لذت پورې محدودوي. موږ باید په دې کې بدلون راولو ترڅو دې نجونو ته د مختلفو لارو او لاملونو لپاره ارزښت ورکړل شي... ښوونځي نجونو ته داسې مهارتونه ورکوي چې وکولی شي د خپل ځان او کورنۍ ملاتړ وکړي. همدارنګه کولی شي نجونو ته هغو پېښو په هکله بصیرت ورکړي چې دوی ورسره مخ کېږي. نو ښوونځی د هغوی لپاره یو محافظتي فکتور کېدی شي. که چېرې له هغوی څخه ښوونځی واخلئ، نو د هغوی اجباري ودول آسانه کېږي.[۲۳۲]

د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په برخه کې د یوه سازمان کارکوونکي وویل، "[طالبانو] په یوه اعلامیه کې څرګنده کړه چې د ماشومانو ودونه او اجباري ودونه منعه دي، خو وروسته دوی خپله نجونې له ښوونځیو څخه منعه کړې... نو دوی چې د اجباري ودونو د مخنیوي لپاره هر کار کوي بې معنا دی."[۲۳۳]

کریمه چې د غور ولایت یوه ۱۷ کلنه اوسېدونکې ده، کله یې چې په سیمه کې د طالبانو د موجودو بندیزونو له امله ښوونځي وتړل شول نور له یو ۲۱ کلن سړي سره واده کولو ته مجبوره شوه. هغه داسې څرګندوي:

دا پرېکړه زما پلار وکړه... ما فکر کاوه چې ښوونځي ته به ځم او د ښوونځي له بشپړولو وروسته به قابلګي وایم، دنده به پیدا کوم او وروسته بیا ممکن واده وکړم. لیکن کله چې هغوی زموږ ښوونځي وتړل... نور داسې څه نه شول پاتې چې زه یې ترسره کړم... زما هیله ټل دا وه چې پرمختګ وکړم او خپلو خلکو ته خدمت وکړم. خو داسې و نه شول، نو ما هم و نه غوښتل چې د خپل پلار د پرېکړې په مقابل کې ودرېږم او خفه یې کړم. زه مجبوره وم چې هو ووایم.[۲۳۴]

کریمې وویل چې د طالبانو له واکمنېدو راهیسې د هغې ډېری ټولګیوالې هم د "فقر" او د عالي ښوونځیو د تړل کېدو له امله ودونو ته مجبورې شوې وې. هغې وویل، "زما شاوخوا ۲۰ ټولګیوالې له همدې حالت سره مخ دي... [هغوی] اوس ودونه کوي ځکه چې ښوونځي تړلي دي."[۲۳۵]

خورشید چې یوه ۳۵ کلنه مېرمن ده او د افغانستان د یوه مرکزي ولایت اوسېدونکې ده د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې خاوند یې په وروستیو کې د کار د پیدا کولو لپاره پاکستان ته تللی ترڅو هلته روزانه وکړي، خو څو میاشتې کېږي

۲۳۰ په تعلیم او کار باندې د بندیزونو په هکله نور معلومات په ترتیب سره په ۴٫۲ او ۴٫۳ برخو کې وګورئ.
۲۳۱ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۳۲ د غریزې اړیکې له لارې مرکه، ۱۵ مارچ ۲۰۲۲.
۲۳۳ د ویډیويي اړیکې له لارې مرکه، ۱۹ مې ۲۰۲۲.
۲۳۴ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۳۵ مرکه، ۲۰۲۲.

چې له هغه څخه بېخبره ده.[۲۳۶] خورشید وویل چې هغه نه شي کولی د خپلو شپږو ماشومانو ساتنه وکړي. هغې د ۲۰۲۱ په سپټمبر کې خپله ۱۳ کلنه لور یوه ۳۰ کلن سړي ته واده کړې وه، او غوښتل یې چې خپله ۱۰کلنه لور هم واده کړي ځکه چې هغې هیله لرله چې دا لور به یې په راتلونکې کې د خپلې کورنۍ ملاتړ وکړي خو کله چې طالبان قدرت ته ورسېدل او د نجونو لپاره یې د تعلیم او کار زمینې تنګې کړې، د هغې هیلې هم نابودې شوې. هغې داسې وویل:

که چېرې هغوی عالي ښوونځي بند وساتي، زه به ډېره خواشینې شم. هغه پنځم ټولګي ته رسېدلې وه. ما غوښتل چې هغه نورې زده کړې هم وکړي. هغې کولی شول چې لوستل او لیکل وکړي، په انګلیسي خبرې وکړي، پیسې وګټي... که چېرې داسې و نه شي... زه به څنګه د هغې ساتنه کوم؟ [طالبان باید] زما لور پرېږدي چې زده کړه وکړي. زه هیله لرم چې دا لور به مې پرمختګ وکړي او له کورنۍ څخه به ملاتړ وکړي. که چېرې هغوی ښوونځي خلاص نه کړي، زه مجبوره کېږم چې هغه واده کړم.[۲۳۷]

نازي ګل چې د اروزګان ولایت اوسېدونکې ده او د مالي ستونزو له امله یې خپله اووه کلنه لور واده کړې وه وویل چې په ولایت کې یې د عالي ښوونځیو له بندېدو سره هغې په ټینګه غوښتل چې خپلې دوې لوڼې واده کړي، چې یوه شپږ کلنه او بله آته کلنه ده.[۲۳۸]

د طالبانو له غړو سره واده نه کول

د طالبانو له واکمنېدو راهیسې ډېرې کورنیو خپلې لوڼې په جبر سره واده کړې دي ځکه چې ممکن وو طالبان هغوی مجبوره کړي چې لوڼې یې دوی ته په واده ورکړي. جمیله چې په پنجشیر ولایت کې د یوه ابتدائیه او متوسطه ښوونځي مدیره ده، په خپله سیمه کې د دې پدیدې په هکله داسې وایي: "داسې شایعات وو چې ممکن طالبان راشي او د خلکو نجونې ورسره بوزي، زما ډېرې ملګرې له خپلو کاکا/ماما زامنو سره نامزادې شوې."[۲۳۹] د ساتنې یوه محلي فعال وویل چې هغه او د هغه سازمان په بادغیس ولایت کې هم دا پدیده لیدلې ده. هغه وویل، "بېړنۍ حالت ؤ او ډېره بې باوري موجوده وه، نو هغوی احساس وکړ چې دا به ښه وي چې په عزت سره له خپلو خپلوانو سره واده وکړي ترڅو د زورمندانو له تجاوز او جبري ودونو څخه خلاصې شي."[۲۴۰]

زلیخا چې په کابل ولایت کې د ښځو د حقونو فعاله ده وایي چې په دې وروستیو میاشتو کې چې هر کله له خپلو دوستانو سره خبرې کوي، یوازې یوه خبر اوري: "ما واده وکړ." هغې څرګنده کړه: ډېرې کورنیو خپلې لوڼې ودونو ته مجبوره کړې دي ځکه چې هغوی نه غوښتل لوڼې یې له یوه طالب سره واده وکړي. ډېرې کورنۍ نه غوښتل چې [لوڼې یې] له ستونزو سره مخ شي، نو ځکه ډېرې ځوانې نجونې له وخته مخکې ودونو ته مجبوره شوې دي."[۲۴۱]

نیسمه چې د غور ولایت ۱۶ کلنه نجلۍ ده د بشري حقونو د څار سازمان ته یې وویل چې په ولایت یې د طالبانو له حاکمیت راهیسې یې کورنۍ د هغې د سرنوشت په هکله اندېښمنه ده. د ۲۰۲۲ په فبرورۍ کې د هغې پلار هغه مجبوره کړه چې خپل ۳۶ کلن ملګري ته یې واده کړي. "زما کورنۍ وېره لرله چې طالبان به ما بوزي، نو ځکه [پلار مې] یو سړی پیدا کړ ترڅو زما واده ورسره وکړي... ما [له واده څخه مخکې] حتی له دې سړي سره خبرې هم نه وې کړې."[۲۴۲]

---

۲۳۶ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۳۷ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۳۸ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۳۹ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۴۰ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۴۱ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۴۲ مرکه، ۲۰۲۲.

نسیمې وویل چې د خاوند کورنۍ یې له هغې سره ښه چلند نه کوي. د هغې په سیمه کې عالي ښوونځي ترل شوي دي، خو هغه وايي چې که حتی ښوونځي خلاص هم شي، د خاوند کورنۍ یې د زده کړې دوام ته نه پرېږدي، دا په دې مانا ده چې هغه نه شي کولی د ډاکټرې کېدو هیلې ته ورسېږي. هغې وویل، "زه له دې واده څخه راضي نه یم. هېڅوک په هغه څه نه خوشحاله کېږي چې په زور ورباندې وشي."[۲۴۳]

د کورنیو له خوا په نجونو او ښځو باندې فشار ترڅو له طالبانو سره ودونه وکړي

د ښځو د حقونو فعالانو او ځینو نورو ښځو او نجونو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې ډېرې کورنیو خپلې لوڼې له طالبانو سره واده ته مجبورې کړې دي، ترڅو د خپلې کورنۍ ژغورنه وکړي. د بخښنې نړیوال سازمان د دې پدیدې په هکله ګڼ شمېر قضیې او اسناد موندلي دي، خو ښځو او نجونو کوښښ کړی چې له دې حالت څخه وتښتي؛ څېړونکو هڅه و نه کړه ترڅو له هغو ښځو او نجونو سره خبرې وکړي چې لا هم تر جبر لاندې دي او د طالبانو سره واده شوې دي، ځکه چې دا کار کېدی شي د هغوی لپاره خطر ولري.

مرضیه چې یوه ۱۹ کلنه نجلۍ ده، وايي چې هغه د ۲۰۲۱ په ډسېمبر کې د طالبانو سره واده کولو ته مجبوره شوه خو هغې مقاومت وکړ او دا کار یې ترسره نه کړ. د بخښنې نړیوال سازمان سره د خبرو کولو پر مهال هغه له مخکې له خپلې کورنۍ څخه تښتېدلې وه او په یوه بل ښار کې یې مصؤن کور ته پناه وړې وه. هغې وویل چې پلار او ورور یې د تېر حکومت په نظامي برخه کې دنده کوله، او د خپل ځان او کورنۍ د خوندي ساتلو لپاره یې غوښتل چې مرضیه یوه طالب غړي ته واده کړي. هغه وايي، "هغوی ما ته وویل، 'دا د طالبانو دولت دی. که چېرې له هغوی سره اړیکې ولرې نو خوندي به وې'... په څو محدود ورځو کې مې کورنۍ زما دښمنه شوه."[۲۴۴]

مرضیې واده قبول نه کړ. د دې کار په ځواب کې، د هغې ورو او پلار د مرضیې په وهلو ډبولو باندې پیل وکړ. هغې وویل چې کشر ورور یې ورته راغی او ورته ویې ویل، "هر څه ستا په غاړه دي – ته کولی شې د ټولو محافظت وکړې."[۲۴۵] کله چې د مرضیې کورنۍ د واده نه کولو په هکله د هغې پرېکړه و نه منله، نو هغې هڅه وکړه چې پاکې باندې خپل مړوند پرې کړي او ځانوژنه وکړي. څو ورځې وروسته د طالبانو د یوه غړي کورنۍ راغله ترڅو د هغې له کورنۍ سره ووینې، مرضیې هڅه وکړه چې هغوی یې مړوند ووینې. د طالب کورنۍ هم واده قبول نه کړ، او له هغې وروسته، پلار یې په هغې باندې ځوښ اوبه واچولې، او هغه یې په پښو او لنګیو باندې په لغته او سوکانو باندې ووهله. د دې لپاره چې د هغې د مړوندونو زخمونه پټ کړي، د مرضیې پلار او ورور هڅه وکړه چې د هغې جلد په ځوښ اوبو او یا غوړیو باندې وسوځوي.

مرضیې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل، "له هغې وروسته... زه باید له کور څخه تللې وای."[۲۴۶] هغې د امن خونو او هغو محافظتي ځایونو له تنظیموونکو سره اړیکې ونیولې چې تښتېدلې ښځې او نجونو هلته اوسېږي. هغې وویل، "اوس زه آزاده یم. لیکن په زړه کې اوس هم نه یم آزاده. خو زه خوشحاله یم چې اوس د وهلو ډبولو له امله د درد احساس نه کوم، خو نه شم کولی چې ګذشته هېره کړم... زه نه غواړم چې بل څوک زما په ځای پرېکړه وکړي او زما راتلونکی برباد کړي."[۲۴۷]

صابره چې د تخار ولایت ۱۷ کلنه نجلۍ ده وايي چې د هغې پلار هڅه وکړه چې هغه یوه طالب غړي ته واده کړي، ځکه چې هغه فکر کولو چې دا کار کولی شي زموږ د کورنۍ محافظت وکړي، او حتی کولی شي له پلار سره مې په دولتي پوستونو کې مرسته وکړي. هغې وویل چې پلار یې لومړی ځل د ۲۰۲۱ په نومبر کې له هغې سره په دې هکله خبرې وکړې، او یو څو ورځې وروسته یې هغې ته وویل چې د هغې لپاره یې مناسب

۲۴۳ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۴۴ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۴۵ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۴۶ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۴۷ مرکه، ۲۰۲۲.

سړی پیدا کړی دی. هغې د راتلونکو پېښو په هکله د بخښنې نړیوال سازمان ته داسې وویل:

مَیرې مې ما ته نوې جامې راکړې او راته ویې ویل چې باید ځان تیار کړم... زه نه پوهېدم چې څه روان دي. ما یو طالب ولید چې له دوو قوماندانانو سره زموږ کور ته راغلی. ما ولید چې هغه یو زوړ سړی ؤ – هغه مې د پلار په عمر ؤ. ما وویل چې نه، زه دا کار نه شم کولی... زه ډېره ډاره شوې وم... کله مې چې هغه سړی ولید، او یوه شوم چې کورنۍ مې غواړي ما هغه ته ورکړي، نو یوه شوم چې باید له کور څخه وتښتم.[248]

هغې وویل چې د دې کار په غبرګون کې یې کورنۍ هغه په یوه اتاق کې زنداني کړه او ۲۴ ساعته یې هغې ته خواړه نه ورکول. وروسته یې بیا مَیرې او نورو خپلوانو هغه ووهله. "[هغوی] راغلل او ویې ویل، 'ته باید له دې سړي سره واده وکړې. که چېرې واده و نه کړې، نو پلار به دې تا ووژني. که دې هغه و نه وژني نو موږ به دې ووژنو... دا ستا اختیار نه دی، موږ هر څه انتخابوو.' هغوی زه له ستوني رانیولم، په لغتو یې وهلم او له وېښتانو یې کش کولم."[249]

د بخښنې نړیوال سازمان سره د خبرو کولو په وخت کې هغه له مخکې له کور څخه تښتېدلې وه او په یوه نږدې ښار کې یې له خپلو لرې خپلوانو سره اوسېدله. هغې وویل چې که څه هم راتلونکی یې نا معلوم دی، خو غواړي بېرته ښوونځي ته لاړه شي او زده کړه وکړي: "زما یوازینۍ هیله دا ده چې: زده کړې وکړم، تعلیم یافته شم، په خپلو پښو ودرېږم، او د ځان لپاره یو څه وکړم."[250]

د طالبانو له خوا د نجونو او ښځو مجبورول ترڅو له هغوی سره واده وکړي

د بخښنې نړیوال سازمان موندلې چې طالبان له خپلو موقفونو، نفوذ او قدرت څخه په استفادې سره نجونې او ښځې مجبوروي ترڅو له هغوی سره واده وکړي. د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په برخه د ملي او بین المللي سازمانونه وایي چې هغوی ګڼ شمېر داسې قضیې تعقیب کړې دي، خو دا پېښې د مجموعي پېښو یوازې یوه کمه فیصدي تشکیلوي. د دې څېړنې په لړ کې د بخښنې نړیوال سازمان د دې پېښو دوې قضیې مستندې کړې او د ګڼ شمېر نورو په هکله یې معتبر راپورونه ترلاسه کړل.[251]

صدیقه چې د شمالي ولایتونو یوه ۳۳ کلنه اوسېدونکې ده وویل چې یوه طالب قوماندان د هغې له خور، فرزانې سره په زور واده وکړ. فرزانه چې یوه ۳۴ کلنه ژورنالېسته او ټولنیزه فعاله ده، کله چې د ۲۰۲۱ په سپټمبر کې له خپلې کورنۍ سره اوسېدله، نو یو طالب قوماندان له دوو موټرو سره د هغوی کور ته راغلی. هغې یې وړاندیز قبول نه کړ، په غبرګون کې یې قوماندان هغه او د هغې کورنۍ وګواښله.

قوماندان وروسته د دوی کور ته داخل شو او ویې ویل چې هغوی ټول به تر نظارت لاندې ونیسي. د واده لپاره هېڅ رسمي مراسم ترسره نه شول. "هغه وویل، 'زه ملا یم، او په هر څه پوهېږم.' هغه یوه دعا وویله او وروسته یې راته وویل چې موږ *نکاح* [حقوقي تړون] وکړه."[252] صدیقې وویل چې طالب قوماندان په دوامدار ډول فرزانه وهي او هغه او کورنۍ یې په شفاهي ډول ګواښي. صدیقه وایي، "کله چې یو څوک مړه شي، نو پوهېږئ چې نور نه دی موجود. خو کله چې په داسې شکل مو د کورنۍ کوم غړی له لاسه ورکړئ، او پوهېږئ چې هغه په تدریج سره مړ کېږي، نو دا ډېره ستونزمنه ده."[253]

۲۴۸ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۴۹ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۵۰ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۵۱ دوې دې ته ورته پېښې په ۶م فصل کې راغلې دي. د بخښنې نړیوال سازمان معتبر راپورونه ترلاسه کړي چې حد اقل دوې ښځینه زندانیانې د طالبانو له خوا واده ته مجبوره کړی شوې وې ترڅو له هغه زندان څخه خلاصې شي چې زنداني وې پکې.

۲۵۲ مرکه، ۲۰۲۲.

۲۵۳ مرکه، ۲۰۲۲.

افغانې میرمنې عکس لپاره دریدلي © کیانا هایری / د بخښنې نړیوال سازمان

فرزانې او کورنۍ یې غوښتل چې د ۲۰۲۲ په فبرورۍ کې وتښتي، اوس په یوه بل ښار کې پټ شوي دي. صدیقه وایي چې فرزانه تل په دې ډار کې ژوند کوي چې د قوماندان یې پیدا نه کړي. هغه وایي چې د فرزانې نیم وېښتان سپین شوي دي، او وزن یې له لاسه ورکړی او ډېر خراب حالت لري. صدیقې وویل، "خور به مې تر مرګ پورې تر تعقیب او ډار لاندې وي... [طالب] زما کورنۍ ته توهین وکړ؛ مور، زموږ کور، زموږ راتلونکی، زموږ شخصي ژوند یې را خراب کړل... هغې موږ له داخل څخه مړه کړلو [او]... پر موږ یې ډولې دروازې وتړلې."[۲۵۴]

نسترن چې د تخار ولایت اوسېدونکې ده وویل چې کله چې طالبانو د ۲۰۲۱ په اګسټ کې واک ته ورسېدل، یوه طالب د هغې ۱۵ کلنه لور مجبوره کړه چې له هغه سره واده وکړي. دا چې طالبان څنګه د هغې کورنۍ ته ورسېدل، داسې یې تشریح کوي:

دا سړی یوه شوۍ ؤ چې موږ درې نجونې یو، هغه زموږ کور ته راغی او ویې ویل، 'ستاسو نجونې څېرته دي؟' ... زما خاوند ورته وویل چې زموږ رواج داسې نه دی. خلک راځي او د نامزادۍ لپاره باید دوې، درې یا څلور میاشتې په تمه پاتې شي. طالب د باندې کوڅې ته ووت او وروسته بیا درې خلې داخل راغی – راغی، لاړ، راغی، لاړ – او ویې ویل، 'اوس دا دی درې خله پوره شول.' دا شریعت دی، نو ته یې هم باید قبول کړې.' زما خاوند وویل چې نه. طالب وویل چې موږ ملا لرو، او همدا اوس به *نکاح* وتړو. سړي وویل، 'موږ حق لرو چې ستا لور په *نکاح* کړو.' نو هغوی نکاح وکړه او نجلۍ یې له ځان سره بوتله.[۲۵۵]

نسترن وویل چې له همغې ورځې راهیسې یې خپله لور نه ده لیدلې او تقریبا اووه میاشتې کېږي چې له هغې څخه هېڅ خبر نه لري. هغې وویل چې کورنۍ یې یوه بل نږدې ښار ته تللې او ډېره کمه له کوره وځي، تر څو وکولی شي خپلې دوې نورې لوڼې له اجباري واده څخه وژغوري.[۲۵۶]

۲۵۴ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۵۵ مرکه، ۲۰۲۲.
۲۵۶ مرکه، ۲۰۲۲.

د بصيرې کيسه، هغه څوک چې خپلې کورنۍ يې جبري واده ته مجبوره کړې وه [257]

ما ۴۰ ورځې مخکې واده وکړ. زما کورنۍ هغه کوله چې د ښوونځي په وخت کې ما واده کړي. ما هغه کوله چې پياوړې پاتې شم، او هغه مې کوله چې خپلې زده کړې بشپړې کړم. ما د واده لپاره درې خواستګاران لرل. ما له هېڅ يوه سره واده کول نه غوښتل.

وروسته بيا له دې سړي سره نامزاده شوم، خو زما هغه نه ؤ قبول. د خپلې کورنۍ له خوا مې دې کار ته مجبوره شوم. ما غوښتل چې له واده څخه وتښتم. زه پوهېدم چې وروسته له واده څخه به مې خاوند وهي، څکه حتی د نامزادۍ په وخت کې يې هم وهلم.

روان اقتصادي حالت په ټولو باندې اغېزه کړې. زما خاوند يو ټولنيز فعال ؤ، خو اوس يې د خپلې پخوانۍ دندې ټول اسناد پټ کړي دي. هغه د اقتصادي ستونزو له امله لېونۍ کېږي او ما وهي... هغه ټل خپلو همکارانو او ملګرو ته وايي چې دنده ورته پيدا کړي.

کله مې چې خاوند ما وهي، له ټوکې نه راته وايي چې ما به حلاله کړي او مړه به مې کړي. هغه وايي چې دا کار به د خپلې ساتېرۍ لپاره وکړي. کله مې چې خاوند له ستوني څخه رانيسي نو راته وايي، 'کله چې ته ژاړې زه خوند اخلم.' زما په ټول ځان باندې د وهلو آثار موجود دي. له وهلو ډبولو وروسته زه بايد دوه ځلې ډاکټر ته تللې وم.

ما زده کړې کولې ترڅو وکولی شم چې ډاکټره شم، خو زما خاوند داسې نه غوښتل. په دوو نورو کالونو کې ما کولی شول چې د اسلامي زده کړو ښوونکې اوسم، هره ورځ [پوهنتون ته د تللو] کرايه ۲۰ افغانۍ [شاوخوا ۰٫۲۵ ډالر] کېږي، چې دا ډېرې پيسې دي. نو زه مې غواړم خپل زېورات وپلورم، او ډېر مې پلورلي هم دي ترڅو وکولی شم په راتلونکي سمستر کې ګډون وکړم.

زه ټل غواړم چې له خاوند سره مې آشتي وکړم او هغه آرام کړم. حتی ما هغه ته وويل، که زه دې نه خوښېږم، کولی شې ما پرېږدې. خو په افغانستان کې طلاق اخيستل د يوه فرد او کورنۍ د مرګ په مانا دي. که چېرې ما کولی شو نو ما به هغه په يوه ثانيه کې پرېښې ؤ.

هغې زه په پيسو اخيستې يم، او زه مجبوره يم چې ژوند ورسره وکړم. هغوی ټل ښځو ته د توکو او وسايلو فکر کوي او د اولاد د زيږولو او د کور د کارونو لپاره يې يوه وسيله ګڼي. موږ د انسان په توګه د ژوند کولو حق لرو، نه دا چې د يوې وسيلې په توګه استفاده شو.

---

۲۵۷ مرکه، ۲۰۲۲. دا مرکه لنډه شوې ده.

۸. سوله ییز لاریون کوونکي

"ما د طالبانو له لاسه خپل هر څه له لاسه ورکړل. د همدې لپاره لاریون ته لاړم."

د ښځو د حقونو لپاره لاریون کوونکي[۲۵۸]

"موږ چغې ووهلې، خو شاید زموږ دا چغې د نړیوالو د اورېدلو لپاره کافي نه وې."

د ښځو د حقونو لپاره لاریون کوونکي[۲۵۹]

د طالبانو له خوا سیستماتیک تبعیض د دې لامل شوی چې ښځې او نجونې په ټول افغانستان کې یو لړ سوله ییز لاریونونه په لاره واچوي. د دې لاریونونو په غبرګون کې طالبانو د دې ښځو او نجونو د بیان د آزادۍ، د غونډو او ټولنو د جوړولو او د بشر اساسي حقونه تر پښو لاندې کړي او دابنځې یې ځورولې دي او ناوړه استفاده یې ځنې کړې ده، مثلا هغوی یې وهلې ډبولې دي او په برقي آلو باندې یې برقي شاکونه ورکړي دي.

د ۲۰۲۲ کال د مې میاشتې په ۳۰مه نېټه د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي په یوه مرکه کې وویل، "په تېرو نهو میاشتو کې په افغانستان کې هېڅ ښځه د سیاسي مخالفت یا د حکومت پر وړاندې د خپل غږ د لوړولو له امله نه ده توقیف شوې."[۲۶۰] دا خبره سمه نه ده. د بخښنې نړیوال سازمان موندلې چې په افغانستان کې ښځینه لاریون کوونکې په لوی لاس نیول شوې او توقیف شوې دي، په جبر سره له صحنې ورکې شوې دي، شکنجه شوې دي او نور فزیکي او رواني ناوړه چلندونه ورسره شوي دي. د دې څېړنې په لړ کې د بخښنې نړیوال سازمان له ۱۲ داسې ښځو سره مرکه کړې چې د طالبانو له حاکمیت وروسته یې د افغانستان په مختلفو سیمو کې یې په لاریونونو کې ونډه لرله، له دې ډلې څخه پنځه هغه یې په خودسرانه ډول نیول شوې او توقیف شوې وې.

د بخښنې نړیوال سازمان د خپلو سرچینو د محرم ساتلو لپاره نه غواړي د لاریون سیمې او د هغو توقیفي مرکزونو موقعیتونه مشخص کړي چې دا لاریون کووهکې پکې توقیف شوې وې، او دې ښځو د شواهدو لپاره مستعار نومونه هم نه دي استفاده کړي. د لاریون کوونکو د شخصي پروفایل او تجربو په هکله کلیدي جزئیات هم حذف شوي دي.

---

۲۵۸ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۵۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۶۰ نیوز ۱۸، "د طالبانو وزیر امیر خان متقي وایي چې د افغانستان په زندانونو کې یوه ښځینه وګړې هم نشته"، ۳۰ مې ۲۰۲۲، news18.com/news/world/news18-global-exclusive-not-a-single-woman-imprisoned-in-afghanistan-claims-taliban-minister-amir-muttaqi-5270311.html

د هغوی ځينې شهادتونه د بخښنې نړيوال سازمان او نورو ملي غير دولتي سازمانونو او رسنيو رپوټونو هم تصديق کړل. دا چې طالبان نه مني چې داسې پېښې واقع شوې دي، همدا خپله هم خطرناک مورد دی، ځکه چې دا ښځې له مهمو پروسو، مشورو ته له لاسرسي او د وضعيت له نظارت څخه محروموي.[۲۶۱]

۸٫۱ د ګرزېدو سرچينې

مرکه شويو ښځود بخښنې نړيوال سازمان ته وويل چې د لاريونونو انګېزه د طالبانو له واک ته رسېدو سره سم ورته پيدا شوه، او له خپلو ملګرو، پخوانيو همکارانو، ټولګيوالو او نورو کسانو سره يې په ليدنو يا مجازي ګروپونو کې په دې هکله محاورې او بحثونه لرل. يوې ښځې څرګنده کړه چې څنګه يې د لاريون کولو انګېزه ورته پيدا شوه او پرېکړه يې وکړه چې لاريون وکړي:

ما به تل خپل ورور ته ويل چې بايد يو څه وکړو. هغه به ويل چې دا د دې کارونو وخت نه دی. ما له خپلو همکارانو، کورنۍ او ملګرو سره هم خبرې وکړې. هغوی ټولو ويل چې دا مناسب وخت نه دی... ما په يوه [مجازي] ګروپ کې ګډون وکړ. ما خپل د کاکا/ماما/خاله/عمه زامن/لورګانې او ملګري هم دې ګروپ ته وابلل... ما هغوی ته وويل چې موږ بايد ژر تر ژره له نږدې سره وګورو، او بيا بيا به سره ګورو... ما ويل... [موږ بايد لاريونونه وکړو] حتی که ۱۰۰ ځله هم وي، يو ځل کافي نه دی. موږ ډېر خطر په ځان ومنلو، او بايد هر څه مو ښه پلان کړي وای.[۲۶۲]

يوې بلې لاريون کوونکې خپل تجربه داسې څرګنده کړه:

زه نه پوهېدم چې څه وکړم... ما نه شو کړلی چې دا حالت وزغمم چې هره ورځ د ننه وسوځم او هېواد مو د تيارې طرف ته لاړ شي. نو زه هم له لاريون کوونکو سره يو ځای شوم. زه دې ته د مسلک په سترګه ګورم، دقيقا لکه څنګه مې چې پخوانی مسلک ؤ... موږ د مختلفو مواردو لپاره خپل غږ پورته کولو: تعليم، کار، د خلکو توقيف کول... موږ د هر لاريون لپاره يو پلان لرلو... موږ يوازې لاريون کوونکې نه وو، بلکې موږ ژورنالېستان وو، مديران وو، همغږي کوونکي وو. موږ به دا کتل چې څوک په کومه برخه کې مهارت لري، او له هرچا څخه به مو په مختلفو برخو کې استفاده کوله.[۲۶۳]

ښځو وويل چې د دوی لاريونونه په مختلفو شکلونو ترسره شول، او تل يې هڅه کوله چې طالبان و نه شي کړی د دوی د لاريون مخه ونيسي او يا لاريون کوونکي توقيف کړي. لاريون کوونکو د لويو ښارونو په کليدي سيمو کې لويې ټولګې جوړې کړې او ځينې کوچني لاريونونه يې ترسره کړل؛ هغوی په مجازي نړۍ کې کمپاينونه په لاره واچول؛ او همدارنګه هغوی د کور د ننه ځينې فعاليتونه پيل کړل لکه د کتاب لوستل او د مناظرو ترسره کول. يوې ښځې د طالبانو د واکمنېدو په لومړۍ مياشت کې د لاريونونو په برخه کې خپله تجربه داسې وړاندې کړه:

هغوی د ژورنالېستانو نيول پيل کړي، ليکن موږ خپلو لاريونونه ته دوام ورکړ – د ښوونځيو، کار او هدفي وژنو پر وړاندې... که څېرې موږ لوی لاريونونه په لاره اچولي وای، نو طالبانو به زموږ نومونه او معلومات پيدا کړي وای. نو موږ هڅه وکړه چې د باندې لاريون و نه کړو او په د کور يا دفتر د ننه په کوچنيو ګروپونو

۲۶۱ دا چې له طالبانو څخه مخکې د ښځو د حقونو د مدافعينو، لکه ښځينه لاريون کوونکو، لپاره د محافظت کوم خدمات موجود وو – چې په دې کې د بشري حقونو خپلواک کميسيون او د ښځو چارو وزارت خدمات چې دا دواړه اوس فعاليت نه لري، هم شامل وو – په هکله يې نور معلومات د بخښنې په نړيوال سازمان کې وګورئ، د هغوی ژوندونه په خطر کې: *په افغانستان کې د ښځو د بشري حقونو مدافعين تر تعرض لاندې دي* (شاخص: ASA ۱۱/۱۲۷۹/۲۰۱۵)، ۷ اپرېل ۲۰۱۵، /amnesty.org/en/documents/asa11/1279/2015/en

۲۶۲ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۶۳ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

کې لاریونونه په لاره واچوو... لیکن موږ متوجه شوو چې دا کار د نورې نړۍ توجه نه شي جلبولی... نو موږ بېرته د باندې فعالیت پیل کړ. موږ دا منلې وه چې کوم کار چې موږ ترسره کوو هغه آسانه نه دی. موږ فکر کولو چې کېدی شي هغوی موږ ووژني. لیکن موږ درک کړې چې که چېرې موږ مړه شو نو دا به له دې ښه بهتر وي چې موږ په کور کې پاتې شو او د ژوند په هره ثانیه کې مرګ تجربه کړو.[۲۶۴]

یادې ښځې له دې ښه ډېرې خوښې وې او د ویاړ احساس یې کولو چې دا خوځښتونه ټول هېواد ته ورسېدل. یوې لاریون کوونکې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "هره ورځ زموږ تعداد ډېرېدلو... زموږ انځورونه، پیغامونه او هر څه په ټولنیزو رسنیو کې لاس په لاس شول. زه د دې کار لپاره ډېره خوشحاله وم. زه پوهېدم چې موږ د یوه ډېر مهم مورد لپاره مبارزه کوو... زه ډېره ستړې شوې وم، لیکن د دندې د بشپړولو لپاره مې ښه احساس درلود."[۲۶۵]

یوې ښځې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د لاریونونو په لومړیو اونیو کې هم هغوی د خوښۍ او وېرې احساس لرلو: "موږ له هر لاریون وروسته د پیاوړتیا او سپکوالي احساس کولو. خو د شپې له خوا هرڅه متفاوت وو. موږ د ضعیفۍ/تشوالي احساس لرلو، او د ورځې ټولې پېښې مو سترګو ته تکرارېدلې...دا مهمه نه ده چې موږ د لاریون په وخت کې څومره د پیاوړتیا احساس کولو، خو د شپې له خوا مو د نهیلۍ او ضعف احساس کولو."[۲۶۶]

۸،۲ د لاریون پر مهال ناوړه چلند

طالبانو به د لاریون پر مهال ښځې ځورولې، وېرولې او ګواښلې. ښځو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې طالبانو ډېر ځله په هغوی فشار راوړی چې باید په خپلو لومړیو دقیقو کې لاریون ته پای ورکړي.

یوې لاریون کوونکې ښکاره کړه چې د ۲۰۲۱ په سپټمبر کې هغوی څنګه ځورول شوې وې: "موږ شاوخوا ۹۰ کسان وو، او په شاوخوا کې مو له ۲۰۰ څخه ډېر طالبان راټول شوي وو... هغوی به په موږ لعنت ویلې، موږ ته به یې د فاحشې او د امریکا د غلامانو خطاب کولو. موږ به ویل چې موږ له امریکا یا بل هېڅ تروریستي ډلې څخه ملاتړ نه کوو... دوی به که هرڅه ویل، موږ به یې هم په غبرګون کې یو څه ورته ویل... د هغوی دا کار نه خوښېدلو، ځکه چې هغوی غوښتل موږ خاموشه پاتې شو."[۲۶۷]

یوې بلې ښځې د نجونو د یوه ښوونځي په مخ کې په داسې حال کې خلک لاریون ته راوبلل چې اووه نورې ښځې او ورسره مل وې ترڅو د طالبانو له خوا د تعلیم د بندیزونو پر وړاندې لاریون وکړي. دا چې طالبانو هغې ته څه غبرګون وښودلو، داسې یې ښکاره کړه:

موږ د سهار په ۸ بجو هلته لاړو، او طالبانو په ۸:۱۰ بجو راورسېدل. موږ یوازې آته کسان وو، خو شاوخوا مو ۳۰۰ طالبان راټول شول. موږ هلته د څلورو ساعتونو لپاره ولاړې وو او لاریون مو وکړ. موږ له هغه ځای څخه لاړو نه. زه نه پوهېږم چې هغوی ولې له موټرو او ټوپکو سره زموږ خوا ته راغلي وو... موږ ټوکې کولې... آیا هغوی د کوم ولایت نیولو ته راغي که څنګه؟ هغوی موږ حرکت کولو ته نه پرېښودلو... هغوی له دوکاندارنو څخه وغوښتل چې موږ ته قناعت راکړي ترڅو بېرته کورونو ته ستنې شو، نو دوکاندارنو هم زموږ په ځورولو پیل وکړ. موږ نه غوښتل چې ووهل شو یا ووژل شو، نو ځکه له هغه ځای څخه لاړو.[۲۶۸]

۲۶۴ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۶۵ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۶۶ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۶۷ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۶۸ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

یوې افغان مېرمنې په خپل کور کې انځور اخیستی. © Kiana Hayeri / دبښښې د نړیوال سازمان سره محفوظ دی

کومو ښځو چې د بخښنې له نړیوال سازمان سره یې مرکه کړې وه وویل چې طالبانو لاریون کوونکې ښځې او هغه جورنالېستان چې د لاریون د پوښښ لپاره رغلي وو ووهل، برقي شاکونه یې ورکړل، اوښکې بهوونکی ګاز او کیمیاوي سپرې یې ورته وشیندلې. همدارنګه هغوی وویل چې طالبانو د هغوی بنرونه، د شعار لوحې او نور توکي مات کړل او له لاریون وروسته یې هڅه وکړه چې ښځې تر کورونو پورې تعقیب کړي. طالبانو څوک نه پرېښودل چې کامرې یا موبایل استفاده کړي، چا به که دا کارو وکړل توقیف کولو یې ترڅو لاریون کوونکي او جورنالېستان و نه شي کړی له لاریون څخه عکسونه یا ویډیوګانې واخلي.[269] یوې ښځې هڅه وکړه چې خلک لاریون ته راوبولي، خو طالبانو د شاوخوا دوکانونو کړکۍ ماتې کړې او په ځمکه یې شیشې واچولې ترڅو هغوی و نه شي کړی چې په ځمکه کښېني.[270]

یوې ښځې د یوه معمول لاریون په هکله خپله تجربه داسې شریکه کړه: "طالبانو زموږ شاوخوا حلقه ووهله، او ډېر منظم ودرېدل. هغوی موږ ته رانږدې کېدل او حلقه یې تنګوله. هغوی غوښتل چې پر موږ باندې فضا تنګه کړي، او که چېرې موږ خبرې کړې وای نو موږ ته یې ترخه سپرې راشیندله... په هغه ورځ ما ته ځلور ځله سپرې راوشیندل شوه، لیکن ما خپل کار ته دوام ورکولو او له خپلو همکارانو سره په لاریون کې ودرېدم. زما خور هم هلته وه او د هغې په هکله مې ډېره اندېښنه لرله."[271]

یوې بلې ښځې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د ۲۰۲۱ د سپټمبر په لاریون کې یې څو کسه طالبان ولیدل چې د یوې ښځې لاس یې په شدید ډول زخمي کړ:

یوه نجلۍ وه او پنجشیري دستمال یې په غاړه اچولی ؤ... طالبانو له هغې څخه وغوښتل چې هغه ځای پرېږدي. طالبانو هغه په یوه ربړي پیپ چې نیم متر اوږد ؤ، ووهله. د هغې لاسونه یې ورته مات کړل... ما هغه په تکسي واچوله ترڅو روغتون ته یې بوځم. طالبانو د موټر شیشې هم راماتې کړلې.[272]

دوو ښځو وویل چې وروسته له دې چې د دوو لاریون کوونکو ښځو د پټې کېدو انځورونه په ټولنیزو رسنیو کې پوسټ شول، نو طالبانو هڅه وکړه چې داسې ستراتیژي پلې کړي چې لاریون کوونکې و نه شي کولی خپل ټېونه نورو خلکو ته ښکار کړي. یوې ښځې داسې څرګندونه وکړه، "موږ یې په سینو او د لنګیو په منځ کې ووهلو. هغوی دا کار ځکه وکړ ترڅو موږ و نه شو کولی خپل ټپونه نورې نړۍ ته ښکاره کړو. یوه سرتېري زه په سینه کې ووهلم او ویې ویل، 'زه کولی شم همدا اوس تا ووژنم، هېڅوک به هم څه و نه وایي.' هر ځل به چې موږ د باندې وتلو، همداسې به کېدل: موږ به ځورول کېدو – په فزیکي، شفاهي او عاطفي ډول."[273]

ښځو همدارنګه وویل چې طالبانو به د لاریون پر مهال هوایي ډزې کولې او د لاریون کوونکو په منځ کې به یې وېره خپروله. یوې ښځې څرګنده کړه چې ملګرې یې څنګه د خلو د منډو له امله پر ځمکه ولوېدله: "هغه په نس باندې په ځمکه ولوېده. هغې نوې مېندواره شوې وه... له همدې امله یې خپل ماشوم له لاسه ورکړ... هغې ژړل او ویل چې له بدن څخه یې وینه ځي."[274]

---

۲۶۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۷۰ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۷۱ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۷۲ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۷۳ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۷۴ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۸،۳ د لاریون کوونکو مخفي کېدل

ډېری لاریون کوونکو ښځو وویل چې له نیول کېدو څو اونۍ مخکې یې د توقیف له وېرې په ډار کې ژوند کولو، د اوسېدو ځایونه به یې تبدیلول او کله به د ملګرو کورونو ته تللې او کله هم د خپلوان، او یا به د ملي او بین المللي سازمانونو د امن په خونو کې اوسېدلې ترڅو طالبان یې پیدا نه کړي.

یوې لاریون کوونکې وویل کله چې د ۲۰۲۲ د جنورۍ په ۱۹مه نېټه د هغې یوه همکاره لاریون کوونکې تمنا پریاني ونیول شوه، نو هغې ته د "ډار او وېرې" احساس پیدا شو.[۲۷۵] هغې څلور ځلې خپل استوګنځي ته تغییر ورکړ، او مخکې له دې چې د امن خونو ته لاړه شي د کورنۍ له خوا د هغې اراده ومنل شوه. هغې وویل، "ټولو ژړل، ته به وایې چې د کوم چا جنازه وه. شاید دوی به پوهېدل چې کېدی شي کومه بده پېښه وشي."[۲۷۶]

یوې بلې لاریون کوونکې د طالبانو له خوا له نیول کېدو مخکې شپږ ځلې خپل موقعیت او استوګنځي ته تغییر ورکړی ؤ. یوه ورځ طالبانو د هغې د استوګنځي په شاوخوا کې ګڼ شمېر چېکپاینټونه واچول ځکه چې د هغې درک یې موندلی ؤ. هغه وایي، "زما [کورنۍ] وویل چې باید دفعتا خپل ځای ته تغییر ورکړو. موږ ته خبر راورسېد چې هغوی زما انځور او نور ټول معلومات پیدا کړي دي... پرته له دې چې د ځان یا ماشوم لپاره مې جامې یا کوم بل څه راسره واخلم، له کور څخه ووتلو."[۲۷۷]

وروسته له دې چې پرته له تشخیص نه له چېکپاینټونو څخه تېر شول، هغه او کورنۍ یې د یو خپلوان کور ته لاړل. هغې وویل، "کله چې هلته ورسېدو نو [خپلوان] مې خوښ نه وو. د هغوی نه خوښېږي چې ښځې فعالې اوسي، او هغوی فکر کولو چې زما کار ناسم دی... هغوی په ګیلاسونو او قابونو باندې ویشتلم... ما نه شوای کولی چې بېرته خپل کور ته لاړه شم، ځکه چې پوهېدم چې هلته مو طالبان پیدا کوي... موږ همداسې په کوڅو کې ګرځېدو."[۲۷۸]

بالاخره دا لاریون کوونکې د امن خونو ته ورسېده، چېرته چې نورې لاریون کوونکې یا د هغوی کورنۍ اوسېدلې. کله یې چې له کړکۍ څخه طالبان ولیدل چې د کور په شاوخوا کې دي، نو د تلفون ټولې شمېرې یې حذف کړې او د ماشومانو په تیارولو یې پیل وکړ. هغې وویل، "موږ د طالبانو راتګ ته په تمه وو. او بالاخره راغلل."[۲۷۹]

۸،۴ خودسرانه نیول

د هغو ۱۲ ښځو له ډلې څخه چې د بخښنې نړیوال سازمان مرکه ورسره کړې وه، ۵ هغه یې د طالبانو له خوا په خپل سر ونیول شوې. ۵ واړه ښځوو وویل چې دوی یا د دوی کورنۍ د توقیف پر مهال د طالبانو له خوا وهل شوي او یا بل ډول شکنجه ورکړل شوې ده.

درې نورې هغه ښځې چې د بخښنې نړیوال سازمان مرکه ورسره کړې ده، په یو ځای کې نیول شوې وې.[۲۸۰] له دې ښځو څخه یوې خپل نیول کېدل داسې تشریح کړل:

---

۲۷۵ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۷۶ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۷۷ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۷۸ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۷۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۸۰ نور جزئیات لکه د نیولو وخت او نېټه د امنیت د موخې لپاره حذف شوي دي.

زه په تشناب کې وم، [زما د ملګرې] ماشومانو ژړا او چغې پيل کړې... ما ور قلف کړ... [طالبان] پوهېدل چې کوم خوک په تشناب کې شته نو ور يې په لغته وواهه او خلاص يې کړ... په چپ طرف کې مې يو لوړ نارينه طالب وليد، او په ښي طرف کې مې يوه ښځينه طالبه وليده. زه وېرېدلې وم. حرکت مې نه شواى کولى... نارينه طالب ما ته وکتل او ويې ويل چې زه ډېره بې حيا او بده ښځه يم."[281]

هغې وويل چې کله چې طالبان د هغې اتاق ته ننوتل له هغې څخه يې تلفون وغوښتلو، خو هغې خپل تلفون ور نه کړ او په خپل سينه بند کې يې پټ کړ. طالبانو خپل قومندان ته غږ وکړ ترڅو دا ستونزه ورسره حل کړي. هغې راتلونکې پېښې داسې بيان کړې:

[هغه] زما کوټې ته داخل شو، په اوږو يې دوه کلاشينکوفونه وو او په يوه لاس کې يې تفنګچه او په بل لاس کې يې مخابره وه. هغه په ټينده باندې په مخابره ووهلم او درې ځله يې تلفون رانه وغوښت. هغه څغه راباندې ووهله چې که چېرې تلفون ور نه کړم نو ما به ووژني... هغه ته مې وويل چې د باندې لاړ شي ترڅو زه وکولى شم له خپل سينه بند څخه تلفون راوباسم، خو هغه د باندې لاړ نه. ما مخ ترې تاو کړ او تلفون مې ورکړ.[282]

ښځې به د باندې د طالبانو له خوا ايسکورټ کېدلې. يوې ښځې وويل، "کله به چې د باندې وتلو، نو ما به احساس کاوه چې موږ تر ټولو لويې تروريستانې يو. زموږ شاوخوا کې به ډېر موټر وو او د مختلفو يونيفورمونو کسان به ګرځېدل او له ټولو سره به وسلې وې."[283]

يوه بله ښځه د ۲۰۲۱ په سپټمبر کې په يوه لاريون کې ونيول شوه. هغې وويل چې شاوخوا ۳۰ طالبان د هغوى د لاريون ځاى ته راغلل او ښځې او سړيان يې په زور د پوليسو په موټرونو او شخصي موټرونو او ټکسي ګانو کې واچول. هغې هڅه کړې وه چې وتښتي، خو نيول شوې وه. هغې د بخښنې نړيوال سازمان ته داسې وويل:

هغوى په يوه تکه باندې زما سترګې وتړلې. هغوى ته مې زارۍ وکړې چې خوشې مې کړي، خو هغوى په وسلو او نورو شيانو زما په وهلو پيل وکړ... [طالبانو] ټيله کولم او په اوږو باندې يې وهلم ترڅو په يوه اتاق کې يې قلف کړم.

هغه لاړ، او وروسته له دوو ساعتونو يو بل افسر راغى... هغه پوښتنه وکړه چې آيا زه تاجکه يا پنجشېرۍ يم او آيا دې لاريون ته احمد مسعود رالېږلې يم او که نه. ما وويل نه – زه خپل حقوق پېژنم، او دا هر څه يوازې د خپل ځان لپاره کوم. کله به مې چې دا خبر ورته وکړه، نو هغه به زه د ټوپک په قنداق وهلم... هغه وويل، 'تاسو فاحشې ښځې ياست، تاسو نه پوهېږئ چې څنګه چلند بايد وکړئ، موږ پوهېږو چې تاسو څنګه اصلاح کړو.[284]

يوې بلې ښځې خپل نيول کېدل داسې بيان کړل:

يو سړى رانږدې شو... او [زما د نوم] پوښتنه يې وکړه... وروسته څلور نور طالبان چې قندهارۍ خولۍ يې په سر وې، راننوتل. هغوى د طالبانو له استخباراتو څخه وو. زه خور وډاره شوه... هغوى خپل ټوپک زموږ لوري

---

۲۸۱ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۸۲ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۸۳ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۸۴ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

ته ونیول... طالبانو... له ټولو وغوښتل چې باید غالمغال و نه کړو - [هغوی وویل] ګنې [له باندې ځخه] به له جنګیالیو نه مرسته وغواړي، او دا به زموږ لپاره ښه نه وي. زه مجبوره شوم چې له هغوی سره لاړه شم.

وروسته بیا یوه طالب زما په ملا ټوپک کېښود... دلته د هغوی لوی کاروان ؤ، لویه ډله یې وه... هغوی زما ځخه وغوښتل چې باید لاړه شم او په موټر کې کښېنم... زه ګیچه شوې وم. حرکت مې نه شوای کولی. ډېره ترې وم، خو حتی خپله ژبه مې نه شوای حس کولی...

موټر ډېر په چټکۍ سره او په لوړ سرعت حرکت وکړ... ما له هغوی ځخه وغوښتل چې لږ سوکه لاړ شي خو هغوی وویل، 'نه، فاحشې ښځې!'... یوه [طالب] وویل، 'که چېرې موږ غوښتي وای چې خوک ووژنو، نو حتی د جمهوریت په وخت کې مو هم دا کار په آسانۍ سره کولی شوای. اوس موږ په ۳۴ ولایتونو باندې کنټرول لرو، نو البته هرځه چې وغواړو کولی یې شو... له تېرو دوو میاشتو راهیسې موږ ستا په تعقیب کې وو، او ستا د نیولو لپاره مناسب وخت ته په تمه وو.'[۲۸۵]

۸٫۵ د توقیف پر مهال خشونت

لکه ځنګه چې د "اخلاقي فساد" یا له کورني تاوتریخوالی ځخه د تېښتې په تور له توقیف شویو ښځو او نجونو سره چلند کېدلو، له لاریون کوونکو ښځو سره هم په توقیف کې هماغه شان چلند او تاوتریخوالی کېدلو.[۲۸۶]

په جبر سره له صحنې ورکول

له هغو پنځو ښځو له ډلې ځخه چې توقیف شوې وې، ځلور هغو یې وویل چې هغوی نه شوای کولی چې خپلو کورنیو ته د خپلو نیول کېدو په هکله خبر ورکړي. کله چې د هغوی د کورنۍ غړي د توقیف مرکزونو ته د هغوی د پوښتنې لپاره راغلي، طالبانو هغوی ته ویلي چې موږ د دوی په توقیف کې نه یو، او دې پټ توقیف تر شاوخوا ۱۰ ورځو پورې دوام وکړ. د بېګلې په ډول یوې توقیف شوې ښځې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل: "زما کورنۍ [تقریبا هره ورځ] په ما پسې راتلله... خو هر ځل به چې هغوی زما لیدلو ته راتلل، طالبانو به هغوی ته ویل چې زه دلته نشته یم."[۲۸۷] یوې بلې لاریون کوونکې هم همدې ته مشابه خبرې وکړې، "لومړۍ ۱۰ ورځې زموږ کورنۍ نه وې خبرې چې موږ ژوندۍ یو."[۲۸۸]

شکنجه او نور ناوړه چلندونه

یوې لاریون کوونکې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغه د ۱۰ ورځو لپاره په یوه ۱۲x۱۲ متره اتاق کې یوازې زنداني شوې وه او په شدید ډول به وهل کېده او رواني شکنجه به ورکول کېده. هغې د طالبانو چلند داسې بیان کړ: "هغوی به زما اتاق ته راتلل او ما ته به یې زما د کورنۍ انځورونه راښودل. هغوی دا ټولې ورځې همدا کار کولو: 'موږ کولی شو دوی ووژنو، ټول وژلی شو، او ته د هغوی لپاره هېڅ کار نه شې کولی... مه ژاړه، صحنه سازي مه کوه. له لاریون وروسته تا باید د دې حالت فکر کړی وای.'"[۲۸۹] هغه وایي چې د توقیف پر مهال په شدید ډول وهل شوې وه، خپلې دوې پېښې یې داسې بیان کړې:

---

۲۸۵ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۸۶ دا چې د "اخلاقي فساد" یا له خشونت ځخه د تېښتې په تور له نیول شویو ښځه سره د توقیف پر مهال ځنګه چلند کېدلو، په هکله یې نور معلومات په ۶م فصل کې وګورئ.

۲۸۷ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۸۸ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۲۸۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

هغوی زه یوه اتاق ته بوتلم [او]... ور یې راپسې بند قلف کړ. [هغوی] وپوښتل، 'یونما تاسو ته د لاریون لپاره څومره پیسې درکوي؟'... هغوی په ما باندې چغې وهلې... [یوه طالب] وویل، 'اې فاحشې ښځې... امریکا ستاسو لعنتي ښځو له لاسه موږ ته پیسې نه راکوي'... وروسته یې زه په لغته ووهلم. لغته یې دومره قوي وه چې زما ملا یې ژوبله کړه، او په زنه سره یې هم په لغته ووهلم... حتی اوس هم په خپله خوله کې درد احساسوم، کله چې غږېږم درد احساسوم...

په څلورمه شپه مې د خپلې همکارې لاریون کوونکې د ژړا غږ واورېدلو... کوم چا ور خلاص کړ، او زما اتاق ته راننوتل. مخ یې پوښلی ؤ او له ځان سره یې توره لرله. هغه زه په ډېر شدید ډول ووهلم. په شا، اوږو، مخ، غاړه او نورو ځایونو باندې یې په لغتو وهلم... ما فکر کاوه چې هغه لاړو... خو هغه بېرته راوګرځېد او د نس په څنګ کې یې په کلکه لغته ووهلم. له هغې وروسته مې حتی نه شوای کولی چې وخوځېږم. [۲۹۰]

هغې څرګنده کړه چې د توقیف پر مهال یې کافي روغتیایي مراقبتونو ته لاسرسی نه درلود: "ما خپل نیم بدن نه شوای حس کولی... پښې ته مې حرکت نه شوای ورکولی... هغوی ته مې وویل چې باید ډاکټر ته لاړه شم. ډاکټر اتاق ته راغی، په ما یې چغه کړه، 'ستا محرم چېرته دی؟ زه نه غواړم چې ستا مخ ووینم'... ډاکټر یو څو ګولۍ راواچولې... نه پوهېږم چې هغه څه وې."[۲۹۱] هغې وویل چې د توقیف پر مهال د وهلو له امله اوس هم د خپلو هډوکو، د ګردې د ستونزو او تنفسي مشکلاتو درملنه کوي.

یوې بلې ښځې وویل چې د توقیف په وخت کې یې د وهلو او نورو شکنجو له امله د نورو لاریون کوونکو د چغو غږونه اورېدل:

زه په یوه تیاره اتاق کې یوازې وم... ما د هغو کسانو غږونه اورېدل چې طالبانو به شکنجه ورکوله او وهل به یې. حتی په تیاره کې به هم [طالبان] راتلل او زما څخه به یې مشابه پوښتنې کولې... د چغو غږ هېڅ نه متوقف کېدلو. ما هڅه وکړه چې په غوږونو کې ګوتې کېږدم ترڅو غږ وا نه ورم، لیکن هېڅ تأثیر یې و نه کړ ځکه چې ټولو چغې وهلې.[۲۹۲]

یوې لاریون کوونکې وویل چې له توقیف وروسته طالبانو د هغې او د نورو نیول شویو لاریون کوونکو نارینه خپلوان له هغوی څخه جلا کړل او یوه جدا اتاق ته یې بوتلل، او له یوه ساعت څخه د زیات وخت لپاره یې هغوی شکنجه کړل او برقي شاکونه یې ورکړل. هغې وویل: "ما د خپل نارینه [خپلوان] د چغو غږ اورېدلو... کوم طالب چې هغوی شکنجه کول – لاسونه، کالي، او ټول بدن یې په وینو باندې لړلي وو."[۲۹۳]

یوې بلې ښځې وویل چې خاوند یې د طالبانو له خوا نیول شوی ؤ او د توقیف په وخت کې په شدید ډول شکنجه شوی ؤ او برقي شاکونه ورکړل شوي وو – شکنجه یې دومره شدیده وه چې هغې ته د پوزې خونریزي او ضعف پیدا شول. طالبانو هم په تکراري ډول ورته ویل چې له ښځې سره یې جنسي تاوتریخوالی شوی. "هغوی ورته وویل، 'موږ ۱۰ طالبانو ستا پر ښځه نن ډله ییز جنسي تېری وکړ'"[۲۹۴]

---

۲۹۰ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۹۱ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۹۲ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۹۳ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۹۴ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

غیر انساني شرایط

ښځینه لاریون کوونکو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د توقیف پر مهال یې خوړو، اوبو، تهویې، د حفظ الصحې توکو او روغتیایي مراقبتونو ته کافي لاسرسی نه لرلو.

یوې لاریون کوونکې د تهویې په برخه کې د خپلو ستونزو تجربه داسې بیان کړه: "مور هغوی ته زاري کولې چې کړکی پرانیزي... حتی اوس هم زما ماشومان نه شي کولی سم تنفس وکړي، ځکه چې هلته حالت ډېر خراب ؤ... هر وخت به خلکو استفراق او ضعفونه کول."[295]

یوې بلې لایون کوونکې د خپل توقیف د ځای حالات داسې بیان کړل:

> **هلته درې یا څلور داسې کورنی وې چې ماشومانو یې له ځان سره لرل، خو [هغوی مور ته] ډېره کمه ډوډۍ راکوله، په ورځ کې یوازې یو ځل... حتی په تشنابونو کې هم [اوبه] نه پیدا کېدې. ماشومانو ژړل او اوبه یې غوښتې... په ما باندې میاشتنۍ ناروغي هم راغله... نه پوهېدم چې څه وکړم. هېڅ څه مې نه لرل چې استفاده یې کړم...**
>
> **[یوې بلې لاریون کوونکې ښځې] طالبانو ته زاري کولې چې هغې ته درمل ورکړي، خو هغوی هغه ځوروله... هغې به ویل، 'که چېرې درمل را نه کړئ نو زه مړه کېږم.'... ترڅو چې ړنګه شوې نه وه طالبانو هېڅ توجه نه ورته کوله. هغه یې له اتاق څخه و ایستله، او وروسته مې بیا د هغې لور ولیدله او ویل یې چې په روغتون کې یې شپږ میاشتې تېرې کړې.[296]**

۸٫۶ آزادېدل

ټولو مرکه شویو ښځو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې د آزادۍ د تضمین په بدل کې هغوی یو "تړون" لاسلیک کړ چې هغوی یا د هغوی د کورنۍ غړي به بیا هېڅ وخت لاریون نه کوي او د توقیف د وخت د پېښو په هکله به له هېچا سره خبرې نه کوي. یوې لاریون کوونکې وویل: "ما باید یو تړون لاسلیک کړی وای چې په هغې راغلي وو چې زه به بیا هېڅ وخت داسې کار نه کوم، خو که چېرې بیا دا کار تکرار کړم نو زما کورنۍ، ملګري او شاوخوا خلک به له ستونزو سره مخ شي."[297]

څینو ښځو وویل چې د دې ته ورته تړونونو د لاسلیک کولو لپاره یې د هغوی د کورنۍ نارینه راغوښتل شوي وو. یوې لاریون کوونکې وویل، "زما ورور او اوخښي باید یو تړون لاسلیک کړی وای چې په هغې کې راغلي وو چې [زما نوم] نه شي کولی له هېواد څخه د باندې ووځي او بیا به داسې کار نه ترسره کوي... هغوی زما له ورور او اوخښي څخه ویډیو ثبت کړې وه... ویلي یې وو، '[زما نوم] زما خور ده، هغه به بیا داسې کار ترسره نه کړي، کې یې ترسره کړ تاسو کولی شئ راشئ او ما بندي کړئ.'"[298]

مخکې له دې چې ښځې آزادې شي، له هغوی او د کورنۍ له غړو څخه یې غوښتل شوي وو چې خپل رسمي اسناد لکه د کار جواز، د ځمکې او کور قباله، پاسپورت او تذکرې (د ملي هویت تذکره) طالبانو ته تسلیم

۲۹۵ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۹۶ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۹۷ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۲۹۸ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

کړي. یادو ښځو د طالبانو د دې کار لپاره مختلف لاملونه او انګېزې ذکر کړې. ځینو ویل چې طالبانو دا کار ځکه ترسره کړی چې دا ښځې و نه شي کولی له هېواد څخه ووځي، ځینو نورو بیا وویل چې طالبانو غوښتل په دې کار سره د ښځو د کورنۍ غړي د دې کارونو له مالي سټونزو څخه ووېروي. یوې لاریون کوونکې دا دوهمه انګېزه داسې تشریح کړه: "زما د خاوند د کاکا زوی باید خپل ټول جایداد، کورونه، او ټوله شتمي یې له طالبانو سره ثبت کړې وای. که چېرې ما په راتلونکي کې خبرې کړې وای، نو طالبانو به له هغه څخه هرڅه اخیستي وای. دا یوه سلسله ده، یوه کړۍ ده، ماتول یې آسانه کار نه دی."[299]

ځینو لاریون کوونکو وویل چې حتی د هغوی له آزادېدو وروسته هم طالبانو د هغوی د کورنۍ غړي د ښځو د کارونو په غبرګون کې زنداني کړي وو. د بېلګې په ډول، یوې لاریون کوونکې وویل چې له آزادېدو وروسته یې ورور دوه ځلې د طالبانو له خوا نیول شوی ؤ، او په هغه باندې یې فشار راوړی ؤ ترڅو خپله خور په ټولنزو رسنیو کې له فعالیت څخه منعه کړي. هغې وویل، "د هغوی استخبارات... د هر څه نظارت کوي. زه که هر څه وکړم، طالبان زما پر وړاندې یو اقدام کوي."[300]

لکه څنګه چې په ۶م فصل کې یادونه وشوه، توقیف شویو ښځو د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې دا پېښې د هغوی په ژوند کې د ننګ او شرم لکه ده، په ځانګړي ډول دا چې ډېری خلک فکر کوي چې په دې ښځو باندې د توقیف پر مهال جنسي تېری شوی دی. یوې لاریون کوونکې وویل چې د توقیف پر مهال یې یوازې د دې پېښو د ننګ د لکې په هکله فکر کولو: "زندان ته تلل یوه لویه خبر ده. له زندان وروسته هېڅ قدر نه لرئ، ځکه چې ټول فکر کوي چې په تاسو باندې جنسي تجاوز شوی."[301]

خو بیا هم ډېری لاریون کوونکو وویل چې له دې هرڅه سره سره به هغوی بیا هم له نجونو او ښځو سره د طالبانو د چلند پر وړاندې مقاومت کوي، مهمه نه ده چې څه عواقب به ولري. یوې لاریون کوونکې په لاریون کې خپل ګډون داسې تشریح کړ:

کله چې فکر کوم چې په دې وروستیو کې مې خپل ډېر ځیزونه له لاسه ورکړي، نو ډېر بد احساس کوم... ما هر څه لرل، خو دولت سقوط وکړ... خو کله چې د خپلې رهبرۍ او لاریونونو په هکله فکر کوم، نو پر ځان ویاړم... ژوند ډېر لنډ دی او باید تاوتریخوالي او تبعیض پکې و نه منل شي. حتی که د خپل غږ د پورته کولو لپاره ډېر کوچنی کار هم کولی ش، ډېر کوچنی، نو باید مخکې له دې چې ناوخته شي ترسره یې کړو. د ځینو موخو لپاره باید ژوند وکړو.[302]

یوې بلې لاریون کوونکې وویل، "زما زړه هره ورځ درد کوي، خو د هغو کارونو په هکله نه یم پښېمانه چې ترسره کړي مې دي، او یا یې ترسره کوم."[303]

۲۹۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۳۰۰ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۳۰۱ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۳۰۲ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۳۰۳ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.

۹. د بین المللي قوانینو تطبیق

افغانستان د مدني او سیاسي حقونونو د بین المللي پیمان (ICCPR)، د نړیوال اقتصادي پیمان، د ټولنیزو او کلتوري حقونو (ICESCR)، د شکنجې او نور ډول ظلمونو پر وړاندې د کنوانسیون، د غیر انساني او ناوړه چلند یا شکنجې (CAT)، د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون (CRC)، او د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو د کنوانسیون (CEDAW) غړی دی. طالبان د افغانستان د برحاله حاکمانو په توګه د بین المللي قوانینو او د بشري حقونو په هکله د پورته ذکر شویو سازمانونو له خوا محدود شوي دي.

تبعیض او د مساواتو حقونه

په دې راپور کې ډېری ثبت شوې قضیې له تبعیض سره تړاو لري. د CEDAW له نظره، د ښځو پر وړاندې تبعیض دا مانا لري: "هر هغه توپیر، محرومول یا محدودول چې د جنسیت پر اساس ترسره کېږي او موخه یې صرف نظر د ښځو له مدني حالت څخه، هغوی ته زیان رسول، د هغوی بې اثره کول او له هغوی څخه د لذتونو اخیستل وي، او دا چې دا کارونه د نر او ښځې د مساواتو او د بشر د اساسي حقونو په اساس په سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، کلتوري، مدني او نورو برخو کې ترسره کېږي."[۳۰۴] د طالبان په حاکمیت کې ښځې او نجونې له پراخو او سیستماتیکو جنسیتي تبعیضونو سره مخ دي.

۹/۱ د تعلیم حق

پرته له تبعیض څخه د تعلیم حق د ابشري حقونو له اساسي برخو څخهدی چې په نړیوالو معاهداتو کې لکه ICESCR او CRC کې اشاره ورته شوې.[۳۰۵] ICESCR له دولتونو څخه غواړي ترڅو ټولو ماشومانو ته وړیا، د لاسرسي وړ او اجباري ابتدائیه زده کړې وړاندې کړي، او همدارنګه د ثانوي زده کړو لپاره هغوی ته وړیا زمینه او لاسرسی چمتو کړي. لوړې زده کړې باید ټولو ته نظر په ظرفیت او مناسبوالي په مساوي ډول د لاسرسي وړ وي، او باید ډاډ ترلاسه شي چې دا وړیا دي.[۳۰۶]

۳۰۴ CEDAW، ۱ ماده.

۳۰۵ د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمېټه (CESCR)، د عمومي نظر نمبر ۱۳: د تعلیم حق (د تړون ۱۳مه ماده) ۸ ډسمبر ۱۹۹۹، UN Doc E/C.12/1999/10؛ د ماشومانو د حقونو کمېټه، د عمومي نظر نمبر ۱: د تعلیم موخې، ۱۷ اپریل ۲۰۰۱، UN Doc CRC/GC/2001/1.

۳۰۶ ICESCR، ۱۳(۲) ماده.

ټول هغه حقونه چې په ICESCR کې ذکر شوي، لکه د تعليم حق، بايد په ټولو باندې په مساوي ډول او پرته له جنسيتي تبعيض څخه تطبيق شي. د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري حقونو کمېټه د تعليم حق "د پياوړتيا حق" بولي، او وايي "تعليم خپله هم يو بشري حق دی او په کلکه سره په نورو بشري حقونو باندې د پوهېدو وسيله ده" او واضح کوي چې "تعليم د ښځو په پياوړتيا کې حياتي رول لري."[307]

د ماشومانو د حقونو د کمېټې له مخې، پټ يا ښکاره جنسيتي تبعيض د ماشوم عزت له منځه وړي او "کولی شي له تعليمي فرصتونو څخه د ماشومانو د استفادې وړتيا راکمه کړي او يا يې بيخي له منځه يوسي... جنسيتي تبعيض کېدی شي د ... له خوا محدود شي او دا کار د دې لامل کېږي چې نجونې له وړاندې شويو تعليمي فرصتونو څخه سمه ګټه وا نه خلي، او نجونو ته داسې ناخوشايند او نا مصؤن محيط برابروي چې د نجونو ګډون اغېزمنوي."[308]

CEDAW غوښتنه کوي چې "غړي دولتونه بايد مناسب اقدامات ترسره کړي چې د ښځو پر وړاندې جنسيتي تبعيض محوه کړي ترڅو هغوی ته له نارينه وو سره مساوي حقونه ورکړل شي، په ځانګړي ډول د تعليم په برخه کې ترڅو د ښځو او سړيانو مساوات تضمين شي: (a) زده کړو ته د لاسرسي او په ټولو برخو کې د لاسته راوړنو لپاره د اسناد او ډيپلومونو د ترلاسه کولو په برخه کې ... مشابه شرايط... [او] (b) ښځو ته د مشابه نصاب، مشابه آزموينو، د مشابه معيار لرونکي او په مشابه تحصيلي سوابقو سره د درسي خدمې چمتو کول، او په ښوونځيو کې هغوی ته د مشابه خدماتو او عين کيفيت وسايلو چمتو کول."[309]

له کله نه چې طالبان قدرت ته رسېدلي، په افغانستان کې يې د نجونو په اکثريتو عالي ښوونځيو برحاله بنديزونه لګولي دي. لکه څنګه چې په ۴٫۲ برخه کې يې جزئيات وړاندې شول، د پوهنتونونو په کچه يې هم په ښځو او نجونو باندې ګڼ شمېر برحاله بنديزونه لګولي دي، او نجونو ته اجازه نه ورکړي چې له سړيو سره ورته فرصتونو ته لاسرسی ولري. د تعليم په ټولو سطوحو کې، د طالبانو پاليسی او اقدامات د دې ښکارندويي کوي چې نجونې او ښځې نه شي کولی له سړيانو سره مشابه ښوونيزو فرصتونو او معيارونو ته لاسرسی ولري – او دوی تعليم ته پرته له تبعيض څخه د مساوي لارسي قوانين تر پښنو لاندې کوي.

---

۳۰۷ د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو کمېټه (CESCR)، د عمومي نظر نمبر ۱۳: د تعليم حق (د تړون ۱۳مه ماده) ۸ ډسېمبر ۱۹۹۹، UN Doc E/C.12/1999/10، برخه ۱.

۳۰۸ د ماشومانو د حقونو کمېټه، د عمومي نظر نمبر ۱: د تعليم موخې، ۱۷ اپرېل ۲۰۰۱، UN Doc CRC/GC/2001/1، برخه ۱۰.

۳۰۹ د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د محوې کنوانسيون (CEDAW)، UN Doc A/34/46، ۱۰مه ماده.

۹٫۲ د کار او عامه ګډون حق

د کار حق په ICESCR او CEDAW کې تشریح شوی دی، دا په مشخص ډول په دې مانا دی چې ټول خلک کولی شي په خپل آزاد انتخاب او رضایت سره د ژوند د چلولو لپاره ځان ته کاري فرصت پیدا کړي.[۳۱۰] دولتونه اړ دي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې پرته له دې چې له کومې ډلې سره تبعیض وشي او یا حاشیې ته کړی شي، کار ته د لاسرسي حقوق پلي کېږي.[۳۱۱] د CEDAW له مخې، غړي دولتونه اړ دي چې د نورو حقونو ترڅنګ، نارینه او ښځینه ته د کار د مساوي حقونو؛ د مشابه کاري فرصتونو؛ او په آزاد ډول د دندې او مسلک د انتخاب د حقونو په هکله ډاډ ترلاسه کړي.[۳۱۲]

CEDAW له دولتونو څخه غوښتنه کوي چې د ښځو حقونه مراعات کړي او هغوی ته په نړیوالو او ملي غیر دولتي سازمانونو کې د دندې کولو اجازه ورکړي، او له همدې لارې ټول مناسب اقدامات ترسره کړي ترڅو په سیاسي او ټولنیز ژوند کې د ښځو پر وړاندې تبعیض محوه کړي.[۳۱۳]

لکه څنګه چې په ۴٫۳ برخه کې تشریح شوي، طالبانو تر ننه ډېری ښځینه دولتي کارکوونکې په کورنو کې ساتلې دي؛ په کابینه کې یې ښځو ته هېڅ ځای نه دی ورکړی؛ د ښځو د چارو وزارت یې تړلی دی؛ او په عام ډول یې داسې پالیسي پلې کړې ده چې یوازې په هغو برخو کې ښځو ته د کار کولو اجازه ورکوي چې سړیان یې نه شي ترسره کړلی. دا اقدامات او پالیسۍ د ښځو پر وړاندې جنسیتي تبعیض رامنځته کوي او د افغانستان په سیاسي او ټولنیزو چارو کې د ښځو د ګډون او کار حقوق تر پښو لاندې کوي. د طالبانو له خوا د کارکوونکو ښځو ځورول او ناوړه استفاده، او همدارنګه په نورو حقونو لکه د خوښښت په آزادۍ او د بیان په آزادۍ باندې د هغوی محدودیتونه په شدید ډول د دې لامل شوي چې ښځې و نه شي کړی په مؤثر ډول کار وکړي او پرته له تبعیض څخه د هغوی د کار حقونه تر پښو لاندې کړي.

۹٫۳ د خوځښت د آزادۍ حق

د خوځښت د آزادۍ حق په ICCPR کې تشریح شوی دی.[۳۱۴] په دې برخه کې که چېرې اړینه وي نو ځینې محدودیتونه هم مجاز دي، مثلا د ملي امنیت او عامه نظم د ساتلو لپاره. لیکن هر ډول محدودیت باید په قانون کې واضح شوی وي، او متناسب، غیر تبعیضي او له نورو بشري حقونو سره په مطابقت کې وي.[۳۱۵]

لکه څنګه چې په ۴٫۴ برخه کې تشریح شوي، د ښځو او نجونو په خوځښت باندې د طالبانو د بندیزونو په پایله کې جنیستي تبعیض رامنځته شوی او د ICCPR په قانون کې د ښځو تضمین شوي حقونه نقض شوي دي. دا چې طالبان په هر ځای کې *محرم* نه لرونکې ښځې ځوروي، ناوړه استفاده ځنې کوي، او بندي کوي یې، دا په دې مانا ده چې سړیان او ښځې نه شي کولی په مساوي ډول خپل حقونه ترلاسه کړي. د *محرم* په برخه کې محدودیتونه کولی شي تعلیم او کار ته د ښځو او نجونو په لاسرسي باندې ناوړه اغېزې ولري، او بالاخره د دې سبب ګرځي چې د ښځو اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونه هم تر پښو لاندې شي.[۳۱۶]

---

۳۱۰ ICESCR، ۶مه ماده، ICESCR، ۱۱مه ماده.

۳۱۱ د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کمېټه (CESCR)، ***د عمومي نظر نمبر ۱۸***، ۲۴ نومبر ۲۰۰۵، UN Doc E/C.12/GC/186، برخه ۳۱.

۳۱۲ CEDAW، ۱۲مه ماده.

۳۱۳ CEDAW، ۷مه او ۸مه ماده.

۳۱۴ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون (ICCPR)، ۱۲(۱) ماده.

۳۱۵ ICCPR، ۱۲(۳) ماده.

۳۱۶ ICCPR، ۶مه او ۱۲مه ماده.

۹٫۴ د بیان، راټولېدو، سوله ییزو غونډو او مذهب د آزادۍ حق

د بیان د آزادۍ، د راټولېدو او غونډو د آزادۍ حقونه په ICCPR کې تضمین شوي دي.[۳۱۷] پرته له هغو محدودیتونو څخه چې قانوني دي او د ټولنیز امنیت یا عامه خوندیتوب، عامه نظم، د عامې روغتیا یا د اخلاقي اصولو او د نورو خلکو د آزادۍ د حقونو د ساتلو لپاره وضع کېږي، د راټولېدو او غونډو په جوړولو باندې نور محدودیتونه نه شي وضع کېدی.[۳۱۸]

لکه څنګه چې په ۸م فصل کې تشریح شوي، طالبان هغه ښځې ځوروي، وهي، په ډنډو باندې برقي شاکونه ورکوي او اوښکي بهوونکی ګاز او سپرې ورشیندي چې په سوله ییزو لاریونونو کې ونډه اخلي. د همدې غبرګونونو او ناوړه چلند څخه وېره د دې لامل شوې چې د بیان د آزادۍ، د غونډو او راټولېدو د آزادۍ حقونه تطبیق نه شي. د نړیوالو قوانینو له مخې طالبان نه شي کولی د ښځینه لاریون کوونکو د بیان د آزادۍ او د سوله ییزو غونډو او راټولېدو د آزادۍ په حقونو باندې بندیزونه ولګوي، بلکې هغوی دا حقونه ترپښو لاندې کوي.

لکه څنګه چې د ۱۹۹۸ په ډسمبر کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې د بشري حقونو د مدافعینو په اعلامیه کې راغلي، کومې ښځې چې د طالبانو تر حاکمیت وروسته د هغوی پر وړاندې سوله ییز لاریونونه کوي د بشري حقونو د مدافعینو تر ساتنې او پوښښ لاندې راځي. په مشخص ډول، لکه څنګه چې د ۲۰۱۳ کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې د ښځو د بشري حقونو د مدافعینو په ځانګړې قطعنامه (WHRD) کې راغلي، دولتونه باید له خشونت، ګواښونو او انتقام څخه د WHRD خلکو ساتنه وکړي او هغوی ته خوندي او فعال چاپېریال رامنځته کړي.[۳۱۹] دا چې دولتونه باید د بشري حقونو له مدافعینو څخه ساتنه وکړي، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېټې دا مورد تصریح کړی دی.[۳۲۰]

همدارنګه، په ICCPR کې د هویت او مذهب د ساتلو لپاره نړیوال معیارونه هم کود شوي دي.[۳۲۱] غړي دولتونه باید هر فرد ته د خپلې عقیدې یا شخصي افکارو یا هویت د ښکاره کولو آزادي ورکړي او درناوی ورته ولري، او افرادو ته باید داسې چاپېریال رامنځته کړي چې هغوی وکولی شي پرته له جبر څخه انتخاب وکړي. د بیان د آزادۍ او د دین یا عقیدې د آزادۍ حقونه د دې مستلزم دي چې خلکو ته آزادي ورکړل شي ترڅو وکولی شي په خپل انتخاب سره د خپلو کالیو او جامو ډول انتخاب کړي.[۳۲۲] د بیان په آزادۍ باندې یوازې هغه وخت محدودیتونه وضع کېدی شي چې د یوې ساده او دقیقې درې اړخیزې ارزونې شرایط پوره کړي: دا محدودیتونه باید په قانون کې ذکر شوي وي؛ د نړیوال قوانینو مطابق یوه مشخصه مشروع موخه ولري؛ او د همدې موخې لپاره په ښکاره ډول اړین او متناسب وي. دا ډول محدودیتونه باید تبعیضي نه وي او د نورو خلکو بشري حقونه تر پښو لاندې نه کړي.

---

۳۱۷ ICCPR، ۲۱مه او ۲۲مه ماده.

۳۱۸ ICCPR، ۲۱مه او ۲۲مه ماده.

۳۱۹ د عمومي غونډې قطعنامه: د افرادو د حقونو او مسؤلیتونو په هکله د اعلامیې جوړول، د نړیوالو له خوا د پېژندل شویو بشري حقونو او اساسي آزادیو د ساتنې او تضمین لپاره ډلې او د ټولنې ارګانونه: د ښځو د بشري حقونو د مدافینو حفاظت، چې د ۲۰۱۳ د ډسمبر په ۱۸ وړاندې شو، UN Doc. A/RES/68/181. د ښځو د بشري حقونو د مدافعینو په هکله د نورو معلوماتو لپاره د بخښنې نړیوال سازمان ته مراجعه وکړئ، د قدرت ننګونه، د تبعیض پر وړاندې مبارزه: د ښځو د بشري حقونو د مدافعینو د حفاظت او پېژندنې لپاره د اقداماتو غوښتنه (شاخص ACT 30/1139/2019)، ۲۹ نومبر ۲۰۱۹، amnesty.org/en/wp-content/uploads/2021/05/ACT3011392019ENGLISH.pdf

۳۲۰ د بشري حقونو کمېټه، د عمومي نظر نمبر ۳۶ (۲۰۱۸) د ICCPR د ژوند د حقونو ۶مه ماده، ۳۰ اکتوبر ۲۰۱۸، UN Doc CCPR/C/GC/36.

۳۲۱ ICCPR، ۱۸مه ماده.

۳۲۲ د نورو معلوماتو لپاره د بخښنې نړیوال سازمان ته مراجعه وکړئ، *د کالیو د انتخاب لپاره د ښځو حقونه، له اجبار څخه آزادي،* هغه بیان چې د ښځو د حالت په هکله د ملګرو ملتونو د کمیسیون په ۵۵مه غونډه کې وړاندې شو، ۲۲ فبروري ۲۰۱۱، amnesty.nl/content/uploads/2017/02/womens_right_to_dress_boerkaverbod_3.pdf?x68187

لکه څنګه چې په ۴/۵ برخه کې بحث پرې شوی، ښځې او لویې نجونې باید عامه ځایونو ته د تللو په وخت کې خپل ځانونه له سر څخه تر نوک پورې وپوښي. دا اعلامیه د افغان ښځو او نجونو د بیان د آزادۍ او د عقیدې یا مذهب د ښکاره کولو د آزادۍ حقونه ترپښو لاندې کوي او یو داسې جابر چاپېریال رامنځته کوي چې ښځې په بشپړ ډول په عامو ځایونو کې د خپلو جامو له انتخاب څخه محروموي. دا اعلامیه د عامه خوندیتوب، نظم، روغتیا او اخلاقي اصولو له مخې نه شي توجیح کېدی، او د جنسیتي تبعیض لامل ګرځي. لکه څنګه چې په تېرو فصلونو کې مستند شوي دي، دا اقدامات د هغوی د حقونو په پلي کېدو باندې منفي اغېزه لري، مثلا د تعلیم او کار حق.

۹/۵ د جنسیت پر اساس خشونت

له ښځو سره د جنسیت پر اساس تاوتریخوالی (GBV) کې هغه خشونتونه شامېلېږي چې "له ښځې سره د هغې د ښځې والي په خاطر ترسره کېږي او په غیر متناسب ډول ښځې اغېزمنوي".[۳۲۳] د ښځو پر وړاندې د جنسیت پر اساس تاوتریخوالی د ښځو پر وړاندې د تبعیض سبب ګرځي، نو له همدې امله د CEDAW ټول ملازمات پکې شاملېږي.[۳۲۴] د CEDAW غړي دولتونه باید داسې پالیسۍ تعقیب کړي چې د ښځو پر وړاندې جنسیتي تبعیض لکه له ښځو سره د جنسیت پر اساس تاوتریخوالی له منځه یوسي، او همدا اقدامات باید د نورو ارګانونو او ساتازو له لارې پلي کړي.[۳۲۵]

دولتونه مسؤلیت لري چې د هغو دولتي یا غیر دولتي عاملینو پر وړاندې اقدامات ترسره کړي یا یې حذف کړي چې له ښځو سره د جنسیت پر اساس تاوتریخوالی ترسره کوي. که چېرې غیر دولتي ارګانونه و نه شي کړی له ښځو سره د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي په برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي، نو غړي دولتونه مکلف دي چې له ښځو سره د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي مخه ونیسي، په هکله یې څېړنه وکړي، تعقیب یې کړي او عاملین یې مجازات کړي.[۳۲۶] د CEDAW غړي دولتونه مکلف دي چې د غیر دولتي ارګانونو له خوا له ښځو سره د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي په هکله اقدامات ترسره کړي، په دې اقداماتو کې ممکن د قانون، اداراتو یا داسې سیستمونو جوړول شامل وي چې په دې برخه کې مفید واقع شي. دولتونه دنده لري چې د قربانیانو په مرکزیت سره له ښځو سره د جنسیت پر اساس د خوشنت د پېښو مخه ونیسي، په هکله یې څېړنه وکړي، تعقیب یې کړي او عاملین یې مجازات کړي، چې په دې کې ممکن د لاسرسي وړ او مناسبو محافظتي مرکزونو جوړول؛ د حقوقي، روغتیایي او روانپوهیزو ملاتړونو چمتو کول؛ او د سرپناه ګانو او مرستندویه تلفوني کرښو رامنځته کول شامل وي. د CEDAW د ۱۹م عمومي وړاندیز پر اساس، که چېرې یو دولت و نه شي کولی چې له ښځو سره د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي مخه ونیسي، په هکله یې څېړنه وکړي، تعقیب یې کړي، عاملین یې مجازات کړي او قربانیانو ته یې د احیا زمینه برابره کړي، نو دا د دې لامل کېږي چې غیر دولتي ارګانونه هم په ضمني ډول له ښځو سره د جنسیت پر اساس تاوتریخوالی پیل کړي.[۳۲۷] دا ناکامي یا حذفول د بشري حقونو د نقض سبب ګرځېدی شي.

لکه څنګه چې په ۵م فصل کې ذکر شوي، افغانستان د طالبانو له حاکمیت مخکې له ښځو سره د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي پېښو ته د رسیدګۍ یو سیستم لرلو، او د افغانستان د ۲۰۰۹ کال د ښځو پر وړاندې د

۳۲۳ د ښځو پر وړاندې د تبعیض د محودې کمېټه، عمومي وړاندیز نمبر ۱۹: د ښځو پر وړاندې خشونت، ۱۹۹۲، ۳۸/۴۷/A، برخه ۶، او د عمومي وړاندیز نمبر ۳۵: د ښځو پر وړندې د جنسیت پر اساس خشونت، ۱۴ جولای ۲۰۱۷، CEDAW/C/GC/35.

۳۲۴ CEDAW، ۱مه ماده.

۳۲۵ CEDAW، ۲مه ماده.

۳۲۶ د CEDAW د عمومي وړاندیز نمبر ۳۵: د ښځو پر وړاندې د جنسیت پر اساس خشونت، ۱۴ جولای ۲۰۱۷، CEDAW/C/GC/35.

۳۲۷ د ښځو پر وړاندې د تبعیض د محودې کمېټه، عمومي وړاندیز نمبر ۱۹: د ښځو پر وړاندې خشونت، ۱۹۹۲، برخه ۹.

تاوتریخوالي د محوې قانون د دې پېښو له قربانیانو څخه ملاتړ کړی ؤ چې خپلې حقوقي دعوې ثبت کړي.[۳۲۸] طالبانو د خدماتو د چمتو کوونکو په ګواښلو او د سرپناه ګانو په چور کولو سره دا سیستم له منځه یوړ. له دې هر څه سره، طالبانو خپل ټول زندانیان په سیستماتیک ډول له زندانونو څخه آزاد کړل چې په منځ کې یې هغه کسان هم شامل وو چې له ښځو سره د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي له امله نیول شوي وو – ښایي دا کار د دې سبب شي چې د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی لا زیات شي. داسې ښکاري چې طالبانو تر ننه د EVAW قانون په بشپړ ډول نقض کړی دی، او هغوی پخوانیو خدماتو او سرپناه ګانو ته د لاسرسي لپاره د دوو اساسي مرجعو دروازې تړلې دي: د افغانستان د بشري حقونو مستقل کمېسیون او ښځو چارو وزارت. همدارنګه، ظاهرا طالبان له ښځو سره د جنیست په اساس د تاوتریخوالي د پېښو د څارلو یا مخنیوي لپاره هېڅ هڅه نه کوي.

۹٫۶ د توقیف پر مهال تاوتریخوالي

خودسرانه نیول او توقیف

ټول وګړي په خپل نوبت سره حق لري چې آزاد و اوسي او په خودسرانه ډول توقیف یا زنداني نه شي.[۳۲۹] وګړي یوازې هغه وخت توقیف کېدی شي چې په نړیوال ډول پېژندل شوی او قانون کې ذکر شوی جرم یې ترسره کړی وي. توقیفول او زنداني کول هغه وخت خودسرانه ګڼل کېږي چې د بشري حقونو لکه د خوځښت یا غونډې د آزدۍ د تطبیق له امله ترسره کېږي، او توقیف د یوه تبعیضي لامل لپاره ترسره شي، مثلا د جنسیت پر اساس.[۳۳۰] همدرانګه، هغه توقیفونه هم خودسرانه ګڼل کېږي چې توقیف شویو کسانو ته د رسیدګۍ لپاره پروسه نه وي موجوده. ټولو توقیف شویو کسانو ته باید د توقیف په وخت کې د هغوی جرم یا اتهام واضح شي؛ حقوقي مشورو ته د لاسرسي زمینه ورته مساعده شي؛ فورا قاضي ته راوستل شي ترڅو د هغوی د توقیف مشروعیت ثابت شي؛ او د محکمې فرصت ورکړل شي.[۳۳۱]

لکه څنګه چې په ۶م فصل کې یادونه شوې، طالبانو ځینې ښځې په خودسرانه ډول د "اخلاقي فساد" په تور توقیف کړې دي، همدارنګه هغه ښځې یې هم نیولې دي چې د خاوند یا د کورنۍ د غړو د تاوتریخوالي له امله له کورونو څخه تښتېدلې دي. د هغو ښځو د نیولو لپاره هېڅ توجیح نشته چې له کورني تاوتریخوالي څخه تښتېدلې دي، بلکې طالبان له توقیف خونو څخه د دې ښځو او نجونو د ساتلو لپاره استفاده کوي څکه چې د امن خونې او د سرپناه شبکې له منځه تللې دي. د "اخلاقي فساد" تور په نړیوالو قوانینو کې د جرم په توګه نه حسابېږي، نو کومې ښځې چې په دې تور نیول کېږي، نیول یې خودسرانه ګڼل کېږي. سربېره پر دې، که چېرې د توقیف کېدو کومه پېښه د جنسیتي تبعیض له امله نړیوال قوانین نقض کړي، نو دا توقیف هم خودسرانه توقیف ګڼل کېږي. نو په همدې دلیل، هغه ښځې چې د محرم د نه لرلو له امله نیول کېږي، نیول یې غیر قانوني دي. ښایي چې طالبان حد اقل په ځینو پېښو کې ښځو او نجونو ته د هغوی د نیول کېدو تور فورا نه واضح کوي او هغوی ته د حقوقي مشورو خدمات نه وړاندې کوي.

لکه څنګه چې په ۸م فصل کې تشریح شوي، طالبانو لاریون کوونکې ښځې هم په خودسرانه ډول نیولې دي. هغه پېنځه ښځې چې د طالبانو له خوا نیول شوې او زنداني شوې وې او د بخښنې نړیوال سازمان مرکه ورسره کړې وه، ښایي له دې امله زنداني شوې وي چې غوښتل یې د بیان د آزادۍ او د غونډو او راټولېدو د

۳۲۸ د ښځو پر وړاندې د خشونت د محوې (EVAW) قانون، ۲۰۱۹.

۳۲۹ ICCPR، ۱۹(۱) ماده.

۳۳۰ د بشري حقونو کمېټه وګورئ، د عمومي نظر نمبر ۳۵: ۹مهماده (فردي آزادي او امنیت)، ۱۶ ډسمبر ۲۰۱۴، CCPR/C/GC/35، برخه ۱۷. همدارنګه د خودسرانه نیولو په هکله د کاري ګروپ راپور وګورئ، ۲۴ ډسمبر ۲۰۱۲، ، برخه ۳۸(e).

۳۳۱ ICCPR، ۹(۲-۴) ماده او ۱۴(۳) ماده

آزادۍ له حق څخه استفاده وکړي. دې ښځو ته د توقیف په وخت کې د هغوی تور نه ؤ ویل شوی، حقوقي مشورو ته د لاسرسي زمینه نه وه ورته برابره شوې، د قاضي حضور ته نه وې راوستل شوې، او اصلا محکمه شوې نه وې – بلکې، په هغوی باندې په جبر سره "تړونونه" لاسلیک شوي وو چې بیا به هېڅ وخت د خپلو حقونو غوښتنه او لاریونونه نه کوي او د توقیف پر مهال د پېښو په هکله به په عامو ځایونو کې خبرې نه کوي.

په زور سره له صحنې ورکول

په زور سره له صحنې ورکړل داسې تعریفېږي: "د دولت د استازو له خوا هغه توقیف، زنداني کول او یا له آزادۍ څخه بل ډول محرومیت... چې د آزادۍ له محرومیت وروسته د نیول شویو کسانو توقیف تصدیق نه شي او د هغوی ځای او سرنوشت پټ پاتې شي، او دا کار د دې لامل شي چې له نیول شویو کسانو څخه د قانون ملاتړ محوه شي".[٣٣٢] په زور سره له صحنې ورکول د نړیوالو بشري حقونو نقض ګڼل کېږي او په ICCPR کې د ذکر شویو حقونو څخه سرغړونه حسابېږي، لکه د ژوند کولو حق؛ د فرد د امنیت او آزدۍ حق؛ له خودسرانه نیول کېدو څخه د محافظت حق؛ له شکنجې او نورو ظلمونو، غیر انساني چلند یا ناوړه سزاګانو څخه د معافیت حق؛ او د عادلانه محکمې حق.[٣٣٣]

لکه څنګه چې په ۸م فصل کې بحث شوی، څلورو هغو لاریون کوونکو ښځو چې د طالبانو له خوا په خودسرانه ډول نیول شوې وې د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل چې هغوی نه شوای کولی د خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي، او طالبانو د ۱۰ ورځو لپاره د هغوی خپلوانو ته د هغوی له توقیف څخه انکار کولو. دا ټولې کړنې په زور سره له صحنې ورکول ګڼل کېږي.

شکنجه او نور ناوړه چلندونه

د شکنجې پر وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانیسیون شکنجه داسې تعریقوي: "هر هغه عمل چې په بل کس باندې په عمدي ډول ترسره کېږي او هغه ته شدید فزیکي یا رواني درد او اذیت رسوي، او موخه یې دا وي چې له هغه فرد څخه د یوې موضوع په هکله معلومات یا اعتراف ترلاسه کړي، او د یو داسې کار لپاره هغه ته سزا ورکړي چې فرد خپله یا کوم بل کس ترسره کړی وي او یا یې د ترسره کېدو په هکله شک موجود وي. او یا دولتي او رسمي کارمند په اجازې یا رضایت سره د بل تبعیضي لامل له امله په بل کس باندې د هر ډول ډار او جبر ترسره کول او یا هغه ته درد رسول."[٣٣٤] معمولا د شکنجې یا کوم بل ظالمانه، غیر انساني، ناوړه چلند یا سزا او د شکنجې (ناوړه رفتار) ترمنځ توپیر کول ممکن نه وي. د شکنجې پر وړاندې د مبارزې کنوانسیون هر ډول شکنجه او ناوړه چلند ممنوع اعلانوي، چې په دې کنوانسیون کې افغانستان هم غړی دی، لکه ICCPR. سربېره پر دې، د شکنجې ممنوعیت په نړیوالو قوانینو کې قطعي دی، دا په دې مانا دی چې د هېوادونو د معاهداتو په پام کې نه نیولو سره ټول هېوادونه دې تړون ته اړ کوي او هېڅوک نه شي کولی له هغې څخه انصراف وکړي.

د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو کمېټه څرګندوي چې د توقیف هغه مرکزونه چې د زندانیانو سره د چلند په برخه کې د ملګرو ملتونو د حد اقل معیارونو (د منډېلا قوانین) سره برابر نه وي – په ځانګړي ډول د غولي او اتاق فضا، د حفظ الصحې توکو ته لاسرسی او ټولو ته د جلا تختونو چمتو کول – د ظلم، غیر انساني او ناوړه چلند سبب کېږي.[٣٣٥]

---

٣٣٢ له اجباري ورکونې څخه د ټولو وګړو د محافظت نړیوال کنوانسون (ICPED)، ۱مه ماده.

٣٣٣ ICCPR، ۱مه، ۷مه، ۹مه او ۱۴مه ماده. د بشري حقونو کمېټې موندلې چې په ګڼو پېښو اجباري ورکونه تر قضايي څارنې لاندې راغلې، مثلا په چېرګیوت او الجزایر کې، د اړیکې نمبر ۲۰۱۶/۲۸۲۸، CCPR/C/128/D/2828/2016، ۲۷ مارچ ۲۰۲۰، برخه ۷٫۴.

٣٣۴ د شکنجې پر وړاندې د مبارزې کنوانسیون، ۱مه ماده.

٣٣۵ د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو کمېټې پینځه پنځوسمه ناسته، *Womah Mukong او کامېرون*، د اړیکو نمبر ۱۹۹۱/۴۵۸، چې د ۱۹۹۴ د جولای په ۲۱مه ترسره شوې وه.

لکه څنګه چې په ۸م فصل کې تشریح شوي، هغو ښځینه لاریون کوونکو چې په خودسرانه ډول نیول شوې وې وویل چې هغوی او نورې ښځې د توقیف پر مهال وهل کېدې. همدارنګه هغوی له غیر انساني شرایطو سره مخ وې او په فشار پرې راوستل کېدلو ترڅو د نورو زندانیانو وهلو او ناوړه استفادې ته وګوري. دا ډول چلندونه په شکنجه او ناوړه چلند کې حسابېږي.

لکه څنګه چې په ۶م فصل کې ذکر شوي، هغه ښځې چې د "اخلاقي فساد" او له کورني تاوتریخوالي څخه د تېښتې په تور نیول شوې، په انفرادي زندانونو کې اچول شوې او په دوامدار ډول وهل کېږي. دا ډول چلند هم په شکنجه او نورو ناوړه چلندونو کې حسابېږي.

د دې راپور ځینې نورې پېښې هم ممکن په شکنجه او ناوړه چلند کې راشي، مثلا لکه په ۴م فصل کې له مرزونو څخه د تېرېدلو په حالت کې د ښځو وهل، په ۵م فصل کې د ښځو او نجونو مجبوره کول ترڅو په همدې ناوړه شرایطو کې پاتې شي، او په ۶م فصل کې د جنسیت پر اساس د خشونت د قربانیانو خودسرانه نیول.[۳۳۶]

۹٫۷ د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه

لکه څنګه چې په ۷م فصل کې تشریح شوي، اجباري واده داسې تعریفېږي: "هغه واده چې په هغې کې یو یا دواړه جانبین واده ته خپل مستقل رضایت و نه ښايي".[۳۳۷] د افغانستان د پخواني حقوقي چارچوب له مخې د واده لپاره احد اقل عمر د نجونو لپاره ۱۶ کاله او د هلکانو لپاره ۱۸ کاله ؤ، لیکن ۱۵ کلنې نجلۍ کولی شول د خپل پلار یا محکمې په رضایت سره واده وکړي.[۳۳۸] دا ټاکل شوي عمرونه د ملګرو ملتونو د ارګانونو له ټاکل شویو عمرونو څخه کم دي، لکه د ښځو پر وړاندې د تبعیض د محوې کمېټه او د ماشومانو د حقونو کمېټه چې هېوادونو ته وړاندیز کوي چې د واده لپاره حد اقل عمر ۱۸ کاله وټاکي.[۳۳۹]

د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه د بشر د حقونو نقض او زیان رسوونکي اقدامات ګڼل کېږي.[۳۴۰] همدارنګه د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه د ښځو او نجونو پر وړاندې خشونتونه زیاتوي، لکه جنسي خشونت او د "واده" اړونده نور زیانونه، او همدارنګه تناسلي روغتیایي خدماتو ته د ښځو لاسرسی کموي.[۳۴۱] دولتونه د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو د کچې د راکمولو لپاره پراخ تعهدات لري، لکه د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو د ریښو پیدا کول؛ د ښځو او نجونو پیاوړي کول؛ د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو د پایلو په هکله عامه پوهاوي په لاره اچول؛ په داخلي قوانینو کې د داسې ودونو منعه کول؛ د هغو ښځو لپاره د سرپناه ځانو او نورو حقوقي خدماتو چمتو کول چې اجباري ودونو ته مجبوره کېږي؛ هغوی ته د حقوقي درملنو چمتو کول؛ او د ولادت او ودونو راجستر کول.[۳۴۲]

---

۳۳۶ دا چې په بد حالت کې ښځو او نجونو پاتې کېدل څنګه شکنجه یا ناوړه چلند حسابېدلی شي، په هکله یې نور معلومات د ښځو پر وړاندې د تبعیض د محوې په اداره کې وګورئ، د عمومي وړاندیز نمبر ۳۵، برخه ۱۶. د شکنجې او نورو ظلمونو په هکله د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، غیر انساني یا ناوړه چلند او شکنجه، ۵ جنوري ۲۰۱۶، (2016) A/HRC/31/57، III.A برخه؛ او د اروپا د بشري حقونو محکمه (ECtHR)، *Opuz او ترکیه*، د درخواست نمبر ۰۲/۳۳۴۰۱، ۹ جون ۲۰۰۹.

۳۳۷ د ښځو پر وړاندې د تبعیض د محوې کمېټه او د ماشومانو د حقونو کمېټه، د مضرو اقداماتو په هکله مشترک عمومي وړاندیزونه/د عمومي نظر نمبر ۳۱، CEDAW/C/GC/31-CRC/C/GC/18، برخه ۲۲.

۳۳۸ د افغانستان مدني قانون، ۷۱مه ماده.

۳۳۹ د ماشومانو د حقونو کمېټې ته مراجعه وکړئ، د لویانو د روغتیا او ودې په برخه کې د عمومي نظر نمبر ۴، ۱ جولای ۲۰۰۳، برخه ۱۶؛ د ښځو پر وړاندې د تبعیض محوې کمېټه، په واده کې د مساواتو په برخه کې د عمومي وړاندیز نمبر ۲۱، ۱۹۹۴، برخه ۳۶.

۳۴۰ د ښځو پر وړاندې د تبعیض د محوې کمېټه او د ماشومانو د حقونو کمېټه، د ښځو پر وړاندې د تبعیض د محوې د کمېټې مشترک عمومي وړاندیزونه/د عمومي نظر نمبر ۳۱/ د مضرو اقداماتو په هکله د ماشومانو د حقونو د کمېټې د عمومي نظر نمبر ۱۸، ۴ نومبر ۲۰۱۴، CEDAW/C/GC/31-CRC/C/GC/18.

۳۴۱ د بشري حقونو څارونکې اداره، *اخیستل شوي ژوندونه: د ماشومانو د ودولو له لارې د ښځو او نجونو د بشري حقونو نقض.*

۳۴۲ د مضرو اقداماتو په برخه کې د مشترک عمومي وړاندیز نمبر ۳۱ او ۱۸.

لکه څنګه چې په ۷م فصل کې تشریح شوي، د بخښنې نړیوال سازمان دوې داسې پېښې ثبت کړې چې طالبانو ښځې مجبوره کړې ترڅو واده وکړي، او دې ته د ورته قضایاوو په هکله یې راپورونه ترلاسه کړي دي. د زندان کارکوونکو هم وویل چې هغوی لیدلي چې طالبان ښځینه زندانیانې ودونو ته مجبوره کوي. دا قضیې داسې ښکاري چې له اجباري ودونو څخه د ښځو د خلاصون له حقونو څخه انکار کوي او کیدای شي د جنسي تاوتریخوالی او نورو ناوړه ګټه اخیستنې څخه د ښځو حق څخه هم سرغړونه وکړي. دا پېښې باید فورا وڅېړل شي او تعقیب شي.

طالبان د دې لپاره چې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو څخه د مخنیوي په برخه کې خپله دنده ادا کړي، نو هغوی باید دې پېښو ته د رسیدګی لپاره کوټلي او جامع ګامونه واخلي لکه د دې ودونو د اصلي سرچینو پیدا کول، د تر ګواښ لاندې کسانو ساتل او لکه څنګه چې پورته تشریح شوي د قربانیانو د حقونو مراعاتول. د هغو سازمانونو د مرکو پر اساس چې د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو په برخه کې فعالیت کوي، هېڅ داسې دلیل نشته چې په دې برخه کې د طالبانو په فعالیت او د هغوی د ګامونو په کوټلتیا دلالت وکړي. سربېره پر دې، په تعلیم، ګرزېدو او کار باندې د طالبانو له خوا لګول شوي بندیزونه د دې لامل ګرځي چې له اجباري ودونو سره د ښځو د مخ کېدو کچه لا لوړه شي.

۱۰. نتیجه ګیري او وړاندیزونه

"طالبان غواړي موږ په قفسونو کې بندي کړي ترڅو موږ له ټولنې څخه حذف کړي او هر څه رانه واخلي. لیکن موږ خپلې هیلې لرو. موږ خپل خوبونه لرو. حتی که هغوی موږ په زنځیرونو هم وتړي، موږ بریالي کېږي او موږ به خپل ځان دوی ته او نورو خلکو ته ثابت کړو."

مینا، د عالي ښوونځي زده کوونکې[۳۴۳]

د طالبانو د واکمنېدو یو کال کېږي او د افغان ښځو او نجونو په ږوند کې بېساري بدلونونه راغلي دي. هغوی ښوونځیو، کار، له کور څخه وتلو او د خپلې خوښې جامو اغوستلو ته نه پرېښودل کېږي. که چېرې هغوی له کورني تاوتریخوالي څخه وتښتي، د هغوی لپاره د ملاتړ او یا مرستې هېڅ خدمات شتون نه لري او د طالبانو د تبعیضي قوانینو له امله په خودسرانه ډول زنداني کېږي، او همدارنګه پرته له رضایت څخه د اجباري ودونو له لوړ خطر سره مخ کېږي. کله چې افغان ښځو او نجونو د دې بدلونونو پر وړاندې سوله ییز لاریونونه وکړل، هغوی له ځورولو، ګواښلو، ناوړه استفادې، زندان او شکنجې سره مخ شول او د ټول ژوند لپاره د ننګ لکه پرې پورې شوه.

کله چې له دې ښځو او نجونو څخه پوښتنه وشوه چې طالبانو او نړیوالې ټولنې ته څه پیغام لري، نو هغوی مختلف ځوابونه وړاندې کړل. خو یو پیغام د هغوی په منځ کې ډېر تر سترګو کېدلو: نړیواله ټولنه باید طالبان په رسمیت و نه پېژني، ځکه چې د دې کار ترسره کول په دې مانا دي چې هغوی د ښځو او نجونو په هکله د طالبانو وروستی پالیسۍ مني.[۳۴۴] د بېلګې په ډول، فرح کې د لوګر ولایت اوسېدونکې ده د بخښنې نړیوال سازمان ته یې داسې وویل: "که چېرې هغوی طالبان په رسمیت وپېژني، نو د افغانستان په ګوټ ګوټ کې – په هر ولایت، ولسوالۍ او کلي کې – یوازنۍ قشر چې و به ځورېږي، هغه ښځې دي. که چېرې طالبان په رسمیت وپېژنئ، نو افغان ښځې په اور کې سوځوئ."[۳۴۵]

ډېری ښځو او نجونو وویل هغوی فکر کوي چې د ښځو په محرومولو باندې د طالبانو توجه د دې لامل شوې چې په افغانستان کې لویې او مهمې ستونزې رامنځته شي. میترا چې د کابل ولایت اوسېدونکې او د پوهنتون محصله ده خپله نهیلي داسې څرګندوي: "هغوی دې زموږ د کالیو او جامو په هکله اندېښنه کوي، بهتره ده چې د هېواد ژغورلو ته پام وکړي. خلک له لوږې مړه کېږي. خلک د خپلې پاتې کورنۍ د مړولو لپاره خپل اولادونه

۳۴۳ مرکه، ۲۰۲۲.
۳۴۴ د بخښنې نړیوال سازمان د دولت د رسمیت پېژندلو په هکله د سوالونو په برخه کې موقف نه لري.
۳۴۵ مرکه، ۲۰۲۲.

يوې افغان مېرمنې په خپل کور کې انځور اخيستی. © Kiana Hayeri / دبښنې د نړيوال سازمان سره محفوظ دی

خرځوي... خو په تېرو نهو میاشتو کې یوازنی کار چې دوی ترسره کړی، هغه دا دی چې د ښځو پر مخ یې هره ممکنه دروازه تړلې ده."[۳۴۶]

همدارنګه ښځو او نجونو له هغوی سره د طالبانو د چلند په هکله د نړیوالې ټولنې چوپتیا او اقدام نه کولو ته هم خپله غوسه ښکاره کړه. د بېلګې په ډول یوې ښځې چې له سوله ییز لاریون وروسته د طالبانو له خوا نیول شوې وه وویل، "زه نور د دې له اورېدلو څخه ستړې شوې یم چې نړیواله ټولنه زموږ لپاره اندېښنه کوي... که چېرې نه غواړئ عملي اقدام وکړئ، نو اندېښنه مه کوئ."[۳۴۷] ابریشم چې د جنسیت پر اساس د خشونت د قربانیانو په خدماتو کې کار کوي د بخښنې نړیوال سازمان ته وویل، "زه ډېره نهیلې شوې یم... په تېرو ۲۰ کلنونو کې موږ [ښځو] ته دا فرصت راکړل شوی ؤ چې د عدالت لپاره خپل غږ پورته کړو... زه داسې احساس کوم چې نړیوالې ټولنې موږ یوازې پرېښې یو – نه یوازې نړیوالې ټولنې، بلکې ټولې نړۍ."[۳۴۸]

هغو ښځو چې د بخښنې نړیوال سازمان مرکه ورسره کړې وه، د طالبانو د تبعیضونو او غیر انساني چلندونو په وړاندې ثابت قدمې پاتې شوې دي. یوې لاریون کوونکې چې د طالبانو له خوا نیول شوې وه وویل چې هغه به هېڅ وخت د افغان ښځو او نجونو د حقونو لپاره له مبارزې لاس وا نخلي:

> **طالبان باید په دې پوه شي چې موږ ښځې حضور لرو او دا هرڅه به وزغمو. موږ به د مبارزې او همدارنګه د مقاومت لپاره مختلفې لارې پیدا کړو... موږ د بدلون نسل یو. که چېرې موږ خپله هڅه و نه کړو، افغانستان به څوک وژغوري؟ زما مسؤلیت یوازې په کورنۍ او کلي پورې نه محدودېږي – بلکې هڅې مې د ټول هېواد لپاره دي... موږ باید ښوونځي پرانیزو، ښځې بېرته کار ته ولېږو ترڅو بدلون راشي. زموږ لاره ډېره اوږده ده.**[۳۴۹]

مېرمن عسل، چې د طالبانو له خوا د محرم د نه لرلو له امله وهل شوې وه، د نړۍ نورو ښځو ته د هیله مندۍ پیغام داسې وړاندې کوي:

> **زه د نړۍ نورو ښځو ته یو پیغام لرم: تاسو هېڅ وخت باید منصرف نه شئ... موږ ښځې یو بل ښه درک کولی شو او باید اجازه ور نه کړو چې څوک د ښځو حقونه تر پښو لاندې کړي. دا یوازې د افغانستان په هکله نه وایم. د نړۍ په نورو سیمو کې هم دې ته ورته کارونه ترسره کېږي. موږ باید په ګډه سره مبارزه وکړو او ټول باید له یو بل څخه ملاتړ وکړو. موږ باید یو له بل سره مرسته وکړو، یو بل ته لاس ورکړو او د یو بل ترڅنګ ودرېږو...**
>
> **طالبان فکر کوي چې ښځې ماغزه نه لري، بې فایدې دي، او له سړیانو سره مساوي نه دي. هغوی حتی موږ ته د انسان په سترګه نه ګوري. له همدې امله غواړي چې موږ خپل ځانونه، مخونه، فکرونه، خوبونه او هیلې وپوښو. هغوی غواړي موږ حذف کړي. کله چې ګورو هغوی دا کارونه ترسره کوي، موږ باید لا پیاوړې شو**[۳۵۰]

۳۴۶ مرکه، ۲۰۲۲.
۳۴۷ مرکه، ۲۰۲۲.
۳۴۸ مرکه، ۲۰۲۱.
۳۴۹ مرکه، ۲۰۲۱-۲۰۲۲.
۳۵۰ مرکه، ۲۰۲۲.

وړاندیزونه

طالبانو ته، د افغانستان برحاله حاکمان:

- د ښځو او نجونو بشري حقونو ته درناوی وکړئ او عملي يې کړئ، دا کار د نړيوالو قوانينو د الزاماتو مطابق ترسره کړئ چې لاندې موارد پکې شامل دي خو يوازې په دې پورې محدود نه دي: له ښځو څخه د هر ډول تبعيض لرې کونې کنوانسيون او د ماشومانو د حقونو کنوانسيو، چې افغانستان هم د دې کنوانسيونونو غړيتوب لري؛
- د ښځو چارو وزارت او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون بيا تأسيس کړئ؛
- د بشري حقونو د پراختيا، تمايل او قضاياوو په برخه د يونما د بشري حقونو له خدماتو سره کار کولو او تعامل ته دوام ورکړئ؛
- خانګړي راپور ورکوونکي ته په بشپړه توګه او پرته له محدوديته اجازه ورکړئ او اسانتيا ورته برابره کړئ ترڅو په هېواد کې وګرځي او په افغانستان کې د بشري حقونو د حالت په هکله راپورونه چمتو کړي، او وکولی شي له خلکو سره شخصي او محرمې مرکې وکړي؛
- د ښځو پر وړاندې د تبعيض له منځه وړلو له کمېټې سره په رغنده توګه روابط ولرئ او د غير معمولي راپورونو په صورت کې د هغوی غوښتنې ته سمدستي ځواب ووايئ.

بشري او اقتصادي ناورين

- ډاډ ترلاسه کړئ چې د ملګرو ملتونو ادارات کولی شي بشري مرستې په تخصصي ډول طرح او تطبيق کړي، او دا مرستې پرته له مداخلې څخه تر ټولو اړمنو او مناسبو کسانو ته ورسېږي، لکه ښځې او نجونې؛
- د بشري حقونو ښځينه کارمنداتو ته اجازه ورکړئ ترڅو پرته لا کوم ممانعت څخه خپلې دندې ترسره کړي.

په ښځو او نجونو باندې د طالبانو محدوديتونه

- د لاندې کارونو په ترسره کولو سره، د ښځو او نجونو د تعليم د حقونو درناوی او ساتنه وکړئ او د عملي کولو لپاره يې جامع اقدامات ترسره کړئ:
  - له شپږم ټولګي څخه پورته د نجونو ټول ښوونځي پرانيزئ او اعلان وکړئ چې ښوونځي خلاص دي او ټول ماشومان – هلکان او نجونې – بايد ښوونځيو ته لاړ شي؛
  - په ټولو کچو کې له ښځينه زده کوونکو او ښوونکو څخه محدوديتونه لرې کړئ، لکه د هغوی په کاليو او چلند باندې تبعيضي محدوديتونه؛
  - مور ته اطمينان راکړئ چې د ښځو او نجونو لپاره په ټولو برخو کې موجود فرصتونه د سړيانو او هلکانو له هغو سره مساوي دي. هغه محدوديتونه ببرته لرې کړئ چې ګواکې ښځې او نجونې نه شي کولی له سړيانو او هلکانو سره يو ځای زده کړې وکړي او يا دا چې ښځينه زده کوونکې نه شي کولی نارينه ښوونکی ولري، ځکه چې دا کارونه د دې لامل کېږي چې نجونې کم تعليم ته لاسرسی ولري، د تعليم کيفيت يې ټيټ او محدود وي، او نورې منفي اغېزې ولري؛
- د ښځو په دنده باندې ټول لګول شوي محدوديتونه لرې کړئ، په شمول د دې چې له ښځو کارمندانو سره به تبعيضي چلند کېدلو؛
- د پخواني دولت ټولو ښځينه کارمندانو ته اجازه ورکړئ چې خپلو پخوانيو دولتي دندو ته بېرته راشي، او ښځو ته اجازه ورکړئ چې په ټولو سکتورونو کې او په هر پوست کې دنده ترسره کړي؛
- هغو ښځو ته چې په مختلفو سکتورونو کې کار کوي ډاډ ورکړئ چې هغوی به د نارينه کارکوونکو سره مشابه مالي امتيازات، مسلکي پرمختګ او د ترفيع امکانات لري؛
- په ټولو کاري ساحو کې پر ښځو باندې لګول شوي محدوديتونه لرې کړئ، مثلا په کاليو او حرکاتو باندې محدوديتونه؛

- ښځې د کابینې او دولت په لوړو پوستونو کې وګومارئ، مثلا په قضايي چارو کې، او ښځو ته د تصمیم نیونې په ټولو اورګانونو کې غړیتوب ورکړئ؛
- د ښځو او نجونو په آزادو حرکتونو باندې لګول شوي محدودیتونه لرې کړئ، مثلا دا چې له ښځې سره باید تل یو محرم (خپل نارینه) موجود وي؛
- په واضح ډول اعلان وکړئ چې ښځې او نجونې د آزادو حرکتونو حق لري او ټول یې باید درناوی او ساتنه وکړي، او ټول هغه کسان تشخیص او مجازات کړئ چې د ښځو د آزادو حرکتونو حقوق تر پښو لاندې کوي او یا په ښځو باندې د محرم د نه لرلو له امله محدودیتونه لګوي؛
- ښځو ته حق ورکړئ ترڅو هغوی خپل لباس په خپله انتخاب کړي، او له هر ډول اجبار، خشونت او تبعیض څخه خلاصې وي.

د جنسیت پر اساس خشونت (GBV)

- د ملګرو ملتونو د اړونده اداراتو او د غیر دولتي مؤسساتو په ملاتړ یوه جامع ستراتیژي جوړه کړې ترڅو د بشري حقونو د قوانینو د الزاماتو مطابق د ښځو او نجونو پر وړاندې جنسیتي خشونت ته ریسیدګي وکړي او په یادو قاوانینو کې د توقیف، ساتنې، شکنجې او د جنسیتي خشونت د جبران له معیارونو سره سم د ښځو او نجونو لپاره اقدامات ترسره کړي. دا اقدامات د قرباني شویو کسانو پر محور څرخېږي او باید د ښځو او نجونو استقلالیت ته درناوی وکړي او نور وړاندیزونه په لاندې توګه مطرح کېږي:
  - یو جامع قانون جوړ کړئ ترڅو د هغې له مخې د ښځو او نجونو پر وړاندې هر ډول جنسیتي خشونت ته رسیدګي وشي، په دې برخه کې باید د ښځو د حقونو فعالان او ملي او بین المللي سازمانانو پراخه ونډه ولري؛
  - د ۲۰۰۹ کال د ښځو پر وړاندې د خشونت د له منځه وړلو د قانون مادې ژر تر ژره عملي کړئ، د دې قانون د عام کولو لپاره اقدامات ترسره کړئ، او د قانون د حاکمیت څانګړي تعقیبي واحدونه او محکمې بېرته له سره تأسیس کړئ؛
  - ټولې ښځینه پولیسې بېرته په دنده وګومارۍ او د اضافي ښځینه پولیسو د جذب او ساتنې لپاره کار وکړئ؛
  - ډاډ حاصل کړئ چې ټولو پولیسو ته د جنسیتي خشونت په هکله د حقونو مطابق لازمې روزنې ورکړل شوې دي؛
  - ډاډ حاصل کړئ چې په ټول هېواد کې د جنسیتي خشونت د قربانیانو لپاره د امن خونې او سرپناه شتون لري، په دې کار کې د تړل شویو امن خونو بېرته پرانیزل هم شاملېدی شي. او ډاډ حاصل کړئ چې د جنسیتي خشونت قربانیان د حقوقي مرستو، روغتیایي مراقبتونو، رواني‌پوهیزو مشورو او د ماشومانو د مراقبتونو په شمول نورو محافظتي خدماتو ته هم لاسرسی لري؛
  - دې ته کار وکړئ ترڅو ښځې او نجونې وکولی شي پرته د تعقیبي کړنو له وېرې څخه د جنسیتي خشونت پېښې عدلي مراجعو ته ربپوټ کړي، او ډاډ ترلاسه کړئ چې د جنسیتي خشونت ټولې رپوټ شوې پېښې په بشپړ، عاجل او بېطرفانه ډول څېړل کېږي او د دې جنایت مرتکبین د بین المللي معیارونو مطابق تر تعقیب لاندې راځي، او که چېرې محکوم وګڼل شي نو پرته له دې چې په مرګ باندې محکوم شي، هغوی ته مناسبه سزا ورکول کېږي؛
  - د زندانیانو په آزادولو باندې څېړنه وکړئ، مخصوصا هغه زندانیان چې په جنسیتي خشونت باندې محکوم دي، او ډاډ ترلاسه کړئ چې هغوی نور نه شي کولی عدالت نقض کړي او د کړنو لپاره یې مسؤل ګڼل کېږي؛
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې د جنسیتي خشونت قربانیانو ته په وخت سره، په مؤثر ډول او په بشپړه توګه رسیدګي کېږي او ستونزې یې حل کېږي؛
  - ډاډ ترلاسه کړئ چې هغه خدماتي مراکز چې د جنسیتي خشونت قربانیانو ته خدمات وړاندې کوي، په آزاد ډول او پرته د تعقیبي کړنو له وېرې څخه کار کوي؛
  - د جنیستي خشونت د قربانیانو خودسرانه نیولو ته پای ورکړئ.

د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونه

- د ماشومانو د ودولو، له وخته مخکې ودونو او اجباري ودونو په هکله د طالبانو عامه موقف خلکو ته اعلان کړئ او د ښځو پر وړاندې د خشونت د له منځه وړلو د قانون مادې او د مدني کود هغه مقررات تطبیق کړئ چې د ماشومانو د ودولو، له وخته مخکې او اجباري ودونو څخه مخنیوی کوي؛
- د طالبانو غړیو ته ماشومانو د ودولو، له وخته مخکې ودونو او اجباري ودونو د حرمت او زیانونو په هکله زده کړې ورکړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د طالبانو هېڅ په ښځو باندې فشار نه راوړي او هغوی واده کولو ته نه مجبوروي، د دې کار د ترسره کولو لپاره په هغو کسانو باندې بندیزونه ولګوئ چې مخکې یې ښځې او نجونو واده کولو ته مجبوره کړې وې؛
- د نړیوالو قوانینو او د ماشومانو د اظهارنامې د میارونو مطابق د هغو کم عمره، له وخته مخکې او اجباري ودونو په هکله څېړنې او قانوني تعقیب ترسره کړئ چې د طالبانو د غړو یا نورو کسانو له خوا ترسره کېږي؛
- د نړیوالو وړاندیز شویو قوانیو مطابق، د نجونو او هلکانو د واده لپاره قانوني سن ۱۸ کاله وټاکئ، او له ۱۸ کلنۍ څخه ټیټ د هلکانو او نجونو ودول منعه کړئ؛
- د هغو کسانو او لاملونو د تشخیص او قانوني تعقیب لپاره اقدامات ترسره کړئ چې کم عمره، له وخته مخکې او اجباري ودونو ته لاره هواروي، لکه اقتصادي او بشري ناورین، د جنسیتي تبعیض شیوع او د هغه عام کېدل، او د طالبانو د محدودیتونو له امله تعلیم او دندې ته د ښځو او نجونو نه لاسرسی؛
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ښځې او نجونې کولی شي د کم عمرې، له وخته مخکې او اجباري ودونو زیانونه جبران او اعاده کړي، او همدارنګه د دې ودونو قربانیان کولی شي لازمو خدماتو لکه حقوقي علاج، د مشورو په برخه کې ملاتړ، او تعلیمي او شغلي فرصتونو ته لاسرسی ولري؛
- د زیږون د راجستر او د ودونو د راجستر لپاره په ملي کچه یو اجباري، د لاسرسي وړ او وړیا سیستم جوړ کړئ ترڅو وکولی شئ د ماشومانو ودونه او اجباري ودونه په مؤثر ډول تشخیص کړئ او مخه یې ونیسئ؛
- د کم عمره، له وخته مخکې او اجباري ودونو په هکله د عامه پوهاوي کمپاینونه په لاره واچوئ او په دې برخه کې د داخلي او بین المللي قوانینو په هکله خلکو ته معلومات ورکړئ؛
- د ملګرو ملتونو د اداراتو او د ملي او بین المللي غیر دولتي مؤسساتو په مشورې سره یو داسې پلان جوړ کړئ ترڅو وکولی شئ د ماشومانو، له وخته مخکې او اجباري ودونو مخه ونیسئ.

سوله ییز لاریونونه

- ډاډ ترلاسه کړئ چې د افغانستان ټول ښځینه او نارینه وګړي کولی شي د بیان آزادۍ، د ټولنیزو فعالیتونو او د اجتماعي غونډو د آزادۍ حقونو ته لاسرسی ولري؛
- په شمول د ښځو او نجونو او د هغوی د کورنیو، د ټولو هغو کسانو ځورولو، رټلو او خودسرانه نیولو ته پای ورکړئ چې سوله ییز لاریونونه ترسره کوي

د توقیف پر مهال خشونت

- د ښځو او نجونو خودسرانه توقیف، خودسرانه بندي کولو، اجباري ورکونې، شکنجې او نورو ناوړه چلندونو ته پای ورکړئ، همدارنګه د هغو ښځو او نجونو نیول متوقف کړئ چې په "اخلاقي فساد" تورنې کېږي او د کورني تاوتریخوالي څخه تښتي؛
- د طالبانو ټولو غړیو ته دا واضح کړئ چې یادې کړنې د زغملو وړ نه دي، او ډاډ ترلاسه کړئ چې د طالبانو هر هغه غړی چې یادې خشونتي کړنې ترسره کوي، تشخیصېږي او تر قانوني تعقیب لاندې راځي؛
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول هغه کسان له شکنجې او ناوړه چلند څخه خوندي ساتل کېږي چې له خپلې آزادۍ څخه محروم دي او تر تحدید لاندې او په سختو شرایطو کې دي، او ډاډ ترلاسه کړئ چې له هغوی سره انساني او نړیوالو معیارونو مطابق چلند کېږي، چې دا معیارونه په لاندې ډول دي: له زندانیانو سره د

چلند لپاره د ملګرو ملتونو معیارونه (د منډېلا قوانین) او له ښځینه زندانیانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو قوانین، او د ښځینه مجرمینو لپاره غیر توقیفي اقدامات (د بنګکاک قوانین)؛

- ټولو هغو کسانو ته چې له آزادۍ څخه محروم شوي دي مناسبې پروسې لکه مشورو ته عاجل لاسرسی، عدالت او سریع او عامه محکمې په لاره واچوئ، او هغو "ټرونونو" ته پای ورکړئ چې له معترضو ښځو څخه اخیستل کېږي ترڅو هغوی او یا د کورنۍ غړي یې د هغوی د توقیف په هکله په عامو ځایونو کې خبرې و نه کړي.

د ملګرو ملتونو د ټولو غړو په شمول، نړیوالې ټولنې ته:

- له هر فرصت څخه ګټه واخلئ او په طالبانو باندې فشار راوړئ ترڅو هغوی د ښځو او نجونو اساسي حقونو ته درناوی وکړي لکه د تعلیم، کار، آزادو حرکتونو، د کالیو د انتخاب، له کورني تاوتریخوالي څخه د تېښتې په صورت کې د حقوقي ملاتړ او علاج حقوق، همدارنګه ښځې او نجونې باید له خودسرانه نیولو او بندي کولو څخه خلاصې شي او وکولی شي د واده لپاره خپل رضایت ورانديې کړي، همدارنګه باید د سوله ییزو لاریونونو حقوق هم ورکړل شي؛
- په یوه مشخص لیدلوري سره ژر تر ژره هڅه وکړئ ترڅو په افغانستان کې بشري ناورین پای ته ورسېږي او اقتصاد بېرته خپل بشپړ عملکرد ته راوګرځي، او د دې ترڅنګ د افغان اړمنو کسانو لپاره د بشردوستانه مرستو چمتو کولو ته دوام ورکړئ تر څو د ښځو او نجونو په شمول، د ټولو اړمنو افغانانو اړتیاوې پوره شي؛
- په همغږه او ګړندۍ توګه داسې لارې چارې تشخیص او عملي کړئ چې پرته له دې چې افغان خلک متضرر شي، په طالبانو باندې اغېزه وکړي او فشار پرې راوړي – لکه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا په سفرونو باندې هدفي بندیزونه – ترڅو طالبان د ښځو او نجونو د حقونو تر پښو لاندې کول متوقف کړي او دا واضح کړي چې د دې اقداماتو د ترسره کولو لپاره د هغوی پالیسي اړینه ده؛
- د طالبانو له هغو غړو څخه د سفر بندیزونه مه لرې کوئ چې د ښځو او نجونو د حقونو د نقض مسؤول دي او یا یې د ښځو او نجونو پر وړاندې تبعیضي پالیسۍ لرلې خو لیکن په خپلو موخو کې نه دي بریالي شوي؛
- له هغو ډلو سره مالي مرستې چې د خپلو حقونو یا د ښځو او نجونو د حقونو لپاره مبارزه کوي. مثلاً، د تعلیم په هغو برخو کې مالي مرسته وکړئ چې نجونو په مقابل کې تبعیض نه کوي او همدارنګه له هغوی ولایاتو سره مرسته وکړئ چې هلته د نجونو متوسطه او عالي ښوونځي پرانیستي دي؛
- له هغو نجونو سره د زده کړې په برخه کې مالي مرسته وکړئ چې له ښوونځیو څخه منعه شوې دي؛
- ټولو هغو افغان ښځو او نجنونو ته په نړیواله کچه د محافظت خدمات برابر کړې چې له افغانستان څخه بهر دي؛
- دریم هېواد ته د تخلیې لپاره هغو ښځو ته لومړیتوب ورکړئ چې د جنسیتي خشونت قربانیانې دي او یا د دې قربانیانو د خدماتو په سیستم کې دنده ترسره کړې او نه شي کولی په افغانستان کې په خوندي ډول ژوند وکړي؛
- د جنسیتي خشونت قربانیانو ته په دریمو هېوادونو کې د استوګنې چارې اسانه کړئ؛
- طابانو وهڅوئ ترڅو په خپلو توقیفي مرکزونو کې بین المللي ناظرینو ته اجازه ورکړي، او داړ ترلاسه کړئ چې دا ناظرین کولی شي پرته له مهالوېش څخه د توقیف خونو له منځ څخه لیدنه وکړي؛
- د یونما د بشري حقونو خدماتو ته په کافي اندازه د استخدام سرچینې ورکړئ ترڅو وکولی شي د ۲۰۲۲ د مارچ میاشتې د فرمان په تعقیب سره د بشري حقونو د نقض د پېښو نظارت، مستندول او وکالت ترسره کړي؛
- د افغانستان د څېړنې په هکله د نړیوالې جرمي محکمې څخه سیاسي او عملي ملاتړ وکړئ او هغوی ته کافي سرچینې چمتو کړئ ترڅو د څېړونکي دفتر وکولی شي په افغانستان کې د هر ډلې له خوا هر ډول ترسره شوي جرمونه وڅېړي؛
- د جهاني صلاحیت له اصولو وروسته، ډاډ ترلاسه کړئ چې په افغانستان کې جرمونه په ملي کچه څېړل کېږي او تعقیبېږي، په ځانګړي ډول هغه جرمونه چې د ښځو او نجونو پر وړاندې ترسره کېږي.

د جرم د نړیوالې محکمې د څېړونکي دفتر ته:

- په افغانستان کې د هرې ډلې او صلاحیت لرونکي له خوا د ترسره شویو جرمونو په هکله ګړندۍ څېړنه ترسره کړئ.

د ملګرو ملتونو اداراتو، په افغانستان کې ملي او بین المللي ادارتو او نړیوالو ډونرانو ته:

- د ښځو د محلي فعالانو د ټولنو سره په مشورې، په راتلونکي کې د مالي مرستو د توزیع لپاره یوه پلان جوړ کړئ او دې فعالانو ته د دې مرستو د توزیع د نظارت او مسؤلیت په برخه کې ونډه ورکړئ ترڅو ډاډ حاصل شي چې پلان د ښځو او نجونو لپاره په بشپړ او مؤثر ډول تطبیقېږي او اړینې سرچینو ترلاسه کېږي؛
- له هغو مراکزو څخه مالي ملاتړ وکړئ چې د جنسیتي تبعیض قربانیانو ته خدمات وړاندې کوي لکه د امن خونې، او په طالبانو باندې فشار راوړئ ترڅو د دې قربانیانو د ساتنې او ملاتړ لپاره بېرته پخواني سیستمونه فعال کړي؛
- په افغانستان کې د ښځو د حقونو له سازمانونو څخه مالي ملاتړ وکړئ او دې ملاتړ ته د درخواست پروسه ساده او د لاسرسي وړ جوړه کړئ او له دې سازمانانو سره انعطاف پذیره همکاري وکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دوی خپلو مشتریانو او کارمندانو ته په خوندي ډول خدمات وړاندې کوي؛
- طابانو وهڅوئ ترڅو په خپلو توقیفي مرکزونو کې بین المللي ناظرینو ته اجازه ورکړي، او ډاډ ترلاسه کړئ چې دا ناظرین کولی شي پرته له مهالوېش څخه د توقیف خونو له منځ څخه لیدنه وکړي؛
- د کم عمره، له وخته مخکې او اجباري ودونو په هکله په ملي کچه ارزونه ترسره کړئ او په دې برخه کې د ۲۰۲۱ د اګسټ راهیسې هر ډول بدلون په ګوته کړئ؛
- د افغان ښځو او نجونو په مشوره یو جامع، حقوق محوره او په محلي توګه مرتبط پلان جوړ کړئ ترڅو د هغې له مخې کم عمره، له وخته مخکې او اجباري ودونو ته رسیدګي وشي، او د همدې ودونو د تشخیص او رسیدګی لپاره د مالي مرستو پروګرام جوړ کړئ؛
- په افغانستان کې دننه د ښځو د حقونو د سیمه ییزو فعالانو او ډلو سره او په بهر کې د میشتو کارپوهانو سره په منظمه مشوره باندې کار وکړئ. د دوی نظرونه په پروګرامونو او پالیسیو کې شامل کړئ او په نړیواله پالیسۍ او مدافعي فعالیتونو کې د دوی د با مفهومه ګډون ملاتړ وکړئ.

د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا، د ملګرو ملتونو د ځانګړو پروسیجرونو او د بشري حقونو شورا ته:

- د ملګرو ملتونو ادارې او استازي تشویق کړئ ترڅو په افغانستان کې د ښځو او نجونو د حالت نظارت ته دوام ورکړي او د هغوی د حقونو د نقض په صورت کې خپل غبر پورته کړي، دا کار دې د یونما د بشري حقونو د خدماتو او په افغانستان کې د بشري حقونو د ځانګړي ریپوټ ورکوونکي په همغږۍ سره ترسره کړي. دا ادارې او استازي کېدی شي په لاندې ډول وي: په قانون او عمل کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تبعیض ګروپ؛ د ښځو پر وړاندې د خشونت په هکله ځانګړی ریپوټ ورکوونکی؛ د سوله ییزو خونډو او راټولېدو د آزادۍ د حقونو په هکله ځانګړی ریپوټ ورکوونکی؛ د جنسي خشونت لپاره د عمومي سرمنشي ځانګړی استازی؛ او د ماشومانو د بندي کولو په برخه کې د عمومي سرمنشي ځانګړی استازی؛
- طابانو وهڅوئ ترڅو په خپلو توقیفي مرکزونو کې بین المللي ناظرینو ته اجازه ورکړي، او ډاډ ترلاسه کړئ چې دا ناظرین کولی شي پرته له مهالوېش څخه د توقیف خونو له منځ څخه لیدنه وکړي؛

د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي ته:

- افغانستان ته راشئ او په طالبانو باندې فشار راوړئ ترڅو د ښځو او نجونو حقوق تأمین کړي؛
- د افغانستان لپاره د عمومي سرمنشي ځانګړي استازي ته هدایت ورکړئ چې په طالبانو باندې فشار راوړي ترڅو هڅوی د ښځو او نجونو حقوق تأمین کړي؛

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته:

- د امنیت شورا دې په افغانستان کې د ښځو او نجونو د وضعیت په اړه پلان جوړ کړي ترڅو د یو لړ کلکو ګامونو په ګډون یو پریکړه لیک تصویب کړي؛

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا ته:

- په افغانستان کې د وضعیت په اړه خپلو خبرو ته ادامه ورکړئ او په افغانستان کې له بشري حقونو څخه د جدي سرغړونو لپاره د حساب ورکونې د ملاتړ لپاره کوټلي ګامونه پورته کړئ؛
- په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په هکله د ملګرو ملتونو د ځانګړي ربپوټ ورکوونکي له مأموریت څخه ملاتړ وکړئ، پیاوړی یې کړئ او مالي مرسته ورسره وکړئ؛
- د بشري حقونو د عالي کمېشنرۍ له خوا د افغانستان په اړه د راپور ورکولو مأموریت پیاوړی او ګړندی کړئ؛
- د شورا د ۵۰مې جلسې په ترڅ کې یوه بېړنۍ غونډه جوړه کړئ او د شورا د ۵۱مې جلسې لپاره د تعاملي بحث یو مهالوېش جوړ کړئ ترڅو په افغانستان کې بشري حقونو او د ښځو او نجونو حقونو ته د ریسدګۍ لپاره کوټلي ګامونه واخلي.

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په هکله ځانګړي ربپوټ ورکوونکي ته:

- د بشري حقونو له ملي او بین المللي سازمانونو سره خپلو تعاملاتو ته دوام ورکړئ ترڅو په دوره یي ډول لنډېزونه ترلاسه کړئ او وکولی شئ د یو بل په همکارۍ سره کلیدي ستونزې حل کړئ؛
- د بشري حقونو شورا د عاجل، خپلواک، او د لومړنۍ بیړنۍ بیاکتنې په پام کې نیولو سره، او د نورو نړیوالو میکانیزمونو سره په نږدې همکارۍ د ادعا شویو سرغړونو په اړه د ټولو اړونده اړخونو څخه معلومات وغواړئ، ترلاسه یې کړئ، ویې ارزوئ او له مخې یې مناسب اقدامات ترسره کړئ، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو په اړه. د ټولو ادعا شویو سرغړونو او بشري حقونو څخه بې طرفه بیاکتنه یا څېړنه ترسره کړئ ترڅو معافیت پای ته ورسېږي، حساب ورکونه یقیني شي او مجرمین عدالت ته تسلیم کړی شي؛
- په هیواد کې د څېړنې او څارنې د ترسره کولو لپاره د غیر دولتي موسسو په ګډون د نړیوالو سازمانونو لخوا د ملاتړ غوښتنه وکړئ؛
- په افغانستان کې د ښځو او نجونو د وضعیت په اړه روانې او مفصلې څېړنې ترسره کړئ، د دې موضوع په اړه یو هراړخیز راپور خپور کړئ او د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه په مکرر ډول خبرې اترې وکړئ؛
- د نړیوالو بشري حقونو د لارښووونو مطابق، د ملګرو ملتونو سره مرسته وکړئ ترڅو په افغانستان کې د اړوندو چارواکو سره د افغانستان د مکلفیتونو په پوره کولو کې ګډون ولرئ، مثلا د ښځو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو په اړه د ملګرو ملتونو کمېټه او د ماشومانو د حقونو کمېټه؛
- د بشري حقونو د محلي سازمانونو څخه ملاتړ وکړئ او تسهیل یې کړئ، په ځانګړي ډول هغه چې د ښځو له خوا رهبري کېږي.

د بښنې نړیوال سازمان
د بشري حقونو لپاره
یو نړیوال خوځښت دی.
کله چې له یو تن سره
بې عدالتي کېږي،
په موږ ټولو پورې اړه لري.

زموږ سره اړیکه ونیسئ

info@amnesty.org

+44 (0)20 7413 5500

په محاوره کې ګډون وکړئ

www.facebook.com/AmnestyGlobal

@Amnesty

تدريجي مرګ

ښځې او نجونې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې

طالبانو له يوه کال څخه په کم وخت کې په افغانستان کې د ښځو او نجونو حقونو ته بېسارې زيانونه رسولي دي. هغوی د ښځو او نجونو د تعليم، کار او آزادو حرکتونو حقوق نقض کړي دي؛ د هغو ښځو لپاره يې د ملاتړ سيستم له منځه وړی چې له کورني تاوتريخوالي څخه تښتي؛ هغه ښځې او نجونې په خپل سر بندي کوي چې د طالبانو تبعيضي قوانين نه مني؛ او د وخته مخکې، کم عمره او اجباري ودونو په کچه کې يې بېسارې زياتوالی راوستلی دی. هغه ښځې چې د دوی د پاليسيو او محدوديتونو پر وړاندې سوله ييز لاريونونه کوي ځوروي، ګواښي يې، بندي کوي يې، جبرا يې له صحنې ورکوي او په خودسرانه ډول يې شکنجه کوي.

دا راپور د ۹۰ افغان مېرمنو او۱۱ نجونو، د طالبانو د توقيف خونو د شپږو اوسنيو او پخوانيو کارمندانو، او د ملګرو ملتونو او نورو بين المللي نادولتي مؤسسو د ۲۲ کارمندانو د مرکې له مخې جوړ شوی دی. دا څېړنه په افغانستان کې د ۲۰۲۲ کال په مارچ مياشت کې د حضوري مرکو او د د ۲۰۲۱ له سپټمبر څخه د ۲۰۲۲ تر جون پورې د مجازي مرکو له طريقه ترسره شوې وه.

د طالبانو وحشي پاليسيو ميليونونه ښځې او نجونې د خوندي، آزاد او خپوالک ژوند له لرلو څخه محرومې کړې دي. نړيواله ټولنه بايد طالبانو ته واضح، همغږي او مظبوط پيغامونه واستوي او څرګنده کړي ورته چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د هغوی اوسنۍ پاليسۍ هېڅ وخت د منلو وړ نه دي، همدارنګه طالبانو ته بايد د هغوی د کړنو پايلې ووايي او په دې برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

شاخص: ASA 11/5685/2022 Pastho
جولای ۲۰۲۲

amnesty.org